قطر ترسره کوي
د مهاجرينو خلاصون

د اردن بحري ځواکونه
د اوبو لارې محافظت کوي

د يمن د ارضي
تماميت محافظت کول

UNIPATH

خوندي کول
مجازي فضا

یوه قزاقي میرمن په 2022 مارچ کې په الماتي کې د پسرلي د پیل نښې پخوانۍ رخصتۍ ورځ، نوروز لمانځي. رویترز

متحده عربي اماراتو په 2022
فبروري کې په دوبۍ کې
د راتلونکي میوزیم رسمي
پرانیستې کوربه توب کوي.

ای ایف پي/ګیټي انځورونه

د مینځپانګو نومړۍ



په پوښ باندې:
د دفاعي رول په لړکې، اردوګانې باید د مجازي بریدونو او په انټرنیټ کې د تروریستانو د استخدام پر وړاندې ټولنه محافظت کړي. د یونیپث انځور

UNIPATH

خوندي کول مجازي فضا

ټوک 11، شمیره 4

د مرکزي قوماندانۍ قوماندان

جنرال میکایل "ایریک" کوریلا
د متحده ایالاتو پوځ

د اړیکو معلومات

Unipath
c/o Commander
U.S. Central Command
7115 S. Boundary Blvd.
MacDill AFB, FL 33621
USA

CENTCOM.
UNIPATH@MAIL.MIL

یونیپث یوه مسلکي نظامي مجله ده، چې په منځني ختیځ او د جنوبي او مرکزي آسیا سیمه کې د نظامي پرسونلو لپاره د بحث د نړیوالې وسیلې په توګه د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندانۍ له لورې په درېیو میاشتو کې یو ځل خپرېږي. هغه اندونه او نظرونه، چې په دې مجله کې خپرېږي، په مستقیم ډول د دغې قوماندانۍ او یا د متحده ایالاتو د کومې بلې اداري د پالیسیو او لیدلوریو ځرګندونه نه کوي. ټاکل شوي مقالې د یونیپث د کارکوونکو له لورې لیکل شوي او له اړتیا سره سم نورې منځپانګې ته پکې اعتبار ورکول کیږي. د متحده ایالاتو د دفاع وزارت ټاکلې، چې د دغې مجلې خپرول، د قانون له مخې د دفاع وزارت له اړتیاوو سره سم، د عامه چارو ترسره کولو لپاره اړین ګام دی.

د لوړپوړي مشر پیغام

زه د متحده آیالاتو د مرکزي قوماندې څخه منه کوم چې د مجازي فضا محافظت ته مختص شوې د یونیپث مجلې د دې ګڼې لپاره سرمقالې لیکلو فرصت یې ما ته راکړ.

هرځومره چې نړۍ پرمختګ کوي او په ټیکنالوژي تکیه کوي، هغومره د ګډوډۍ خطر ډیریږي که چیرې هغه کمپیوټرونه او سرورونه تخریب شي چې انلاین زیربنا کنټرولوي. پدې کې ټرانسپورت، بریښنا، ګاز، تصفیه خونې یا د بانکونو لخوا مالي خدمتونه، د اسهامو تبادله او مالي مرکزونه شامل دي هغه که د کوم عامل له امله یا هم د طبیعي ناورین له امله پیښ شي. دا د ویرونکي خوبونو په څیر کیدی شي او په واقعیت کې د ډبرو پیر ته د نړۍ د ستنیدو معنې درلودلی شي.

د سرور ناسم فعالیت چې د ټیکنالوژي ځینې سترو شرکتونو او د ټولنیزو شبکو سایټونو او غوښتلیکونو پورې تړاو لري ښیئ چې نړۍ څومره کمزورې ده، او خلک یې د یوازیتوب، جلا شوي او د تشې احساس کوي. دا په ټولنیزو رسنیو زموږ د اتکا وسعت ښکاره کوي او موږ د داسې ګواښونو سره مخ کوي چې زموږ شتون د خطر سره مخ کوي، او د هغه ګواښونو په تړاو چې موږ ورته باید چمتو اوسو، موږ د "شتون یا نه شتون" وضعیت سره مخ کوي.

شاید د کرونا ویروس وبا او د دې وژونکي پایلو په ټولنیز واټن تاکید، د لیرې لارې ارتباطاتو کارولو ته لیوالتیا، او د بصري، غږیز، او نورو کاریالونو د رواج موندلو له امله د خلکو ترمینځ ویره ډیره کړې وي. دې کار د مجازي فضا محافظت کولو په اړه اندیښنې ډیرې کړي دي: پخپله د طبعیت سره دې مخامخ کیدو کې، د مجازي فضا امنیت د انسانیت د سالمیت ساتلو لپاره حیاتي جګړه ګرځیدلې.

نړۍ باید د دې سناریوګانو لپاره چمتو شي، او نړیواله جګړه یې وکښي چې باید ورسره مخامخ شي. د اردو ګانو او لښکرو رول نور یوازې بالقوه ګواښونو سره مخ کیدو پورې محدود ندی بلکه د راپورته کیدونکي ګواښونو د وړاندوینې لپاره د مناسب پلانونو پرځای کولو لپاره لیوالتیاو او لارو چارو مطالعه کول پکې شامل وي، چې د دغو ترمینځ لومړی یې د بشري ټمدن لپاره د مجازي فضا خوندي کول دي. دا یوه حیاتي مسله ګرځیدلې: موږ باید مجازي فضا د ټولو لازمي وسایلو په مرسته محافظت کړو.

په مجازي جګړو کې د دولتونو جاسوسي کول، د سوداګرۍ او نظامي رازونو غلا کول، د حیاتي زیربنا او وسلو سیسټمونو چلولو لپاره مسؤل کمپیوټرونو باندې برید کول، حساس امنیتي او اقتصادي معلوماتو ته لاسرسی درلودل، او د دښمن دولتونو مهم خدماتي یا د ملي امنیت تاسیساتو هدف ګرځول شامل دي.

د جګړې دا راپورته کیدونکی ډول د ځمکنۍ، هوایی او بحري محاربې ډګرونو څخه ورهاخوا ځي. د دې بریدونو سره مبارزه کولو لپاره ټول دولتي نهادونه اړ دي همغږي هڅې وکړي ترڅو د داسې یوه پیاوړي دفاعي سیسټم لپاره کار وکړي چې ورننوتل ورته مشکل وي.

په تیر وخت کې، انساني پوهه د لسیزو او پیړیو په اوږدو کې څو برابره شوې. مګر اوس، د معلوماتو انقلاب څخه په منني، دا د پوهې څو چنده کیدل په ساعتونو کې پیښیږي، او دا ثابت او چټک پرمختګ چې هره ورځ یې نړۍ کوي د ځان سره ګواښونه او همدارنګه فرصتونه هم لري.

د ډیجیټل پیر اړخیز محصول د ځینې حکومتونو، سازمانونو او افرادو د ټیکنالوژۍ څخه ناوړه ګټه اخیستنې میلان کې پروت دی، چې د نړیوالې اجماع نه شتون څخه په ګټې اخیستنې د بشري حقونو او نړیوالو تړونونو او منشورونو څخه په بشپړ سرغړونې سره له دې ناوړه کار اخلي. پدې لړ کې اړتیا ده د نړیوالې ټولنې نهادونه د ټیکنالوژیکي لاسته راوړنو محافظت کولو او د بدعمله عناصرو، دواړه حکومتي او انفرادي عناصرو څخه د دغو محافظت کولو مسؤلیت په غاړه واخلي، او د غیرقانوني دولتونو، سازمانونو او یا افرادو د څارنې، او د نړیوال قانون په واسطه د دغو د تعقیب او مجازاتو لپاره د یوه نهاد رامینځته کولو لپاره کار وکړي.

په کویټ هیواد کې موږ د مجازي فضا امنیت مسله جدي ګڼو. د وزیرانو شورا، د 2021 میی په 21 خپله ناسته کې، د مجازي امنیت ملي مرکز تاسیس تصویب کړ او د بهرنیو چارو وزیر او د کابینې د چارو لپاره د دولت وزیر ته یې دنده وسپارله چې د یو شمیر وزارتونو او پدې برخه کې د فعال دولتي نهادونو سره په همغږۍ د مرکز رسمي اعلانولو لپاره د فرمان مسوده چمتو کړي.

دا مرکز د نړیوال مجازي ګډوډۍ پرمهال پیښیدونکي بریدونو څخه د مجازي فضا د محافظت لپاره د ټولو دولتي نهادونو همغږي او ګډې هڅې سمبالوي.

دا همدارنګه د ټولو داخلي نهادونو څخه غواړي چې د خپلو شبکو په خوندي کولو سره یو تاکتیکي هدف او یو ستراتیژیک هدف ولري، کوم چې د دولت مجازي فضا محافظت کولو کې برخه اخیستل او د مجازي فضا د ملي مرکز د چټر لاندې د ګډ نهاد په توګه عمل کول دي.

د دفاع وزارت په سطح، د کویټ اردو او د متحده آیالاتو د مرکزي قوماندې ترمینځ د معلوماتو د امنیت ټیکنالوژي په برخه کې مشارکت د نړیوالې همکارۍ هیله بخښونکی مثال دی. منظم روزنیز کورسونه، ورکشاپونه او ګډ فعالیتونه د خطرونو کمولو او د معلوماتو د امنیت سیسټمونو او د داخلي شبکو محافظت کولو لپاره په لاره اچول کیږي.

مجازي امنیت یوازې د یوه هیواد کار ندی، بلکه د نړیوالو شریکانو ائتلاف په مرسته بشپړیږي څوک چې ټیکنالوژي لري او پوهیږي چې څنګه د کمپیوټر سیسټمونو ته چې نړۍ او بشري ټمدن ورپورې تړلی دی، بدلیدونکي ګواښونو سره تل مبارزه وکړي

تورن جنرال محمد عقله ال عنیزي،

د کویټ د اردو د سیګنال قل اردو قوماندان

تولیزه دفاع:

د متحده آیالاتو د مجازي قوماندې لیدولری

تورن جنرال چارلس مور، د متحده آیالاتو د مجازي قوماندې مرستیال قوماندان

په 2020 نومبر کې، د 158 میلیون څخه ډیرو امریکایانو زمونږ ملي ټاکنو کې رایه ورکړه. دا چې زمونږ دموکراتیک جمهوریت لپاره رایه ورکول بنسټ دی، امریکایان باید اعتماد ولري چې زمونږ د ټاکنو پروسې او پایلې د بهرنۍ مداخلې څخه پاکې دي او دا چې په رایه ورکونکو د اغیزې لپاره بهرنۍ پټې هڅې له مینځه وړل شوي دي. څلور کلونه مخکې، مخرب مجازي لوبغاړو هڅه وکړه په مجازي فضا کې د عملیاتو په کارولو سره رایه ورکونکو باندې اغیزه وکړي.

د 2018 او 2020 کلونو د ملي ټاکنو پرمهال د ورته فعالیتونو مخنیوي ته ژمن، د متحده آیالاتو حکومت کې ادارو د ګواښونو پیژندلو، معلوماتو شریکولو او د کړنو همغږي کولو لپاره یو د متقابل عمل او تعاوني ټیم جوړ کړ. پدې ادارو کې د مجازي امنیت او زیربنا امنیت اداره، د فدرال د تحقیقاتو دفتر، د ملي امنیت اداره، او د متحده آیالاتو دمجازي قوماندې شامل و.

علاوه لدې، ټیم د خپلو هڅو پرمخ وړلو لپاره د متحد هیوادونو او د صنعت شریکانو سره له نږدې کار وکړ. دا د جمعي دفاع د نوعیت یو مثال دی چې په ټوله کې زمونږ د دموکراتیکو پروسو او ملت خوندیتوب لپاره اړین دی.

په مجازي فضا کې زمونږ د ملت دفاع کولو لپاره، د متحده آیالاتو د مجازي فضا قوماندې د "مخته دفاع" ستراتیژیک او عملیاتي طریقه پلي کوي. د مجازي فضا برخې د میراثي نړیوال څرنګوالي له امله، زمونږ ملت ته د ګواښونو اکثریت په بهرنۍ مجازي فضا کې راپیدا کیږي چې د سړې فضا په نوم هم پیژندل کیږي. د 21مې پیړۍ ګواښونو سره مبارزه کول سرعت او چالاکۍ – او مشارکتونو ته اړتیا لري ــ ترڅو په سره فضا کې دښمنان ولټوي او پیدا کړي مخکې لدې چې هغوی وکولی شي متحده آیالاتو او د متحد ډیټا سیستمونو، وسلو سیستمونو او شبکو ته زیان ورسوي.

په ساده ټکو کې، مونږ غواړو د غشو څخه د ځان بچ کولو پرځای غشه ویشتونکی په نښه کوو. زمونږ د عملیاتو پرمهال راټولیدونکي استخبارات هم ادارو او شریکانو او متحدینو سره شریکیږي ترڅو د ممکن ګواښونو عام وضعیتي پوهاوی رامینځته، د هڅو عالي یووالی شونی شي او یو متحد او هم مهاله شوی ځواب شونی شي.

ډګر جنرال چارلس موری

د جګړې نورو برخو کې زمونږ د هڅو سره ورته، یووالی په مجازي فضا کې زمونږ بریا لپاره مهم دی، او مشارکتونه د دې هڅې لپاره لازم دي. دا حیرانونکی ندی، د همدې لپاره، مشارکت د متحده آیالاتو د ملي دفاع ستراتیژۍ او د متحده آیالاتو د مجازي فضا قوماندې د ستراتیژیک لیدلوري خورا مهمه برخه ده. دا چې مجازي فضا د عصري ټولنې ټولو برخو کې شتون لري، د دې دفاع کولو ته د "نهایی ټیمي ورزش" په توګه کتل کیږي. دا خورا مهم دي چې مونږ په حکومت کې زمونږ شراکتونه رامینځته کړو، وده ورکړو او ستر بې کړو ترڅو په دایمي او تعاوني هڅو کې ټلوالي، صنعتونه، او اکاډمیک برخه شامل کړو.

یوه لاره چې د متحده آیالاتو د مجازي فضا قوماندې پکې د جمعي دفاع کاري چوکاټ لاندې مشارکتونه رامینځته کوي هغه د سکار مخکښ عملیات (ایچ. ایف.او) دي. د یوه شریک هیواد په بلنه، مونږ د مهارت لرونکي مجازي فضا

یو امریکایي په 2020 کې په نیویارک کې رایه ورکولو ته روان دی. د بهرنۍ مداخلې څخه د ټاکنو خوندي کول د متحده آیالاتو د مجازي فضا قوماندې د ماموریت برخه ده. ګیټي انځورونه.

ګیټي انځورونه

جنګیالیو ټیم ګومارو څوک چې د شریک شبکو کې د ناوړه مجازي فعالیتونو ښکار کولو کې تخصص لري. د دې هڅې په لړ کې، زموږ مجازي ټیمونه ارزښت لرونکي اطلاعات راټولوي او زموږ خپلو شبکو ته احتمالي ګواښونه په ګوته کوي پداسې حال کې چې په هم مهاله ډول کوربه هیواد ته ورټیا ورکوي د خپلې شبکې دفاع او مقاومت ښه کړي.

د هرځل ښکار مخکښ عملیاتو په پایله کې، ټیم کوربه هیواد ته د هغوی د عیبونو او همدارنګه د خپلو شبکو د هیکینګ څخه مخنیوي لپاره ستراتیژیانو په اړه یو راپور لیږي. کوم معلومات چې ټیم د دښمن تاکتیکونو، تخنیکونو او طرزالعملونو (ټي.ټي.پي) په اړه راټولوي، همدارنګه د ملویر برید شواهد د سیسټمونو مشکل سره مخ کولو لپاره، د نړیوال مجازي امنیت شرکت سره هم شریکیږي. په ځینې مواردو کې، د ښکار مخکښ عملیاتو د ملویر داسې بیلګې رانیولې چې د متحده آیالاتو د مجازي فضا قوماندې یې په عام ډول ښکاره کولی شي ترڅو کورنۍ او ملګرې شبکې په غوره ډول وکړی شي د راتلونکي سازشونو پر وړاندې غوره دفاع وکړي. د ښکار مخکښ عملیات په 2018 کې زموږ د ټاکنو د دفاع هڅو په لړ کې پیل شو او اوس په ټوله نړۍ کې ترسره کیږي.

د جمعي دفاع لپاره زموږ د مشارکتونو ښه کولو یوه اضافي لاره د همکارۍ ورټیا او د چمتو والي رامینځته کول دي. لکه د نورو نظامي عملیاتو په څیر، دا خورا مهم دي چې متحد او ملګري هیوادونه په دوامداره ډول یوځای روزنه وکړي ترڅو د یوبل پیاوړتیاو، ضعفونو او د تاکتیکونو، تکنیکونو او طرزالعملونو سره اشنا شي. زموږ موخه یو موټی یوځای فعالیت کول دي.

په 2021 نومبر کې، د متحده آیالاتو مجازي فضا قوماندې تر نن نیټې پورې خپل د تر ټولو ستر ګډ او څو میلیتي مجازي تمرین، سایبر فلیګ 21-1 کوربه توب وکړ. د تمرینونو دا لړۍ د 23 هیوادونو څخه د 200 څخه ډیر د مجازي جنګیالیو دفاعي مهارتونه او ورټیاوې د ننګونکي مجازي فضا سناریو سره د هغوی د مخ کولو په واسطه ازموي او وده ورکوي. دې تمرینونو سره، موږ د ائتلاف لازمي کیفیتونه پیاوړي کوو ــــ سرعت، دقت، چالاکي او د هڅو یووالی ــ ترڅو په جمعي ډول زموږ د هیوادونو دفاع وکړي.

په مجازي فضا کې کافي دفاع د خصوصي صنعت سره نږدې مشارکت ته هم اړتیا لري. د متحده آیالاتو د مجازي فضا قوماندې د دوه لومړني پروګرامونو له لارې د خصوصي سیکتور سره راکړه ورکړه کوي: د مشورې لاندې او ډریم پورټ. د مشورې لاندې یو ښکاره، رضاکار او دوه اړخیز ګټور د خصوصي سیکتور د معلوماتو شریکولو پروګرام دی. ډریم پورټ یو غیر محرم د نوښت مرکز دی چې له مخې د متحده آیالاتو د مجازي فضا قوماندې د مجازي امنیت ستونزو ته د نوښتي حلونو وړاندې کولو او د نظرونو شریکولو لپاره د دې صنعت غړو او د اکاډمیا سره راکړه ورکړه کوي. دواړه پروګرامونه په مجازي فضا کې زموږ د هیواد دفاع لپاره مستقیم د متحده آیالاتو د مجازي فضا قوماندې ورټیا کې ونډه لري او د طرحې او مقیاس له مخې ودې ته دوام ورکوي.

ډریم پورټ د هغه لارو څخه یوازې یوه لاره ده چې د متحده آیالاتو مجازي فضا قوماندې د اکاډمیا سره زموږ شراکتونو باندې په کاروي. دې قوماندې پدې وروستیو کې د 91 نهادونو سره د اکاډمیک بوختیا رسمي شبکه تاسیس کړې. دا شبکه به تکنیکي ننګونو ته نوښتي حلونو په اړه همکاري شونې کړي، د مخرب مجازي لوبغاړو په اړه نوي تحلیلي لیدلوري، او زموږ جمعي دفاع هڅې ملاتړ کوي. دا شبکه به شته نظامي او ملکي مجازي امنیت بستونو کې د خدمت کولو په موخه د زده کونکو لپاره د فرصتونو راښکاره کولو په واسطه د کاري ځواک ګومارنه هم ښه کړي.

په نهایت کې، د متحده آیالاتو د دفاع وزارت شبکو او زموږ د هیواد دفاع ورټیا په ټوله کې د مخرب مجازي لوبغاړو پر وړاندې جمعي طریقې ته اړتیا لري. دا جمعي طریقه د حکومتي ادارو، زموږ د متحدینو، صنعت او اکاډمیا ترمینځ نږدې مشارکت ته اړتیا لري.

په یو موټی او چټک ډول د معلوماتو شریکولو، یوځای په دوامداره ډول د عملیاتو روزنې او پرمخ وړلو، او زموږ ټولو د مجازي امنیت ننګونو ته د نوښتي طریقو لپاره زموږ ورټیا په 21مه پیړۍ کې د مجازي امنیت او د دفاع لپاره زموږ ماموریت په بریالیتوب سره اجرا کولو ورټیا لپاره حیاتي ده. ✦


مجازي
تاوتريخوالی
تروريستان، مجرمين او
ورانکاري دولتونه مجازي فضا
د ټولنې د بې ثباته کولو لپاره د
محاربې د ډګر په توګه کاروي
د يونيپټ انځور

انټرنیټ په نړیواله کچه غیرمتمرکز دی، کوم چې بې نومي توب ته لاره برابروي او د غیرقانوني فعالیتونو لپاره د یوه پلیټفارم په توګه د دې کارولو کې وندې لري، پشمول د ملکیت جرمونو او د تاوتریخوالي ډک افراطیت ترویج. د دا ډول حساسیت مخنیوې پر وړاندې ــ د افراطیانو او تروریستانو لخوا د انټرنیټ څخه ناوړه ګټه اخیستل ــ حکومتونه د دې مجرمینو د مخنیوي لپاره ننګونو سره مخ کیږي چې د دولت مشروعیت ترپوښتنې لاندې راولي او د تاوتریخوالي اعمال ترسره کوي.

مجازي تروریزم ډیری حکومتونو ته 1 نمبر ملي ګواښ دی؛ دا په معلوماتي ټیکنالوژۍ د نړیوالې اتکا له امله خورا ستر زیان پیښوي. د مجازي تروریزم اصلي هدفونه حکومتونه او هغوی پورې اړوند نهادونه، بانکونه، د ارتباطاتو زیربنا، او عامه ټولګټې لکه اوبه، بریښنا، تیل او ګاز دي. په دوی باندې بریدونه د لوی اقتصادي، سیاسي او فزیکي زیان لامل کیدی شي.

مجازي تروریستي ګروپونه لاډیر ځیرک او همغږي شوي دي. هغوی د هرډول برید ملاتړ کولو لپاره د انټرنیټ سره وصل هر کمپیوټر څخه ګټه پورته کولی شي. د همدې لپاره، مجازي تروریزم لوی سازمانونو او کمپیوټر کاروونکي ټولو خلکو ته ګواښ ګرځیدلی دی.

مجازي عملیات د خو دلایلو لپاره تروریستان راجلبوي. دا د دودیز تروریستي میتودونو پرتله کم لګښت لري، د شخصي کمپیوټر ورهاخوا ډیر کم څه او د انټرنیټ اتصال ته اړتیا لري. د وسلو او چاودیدونکو توکو پیرلو ته هیڅ اړتیا نشته. د کمپیوټري ویرسونو جوړول او د دودیز تلیفون لیکو یا د بې سیم ارتباط له لارې انتقال یو خورا عما بریښنایی تروریستي میتود دی، او دا د فزیکي ټمونو هومره سیسټمونه فلج او اغیزه وربانديې کولی شي.

د مجازي وسلې تعریف لاهم مبهم دی. دا د مخرب موخو لپاره کارول کیدونکي د پروګرام کوډونو کدري برخه کاروي. د یوې وسلې او یوې وسیلې ترمینځ توپیر کولو کې باید د متخلف اراده په پام کې ونیول شي، کوم چې د تخریب یا ارعاب له لارې زیان رسول دي. دا د مجازي وسلې د تعریف نه جلا کیدونکې برخه ده.

د بیلګې په توګه، څټکی یوه وسیله ده چې د بیلابیل موخو لپاره کارول کیږي. که دا د بدن یا توکو د زیان لپاره وکارول شي، نو څټکی یوه خطرناکه وسله ګرځي. دا منطق د سافټویر کارولو باندې هم پلي کیدی شي، چې که څه په ځینې کارپالونو کې بې ضرره وي، کله چې ناسم وکارول شي تخریبونکې وسله ګرځي.

دا چې یوه مجازي وسله د څومره زیان لامل کیږي د هدف ګرځول شوي شبکې پورې تړلې نفوس سره تراو لري. پدې توګه، د حساس زیربنا لکه د بریښنایی شبکو هدف ګرځونکي مجازي وسلو اغیزې ډیرې شدید دي.

یو دایمي خطر شتون لري چې تروریستي سازمانونه به دا ډول وسلې ترلاسه کړي. د مثال په توګه، د شیډو بروکر په نوم یوې ډلې د متحده آیالاتو د ملي امنیت اداره هیک کړه او ادعا یې وکړه چې ملي مجازي وسلې یې د لیلام کولو لپاره غلا کړې دي. لدې جوتیږي چې مجازي وسلې ممکن د مجازي "وسلو پلورونکو" په واسطه د دودیز وسلو په ځیر سوداګري شي.

د ملویر سافټویر پروګرامونه د پروګرامیدو وړ وسیلې، خدمت یا شبکې ته زیان رسولو یا ورځخه ناوړه ګټه اخیستلو لپاره ډیزاین شوي د هر ډول سافټویر کارول کیدونکې اصطلاح ده. دا عموماً د مجازي مجرمینو لخوا د مالي ګټې لپاره د ډیټا د رایستلو په موخه کارول کیږي. د هدف لاندې ډیټا کې مالي او روغتیایی ریکارډ، د بریښنالیک پیغامونه او شخصي پاسورډونه شامل دي. د هیکینګ سره مخ معلوماتو ډولونه بې پای دي.

د بریدونو ډولونه

د صفر ورځې ګټه اخیستلو کارول – د یوه کمپیوټر سافټویر زیانمنیدل معلومول چې پیچ ورته نه وي جوړ شوی – یوه سیسټم ته د لاسرسي او زیان رسولو یو له تر ټولو ډیرو منحرف لارو څخه ده. دې زیانمنیدو څخه هیکران محدود کړی شوي معلوماتو ته لاسرسي لپاره ګټه اخیستلی شي، د ملویر او سپای ویر د جوړولو او کارولو سربیره.

د خدمت توزیعي رد بریدونه، د ډیټا غلا او نور بې اجازې ننوتل د بوټنیټ په واسطه ترسره کیدی شي. بوټنیټ یا بوټز څو وسیلې دي چې د انټرنیټ سره وصل وي؛ هره وسیله یو یا ډیر بوټز چلوي. برید کونکی کولی شي د قوماندې او کنټرول سافټویر په کارولو سره روبوټونه کنټرول کړي.

ویرسونه د ملویر پروګرام خورا بدنام او تر ټولو زاړه ډولونه دي. دا کمپیوټرونو یا فایلونو پورې نښلیدونکي پروګرامونه دي چې د نورو فایلونو یا کمپیوټرونو ککړولو لپاره څو چنده کیږي او ډیټا له مینځه وړلې یا حذف کولی شي. یو کمپیوټر ممکن تر هغه وخت پورې ککړ نه شي چې د خطر سره مخ پروګرام وچلوي، او ویروس تر هغه وخت پورې ویده پروت وي چې ککړ شوی فایل یا ضمیمه پرانیستل شي. ویرسونه د ګرځیدلو او د نورو فایلونو او سیسټمونو د ککړولو لپاره د کارونکي اینپوټ ته اړتیا لري، لکه په لیږونکي لیست کې د یوه ککړ پروګرام چلول.

تروریستان اکثر د منطق بمونو په نوم یادیدونکي د مجازي سبوتاژ یو ډول په کارولو سره قربانیانو باندې برید کوي، کوم چې د ځینې ځانګړي شرایطو په پوره کیدو سره د یوه مخرب فعالیت تنظیم کولو لپاره د سافټویر دننه کول دي. منطق بمونه د لږ زیان لرونکي لاملونو لپاره هم کارول کیدی شي لکه د پروګرامونو وړیا ازمیښت چې د دمخه ټاکل شوې مودې وروسته غیرفعال کیږي. تروریستان د منطق بمونو اهمیت باندې پوهیږي؛ د نړۍ ډیری زیربنا کمپیوټري شبکو پورې تړلې، او د منطق بمب بریدونو یوه ټاکلې لړۍ کولی شي ډیری نړیوال بانکداري او ټرانسپورټیشن سیسټمونه مختل کړي.

په ټولنیزو رسنیو کې د افراطي پلیټفارمونو پیژندل

د اسلامي پوځ د تروریزم ضد ایتلاف

آنلاین آنلاین ټولنیزې شبکې د ارتباطاتو مخکښ اجنټان ګڼ‌ګیدلي دي: فیس بوک څو ملیارده کارووونکي لري، یوټیوب 2.2 ملیارد کارووونکي، واټس اپ 2 ملیارد کارووونکي، میسنجر 1.3 ملیارد کارووونکي، او انسټاګرام 1.2 ملیارد کارووونکي لري. هره میاشت دا ډول پلیټفارمونو کې نږدې 4 ملیارد نفر ښکیل کیږي.

د ټولنیزو شبکو کارول لکه د واورې غونډاري په چټکۍ سره ادامه لري او د تاوتریخجن افراطیانو د جلب او ګومارنې غوره طریقه ده. د تروریزم سره مبارزې ته لیواله حکومتونه د ټولنیزو شبکو خطر له پامه غورځوي. هغوی باید د مصنوعي ذهانت (ای.آی) په ځیر نوي ټیکنالوژۍ آنلاین کمین ته ناست دې ایدیولوژیکي افراطیانو سره مبارزې لپاره وکاروي.

تروریزم او ټولنیزې شبکې

د برتانیا پخوانی د کورنیو چارو وزیر امبر رډ آنلاین افراطي مینځپانګې سره مبارزه د افراطیانو او د قانون نافذونکي ادارو ترمینځ د وسلو سیالۍ په توګه شرح کوي. رډ ښکاره کړه چې د 2017 نومبر پورې، تاوتریخجنو افراطیانو شاوخوا 40,000 نوي ویب سایټونه او غوښتنلیکونه جوړ کړي. لکه د هرډول وسلو د سیالۍ په ځیر، دا کار عصري ټیکنالوژیو ته اړتیا لري. د کنورسیشن ای.آی په نوم پیژندل کیدونکې نوې ټیکنالوژۍ.

کنورسیشن ای.آی یوه ځیرنیزه پروژه ده چې موخه یې د آنلاین افراطي مینځپانګې کشف کول او هرځومره ژر چې ممکن وي لیرې کول دي. د یادونې وړ ده دا ډول موخو ترلاسه کولو کې د ماشین زده کړې د داسې مینځپانګې کمولو کې د پام وړ ونډه درلودلې ده.

د ټیکنالوژۍ سترو مخکښ شرکتونو، مایکروسافټ، فیس بوک، امازون او ټویټر د کریسټ چرچ غږ په نوم پیژندل کیدونکي نړیوال نوښت لپاره د ملاتړ اعلان وکړ چې د آنلاین افراطي مینځپانګې سره د مبارزې استازولي کوي. دا شرکتونه په دوامداره ډول خپل د کارولو شرایطو تازه کولو ته بشپړه ژمنتیا ښئ او د افراطي مینځپانګې راپور ورکولو لپاره بیلابیل میتودونه چمتو کوي او په نظارتي ټیکنالوژیو کې پانګونه کوي.

د ملګرو ملتونو د تروریزم سره مبارزې کمیټې اجرایوي ریاست د تروریزم سره مبارزې ټیکنالوژي نوښت په لاره اچولی، کوم چې په فعال ډول د 20 څخه ډیرو مینځپانګې پلیټفارمونو او د پیغام لیږلو غوښتنلیکونو کې د 500 څخه ډیرو افراطي چینلونو څارنه کوي.

تروریستي سازمانونه د بیلابیل موخو لپاره ټولنیزې شبکې کاروي. هغوی لدې لارې پیسې راټولوي، جمعي شناخت پیاوړی کوي او هڅې یوځای کوي. دا ډول ډلې د یو لړ اهدافو ترلاسه کولو لپاره دا شبکې کاروي، د مینه والو ګومارل او د خپلې ایدیولوژۍ خپرول، د دا ډول شبکو د مجازي روزنې ډګر په توګه کارول پداسې حال کې چې مالي او اخلاقي ملاتړ ترلاسه کوي.

مصنوعي ذهانت

د مصنوعي ذهانت تکنیک د آنلاین افراطي مینځپانګې سره مبارزه کې پیدا کیدونکي ترټولو پیاوړې ټیکنالوژي ده. د فیس بوک په وینا، د القاعده او د داعش 99٪ مینځپانګه چې د فیس بوک څخه لیرې کړې شوې د مصنوعي ذهانت سیسټمونو په واسطه کشف شوې مخکې لدې چې د خلکو په واسطه کشف شي.

دې کار د سترې ډیټا نړۍ کې مصنوعي ذهانت د تروریزم سره مبارزې غوره وسله ګڼلې دی دا چې د افراطي او تروریستي مینځپانګې، د افراطي او تروریستي شکمن افرادو، او افراطي مجازي ټولنو کشف کولو اتومات وړتیا لري. مصنوعي ذهانت د راتلونکي تروریستي خطرونو وړاندوینه کوي، مخنیوی کوي او له مینځه یې وړي.

د شک د سیوري ورهاخوا، د مصنوعي ذهانت د تروریزم سره مبارزې پروګرامونه دقیق وړاندوینې زیږوي چې د ستر شمیر خلکو باندې پلي کیدونکي غیرلازمي کړنو کمولو پایله لري او پریکړه کولو کې د انسانانو طرفداري راکموي. مصنوعي ذهانت د ډیر دقت سره خپله توجه لارښود کوي، چې د نور نظارت سره مخ افرادو شمیر راکموي.

د مصنوعي ذهانت د تروریزم سره مبارزې وړاندوینه کونکي وړتیاوې تایید شوي دي. امنیتي او استخباراتي خدمتونه د هوای سفر خطرونو ارزولو او د تروریستي سازمانونو او د هغوی پورې اړوندو افرادو ترمینځ اړیکو نښکاره کولو لپاره د اتومات ډیټا تحلیل کاروي. ځینې د ټیکنالوژي شرکتونه د ټولنیزو رسنیو پلیټفارمونو کې د تروریستي فعالیتونو څارنې او مختل کولو لپاره د عالي وړاندوینې اقدامات کاروي همدارنګه د پیسو شکمن انتقالاتو د راپور ورکولو لپاره د مالي خدمتونو سیکتور کې مصنوعي ذهانت کاروي.

مصنوعي ذهانت همدارنګه د ټولنیزو شبکو تحلیل، د شکمنو او د هغوی د آنلاین اړیکو پیژندلو، د مشخصاتو له مخې د هغوی درجه بندي، د هغوی د ارتباطاتو اړیکو تحلیل، او په مجازي ټولنو کې د افراطي حساسیت کشف کولو لپاره کارول کیږي. د متحده آیالاتو د ملي امنیت اداره لخوا کارول شوي د سکای نیټ سافټویر پروګرام له لارې، چې د مصنوعي ذهانت الګوریتم پکې شامل دی، د 55 میلیون داخلي موبایل تلیفونونو کاروونکو څخه شاوخوا 15,000 د احتمالي تروریستانو په توګه وپیژندل شو.

فیس بوک د تروریستي مینځپانګې سره د مبارزې لپاره خپلې د مصنوعي ذهانت پالیسۍ ښې کړي دي' دې شرکت د هغه ویډیوګانو د پیژندلو لپاره اوسط وخت 12 ثانیو ته راکم کړی دی کومې چې په ژوندۍ خپرونه کې د فیس بوک د کارولو مقرراتو څخه سرغړونه کوي.

د پاچا سعود پوهنتون کې د مصنوعي ذهانت پروفیسر ډاکټر مجدال بن سلطان بن سفران وویل، د رادیکال مینځپانګې له مینځه وړلو لپاره بل تکنیک د طبیعي ژبې پروسس کولو ټیکنالوژۍ دي، کوم چې احتمالاً د آنلاین افراطي مینځپانګې سره د مبارزې مؤثریت ډیروي.

دا ډول ټیکنالوژۍ مور سره مرسته کوي وسیلو ته روزنه ورکړو چې د هغوی سره زمور ارتباطاتو باندې پوهه شي او د انساني مداخلت پرته په استثنایي ډول د لوی متن ګروپونو کې معلومات کشف کړي ترڅو د افراطیانو او تروریستانو په واسطه نوملړ شوي بیلابیل ژبنۍ بیلګې کشف کړي.

د مصنوعي ذهانت نتګونې

د آنلاین افراطي او تروریزم مینځپانګې سره مبارزه کې د مصنوعي ذهانت ټیکنالوژیو په واسطه د شوي پرمختګ سربیره، دا ډول ټیکنالوژۍ لاهم د ژبني مینځپانګې تحلیل ستونزو سره لاس او ګریوان دي، په ځانګړي توګه د هایبرایډ ژبو خپریدو سره لکه فرانکو، محاوره ای لهجې، او د غیرشفاهي سیګنالونو او انځورونو تحلیل. دا د خورا ستر او ډیر وده کړي مینځپانګې د ډیجیټل تحلیل باندې بشپړ تکیه د خنډ سره مخ کوي، کوم چې یوازې د انساني تجربو په واسطه نشي نظارت کیدی.

مور داسې بیلګو ته د لاسرسي لپاره اوږد مزل مخته لرو چې وکولی شي د ژبې تر شا پروت واقعیي، دقیق مفهوم باندې پوهه شي او د ټاکلي ټکو او عبارتونو د یادولو څخه ورهاخوا لاړ شي. مور باید په مفهومي ډول د ډیټا تفسیر کولو لپاره یو ګام مخته لاړ شو، کوم چې د آنلاین چلند پوهیدلو په برخه کې یو مهم عامل دی.

د دفاع او امنیتي مطالعاتو شاهي متحده خدمتونو انستیټیوټ کې د تروریزم او جګړې د تحقیق ګروپ کې تحلیلګر، کلاوډیا والنر، د تروریستي مینځپانګې لیرې کولو لپاره د اروپا اتحادیې نوي ستراتیژۍ بریا په اړه بدبین ده.

والنر دا موضوع شرح کوي چې د څو دلایلو لپاره محدود شونتیا لري، پشمول د قانوني تعریفونو د ننګونو له امله د افراطي یا تروریستي مینځپانګې ابهام. حکومتونه د تاوتریخجن افراطیت او تروریزم بدلیدونکي تعریفونه وړاندې کوي، پداسې حال کې چې ملي درجه بندي اکثر د فعال افراطي یا تروریستي ډلو یوازې یوه کوچنۍ برخه نوملړ کوي.

د افراطي مینځپانګې کشف کول خړ زون دی. ځینې وختونه د دې مشخص کول سخت وي چې څه افراطي دي او څه نه. د افراطي ډلو یا افرادو لخوا ځینې مینځپانګه کې د کرکې یا تاوتریخوالي په ملاتړ هیڅ ډول بیان یا تلقین شامل نه وي، بلکه د قار او نا رضایتۍ تغذیه کولو لپاره طنز او کنایه کاروي.

په خواشینۍ سره، د آنلاین افراطي مینځپانګې هدف ګرځول افراطیان او تروریستان دې ته اړ کوي چې لوی پلیټفارمونو ته ورکړه شي او پدغه پلیټفارمونو کې د میلیونونه سایټونو په مینځ کې پټ شي، چې دا کار د قانون تنفیذ کونکي ادارو لخوا د هغوی د فعالیتونو کشف کول مشکل کوي.

د ټولنیزو شبکو کوچني سایټونه اوس ډیر قطبي شوي او د القاعده، داعش او نورو ډلو لخوا ورځنه لدې امله ناوړه ګټه اخیستل کیږي چې دا ډول پلیټفارمونه په اغیزناک ډول د تروریستي مینځپانګې لیرې کولو لپاره محدود سرچینې لري.

د زیربنا هدف ګرځول

حساس زیربنا د لومړني خدمتونو ملاتړ کوي چې ټولنه ورته اړتیا لري، لکه ټرانسپورټ، د خوړو تولید، انرژي او د روغتیا پاملرنه. د دې ډول خدمتونو شدید اخلال خلک د زیان سره مخ کولی شي. د دې خدمتونو لپاره بریښنایی لوڅستیک عرضه کولو لړۍ باندې تکیه کول د مجازي فضا برید منفي اغیزې ډیرې خرابوي ځکه چې دا خدمتونه د یوه ملي اقتصاد د ملا تیر وي، په ځانګړي توګه امنیت، روغتیا، انرژي، اوبه، ټرانسپورټ، د باروړلو خدمتونه، ارتباطات، بانکداري او مالي خدمتونه.

حساس زیربنا د مجازي تروریزم څخه زیانمنیدی شي. د ډیټا موجودیت او متقابل تړاو کې ډیروالی، د صنعتي کنټرول سیسټمونو، د عامه ارتباطاتو زیربنا او مصنوعي ذهانت کارولو سره یوځای، په ملي سطح مجازي امنیت توجه ته اړتیا لري. علاوه له دې، په نوي بریښنایی فزیکي سیسټمونو کې ډیروالی، لکه پخپله د ډرایور پرته چلیدونکي موټرونه، نوي زیانمننې رامینځته کوي.

د ټیکنالوژیو چټکه پراختیا او متقابل تړاو هم د اندیښنې لامل دی، په لویه کچه د شیانو انټرنیټ راپیدا کیدو له امله، کوم چې د ناوړه ګټې اخیستنې لپاره مجازي مجرمینو او تروریستانو لپاره د برید نوي عاملین رامینځته کړي دي.

د 2020 اپریل په 8 نیټه، د مجازي امنیت او د زیربنا امنیت اداره او د مجازي امنیت ملي مرکز په برتانیا کې د امنیتي پیښو په اړه یو خبرداری خپور کړ چې د روغتیا پاملرنې او د فارمیسي ادارو حیاتي زیربنا یې هدف ګرځولې وه. په قربانیانو کې یې شرکتونه، د طبي څیړنې نهادونه او پوهنتونونه شامل و، او دا بریدونه د کووید-19 وبا راپیدا کیدو سره هم مهاله و.

په متحده آیالاتو کې په 2021 فبروري کې، هیکران په کوچني فلوریډا ښار کې د اوبو یوه پلانټ ته ننوتل ترڅو د اوبو عرضه کې احتمالي خطرناک کیمیکلز کچې د ډیرولو هڅه وکړي. خوشبختانه، مخکې لدې چې کوم چا ته زیان ورسیږي برید کشف شو.

په هماغه میاشت کې، د متحده آیالاتو د کورنۍ امنیت وزارت د تاوان یا رینسم ویر یو برید ښکاره کړ چې د طبیعي ګاز کمپریشن تاسیساتو حساس زیربنا یې هدف ګرځولې وه. بریدګر جعلي بریښنالیک کارولی و، هدف ګرځول شوی برید چې د حساس معلوماتو ورکولو لپاره خلکو غولولو لپاره ډیزاین شوی لکه پاسورډ د نهاد شبکو ته د لاسرسي لپاره، کوم چې د دوه ورځو لپاره د تاسیساتو د ټرل کیدو پایله درلودله.

دا چې مجازي بریدونه ډیر پیچلي کیږي، د ملي امنیت دفاع کولو دنده لرونکي، په شمول د وسله وال ځواکونه، نشي کولی خپل ګارد ناهیلې کړي. په ملي حاکمیت باندې هر تخریبي برید د دودیزو وسلو کارولو ته اړتیا نلري. ✦

د وسلو په توګه کارول کيدونکي ټکي

د ايران لخوا سپانسر شوي اسلامي راډيو او تلويزيون اتحاديه د ټولنيز انسجام تخريب کولو لپاره ناسم معلومات خپروي

برید جنرال (متقاعد.) اوډا شوډيفټ، د رسنيو او کلتور مشاور، عمومي قومانده، د اردون وسله وال ځواکونه – عرب اردو

خبرونه د لیږې څخه او په پراخه کچه، د تحلیل، تبصرو، ارتباط او ډیالوګ په ملتیا سره وړاندې کیږي. د رسنیزو مرکزونو یا میلمه د محکومیتونو، نظرونو او نیوکو پربنسټ، پروګرامونه د ورځې مسایلو په اړه اتهامي، دفاعي یا بې پرې حالت خپلولی شي.

په ډیرې خپرونو کې، بنې، احساسات او د څرګندولو حالتونه بدلیږي؛ زغم نرۍ کیږي او غږونه لوړیږي، حتی شاید د چیغو وهلو او قسمونو کولو تر کچې پورې، تر هغه وخت پورې چې لیدونکي مغشوش شي. اکثر مشکل وي چې د نظرونو دا ډول ترکیب څخه د حقایقو پربنسټ او ګټور کوم څه ترلاسه کړی شي. او دا صحنه تکراریږي هرکله چې لیدونکی د یوه چینل څخه بل ته د خبرونو تعقیبولو هڅه کوي، عموماً د سټایټ چینلونو له لارې.

مور په بشپړ ډول تاییدوو چې په عصري ژوند کې رسنۍ د ټولو ډسیپلین مرکزونو او مینځپانګې سره لازمي دي، او زمور د ژوند په مجموع کې د دې د رول څخه انکار نا شونی دی. د معلوماتي ټیکنالوژۍ چټکې پراختیا سره او هر هغه څه چې دې سره یوځای روان دي، د رسنیو مینځپانګه د ټولو خلکو لپاره د لاسرسي وړ ده چې د یوه نړیوال کلي ته ورته څرنګوالي کې ژوند کوي.

په هرصورت، څه چې زما پام ځانته اړوي، د اسلامي راډیو او تلویزیون لخوا ټمویل شوي د سټایټ چینلونو د لښکر شتون دی چې د کرکې ډک فرقه ای پروګرامونه خپروي، د وسله والو ډلو ناوړه ځیرې پټوي او دوی پورې تړلې ډلو ته "سپیخلې" وایی.

دا اتحادیه په 35 هیوادونو کې شاوخوا 210 رسنیز شرکتونه چلوي، چې ډیرې یې په مینځني ختیځ کې دي. پدې کې د ځیرنې او سروی مرکزونه، د رواني جګړې ټیمونه او خبرې سایټونه شامل دي. دا نهادونه د ټولنې یوه ټاکلې برخه د غلطو معلوماتو په مرسته د خلکو د ذهنونو اړولو لپاره هدف ګرځوي څوک چې د بې عدالتۍ او محرومیت احساس تلقین کوي او د حکومتونو پر وړاندې هغوی باغیتوب ته هڅوي.

زما په نظر، دا د یرغل ښکاره عمل دی او په عرب ټولنو کې د مدني سولې پر وړاندې د جګړې اعلان. ایران دا رسنیزې ځانګې د سیمې او نړۍ هیوادونو سره د چنې وهلو چیپ په توګه کاروي، او هیوادونه د جګړې او تخریب وبا سره مخ کوي. پدې نهاد باید نړیوال بندیزونه ولګول شي ځکه چې دا تاوتریخوالی او تروریزم هڅوي لکه په ایران کې د اسلامي انقلاب د ساتونکو قل اردو او امنیتي نهادونه.

تاسې اکثر وینئ چې یوه ټاکلې موضوع د سرلیکونو، خبرې برنامو او دې ته ورته برنامو سرټکي وي. پدې ورځو کې، یو څوک چې په سیمه کې خبرې شبکې تعقیبوي، او په نړۍ کې کوم بل چیرې ځینې شبکې، ممکن هیڅ داسې یوه خبرې موضوع یا راپور پیدا نکړي چې د ایران د نوم او د دې د رژیم، اهدافو، موخو، اغیزې، وسلو او په بیلابیلو ټولنو د اغیزې یادونه پکې نه وي، همدارنګه د دې ناسم چلند او د نورو هیوادونو کورنۍ او بهرنۍ چارو کې مداخلت.

ایران حتی د دې ټولنو راتلونکې کې لاسوهنې کوي ــ د هغوی د ماشومانو راتلونکې، د هغوی وده کونکي هیلې، او د هغوی ځانګړې اجنډاوې ــ د ټولو موجود وسایلو په کارولو سره. د مثال په توګه، د نړیوالو ګواښونو په سطح، د ایران هستوي پروګرام هرځوک اندیښمن کړي او یوه وتلې موضوع ده، او پدې اړه معلوماتو سره تاسې سهار او ماښام مخ کیږئ. دې کار د سیمې ځینې هیوادونه اړ کړي د ایراني ګواښ سره د مخامخ کیدو لپاره سترې بودیجې وټاکي، چې تر 1.5 میلیارد ډالرو پورې رسیږي.

مالیزیا د ایران سره خپلې ټولې اړیکې پرې کړې، او په یوه بې ساري اقدام کې یې د ایران سره هر ډول همکارۍ دروله ده. لبنان د ایران د مداخلت له امله خورا ستر مشکل سره مخ دی. همدارنګه، یمن د ورته مداخلت له امله سخته جګړه تجربه کوي، کومه چې افغانستان کې هم د ډیریدو په حال کې ده. په عراق او سوریه کې هم وضعیت خراب یا ناوړه دی. په خلیج کې ګاونډي هیوادونه او په سیمه کې کوم بل چیرې هیوادونه د ایران ورته مداخلې څخه مستثنا ندي چې د جنګ سالارانو، د بحران څخه ناوړه ګټه اخیستونکو او د فرقه پرستۍ ترویج کونکو په ګومارلو سره بیلابیل ډولونه خپلوي.

د دې ځیرک ګواښ په مخ کې ــ چې په وسلو، ملیشه، چټک غږګون ښودونکي طرفدارانو، رسنیزو جګړو، د نشه ییز توکو معامله کونکو، افراطي ایدولوژي، او ځانته د دې جواز ورکولو په واسطه ملاتړ کیږي چې د مذهبي او ملي تعصب کې راګیر هیواد ایدولوژي ته کار کوي – مور باید وزګار پاتې نشو. مور باید زمور د خپلو هیوادونو خوندیتوب او امنیت ساتنه وکړو، کوم چې د ایران ملاتړ لرونکي تروریزم د طوفان سره مخ دي.

د متحده آیالاتو حکومت د تاوتریخجن افراطیت ترویج لپاره د ایران لخوا کارول کیدونکي د اسلامي راډیو او تلویزیون اتحادیې ویب سایټونه ټرلي دي. رویټرز

مور اړ نه یو د ایران پر وړاندې د جګړې اعلان وکړو ترڅو د سیمې د هیوادونو په لګښت او په تروریستي ډلو کې د پانګوونې له لارې د هغې د پراختیا غوښتونکي هیلو مخنیوی وکړو. د نورو په څیر، زه هم جګړې ته د ناکامۍ تولید په سترګه ګورم ترڅو د ستونزې سیاسي حل پیدا شي. زه په مور غږ کووم چې نرم ځواک وکاروو پداسې حال کې چې هیله لرم مور اړ نه شو چې د خپلو ځانونو څخه دفاع وکړو. دا یوازینۍ لاره ده چې د ایران بې رحمه حرص ته واګې واچول شي. پدې نرم ځواک کې اقتصادي او دیپلوماتیک فشار شامل دی.

مور باید سیمه ییز او نړیوال مشارکتونه پیاوړي او ساتنه یې وکړو چې د هغوی مخنیوی به کوي څوک چې د نړیوالو قوانینو څخه سرغړونه کوي او د نیابتي ډلو او کرایی ټوپکو شاته پټیږي. ایران د هستوي وسلو ترلاسه کولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي او حتی دغو وسلو ته د لاسرسي دمخه سیمې ته خطر پیښوي. نو که چیرې د داسې بې منطق چلند لرونکی یو هیواد د پراخه تخریب وسلو ته لاسرسی ولري.

مور باید ایران باندې فشار پلي کولو ته دوام ورکړو او د تروریستي ډلو ملاتړ کولو، پټولو او روزلو څخه یې ناهیلې کړو. ✦

بحرين د **خپرو** غلط معلوماتو ردولو لپاره بنسټ جوړ کړی

دې هیواد په انټرنیټ کې رامینځته شوې ویرې د له مینځه وړلو په واسطه د **کووید-19** وبا سره په بریالیتوب مبارزه وکړه

حبیب تومي، د بحرین د معلوماتو وزارت مشاور

د جګړو په ځیر وبا کې هم داسې ښکاري چې رښتیا لومړۍ مرګ ژوبله وي. که څه هم نړۍ د پیړیو راهیسې د وبا او خپرو ناروغیو سره مخ شوې، خو هیڅکله هم د ناسم معلوماتو، غلط معلوماتو او د توطیه تیوري ګانو په سونامي کې ورسره هیڅ کله نده مخ شوې چې د کووید-19 څخه راتاو و.

د نن ورځې د ارتباطاتو ډیروالی چې د انټرونو، غږ، ویډیو او متني پیغامونو ادغام په واسطه رامینځته کیږي ــ او د راپورونو په واسطه چې د حقایقو په توګه وړاندې کیږي په هیوادونو کې په اسانۍ سره بیاتولید او خپریږي ــ لیدلورو ته ښه ورکوي، توقعات او ټمې ننګوي او ټولنې حیرانوي.

د روغتیا نړیوال سازمان د کووید-19 په اړه د ډیر مقدار ګمراه کونکي او سرګردانونکي معلوماتو ته د "انفوډیمیک" یا د معلوماتو وبا اصطلاح کارولې چې د ویروس مخنیوی یا درملنه خو پرخپل ځای پریږده، د دې ویروس کمولو لپاره هڅې هم د مشکل سره مخ کوي.

د ویره خپرونکي ناروغیو او د غلطو معلوماتو یوځای کیدل د لومړۍ ځل مصیبتونو راهیسې شتون لري، چې د پیړیو راهیسې یې خلک جادوګري، بدو سترګو، شیطان او د خدایانو قهر ته نسبت ورکوي.

پداسې حال کې چې ناروغيو قربانيان وژلي، غلط معلوماتو تورن هدف ګرځولي او د هغوی د اعدام، جلا توب يا تبعيد لامل شوي دي.

د سياسي، اقتصادي يا ټولنيزو موخو لپاره جعلي او سفارشي تورونو يهودان، عيسويان، مسلمانان، ښځې، افريقايان، آسيايان، لرکي، جذاميان، بې وزله، ګرځندويان او بهرنيان په نښه کړي دي. توطيه جوړونکي چې دا کيسې، تورونه او اوازې خپلوي هيڅ کله د غلطو معلوماتو کمښت سره ندي مخ شوي.

د تاريخي پير په پام کې نيولو پرته، د غلط معلوماتو او ناسم معلوماتو موخې ورته پاتې دي؛ يوازې د وړاندې کولو څرنګوالی يې د وروستي پيل د ځانګړنو منعکس کولو لپاره تازه شوي دي.

د 2014 کال کتاب "د آوازو وبا" کې ليکوال جان ډي لي ليکلي چې "روايات د يوه پيل څخه بل پيل ته اړول کيږي، موضوع ته يې سمون نه ورکول کيږي بلکه د اوسني اوضاع سره د رواياتو ارتباط ورکولو لپاره لازمي ځانګړي تفصيلات پکې بدلوي."

ځينې جوړ شوي انځورونه او غلط روايات په بحرانونو، ويرې او اضطراب کې ښکاره کيدونکي بدنيتۍ په واسطه پيدا کيږي، پداسې حال کې چې نور د لوبيدو تحريف شوي احساس او د ساعتيرۍ منحرف نظر په واسطه راپيدا کيږي.

ټيکنالوژيو د حقايقو بدلول او د کيسو تخليق کول ساده او اغيزناک کړي دي. کارياليزونو خلکو ته دا ورټيا ورکړې چې تخيلي نړۍ رامينځته کړي چې د واقعيې نړۍ ځای نيسي او حقايق بدلوي. په ټيکنالوژي کې ښکاره ارخ، چې احتمالآ د نړۍ يوه غوره ځای جوړولو لپاره دی، پرځای يې په ناسم ډول کارول کيږي.

د 2020 لومړيو ورځو کې، کله چې نړۍ د کووډ-19 څخه خبريدله، خلک د هغوی د داخلي شبکو – خپلوان، ملګري، همکاران، ګاونډيان – او د ډاکټرانو، روغتيايي متخصصينو، مشهورو څيرو، رسمي او سياسي چارواکو لخوا بهرني معلوماتو په پيغامونو بمبار شو.

د ډيری هيوادونو مشرانو درک کړه چې د دې خپرې ناروغۍ سره مبارزې لپاره د ستراتيژۍ يوه د پام وړ برخه د معلوماتو هغه راشی سره مبارزه کول دي کوم چې د واکسين تر جوړيدو پورې د دې ناروغۍ د کمولو چانسونه د زيان سره مخ کوي.

بحرين، يو کوچنی ټاپو (765 کيلومتر مربع) او په نړۍ کې يو له تر ټولو ډير د نفوس تراکم لرونکی (په هر کيلومتر مربع کې شاوخوا 2,052 خلک)، د سرايت لوړ خطر سره مخ هيوادونو څخه و. بيا د انټرنيټ او ټولنيزو رسنيو له لارې "سرايت" هم بدمرغه کيدی شي.

د ډيټا پورټال په وينا، په بحرين کې د 2020 جنوري کې د انټرنيټ نفوذ 99% او د ټولنيزو رسنيو نفوذ 84% سلنه و. په ورته وخت کې هيواد 1.65 ميليون د انټرنيټ کارووکي او 1.4 ميليون د ټولنيزو رسنيو کارووکي درلودل.

د څو وزارتونو ملي کاري ځواک د 2020 فبروري په پيل کې د ستر رسنيو برخې په شمول د د کووډ-19 خپريدو او سقوط سمبالولو لپاره جوړ شو.

پداسې حال کې چې چارواکو د وبا سره مبارزه کوله، حکومت د غلط او ناسم معلوماتو سره مبارزې ته هم ژمن و چې د دولت هڅو تر پوښتنې لاندې راوستلو لپاره د ډيجيټل پلټفارمونو ځايی اعتياد څخه يې ګټه پورته کوله.

کاري ځواک خلک هڅول چې د معلوماتو باوري سرچينې وکاروي او د ناسم او بې لارې کونکي ادعاو لومو کې ونه لويږي چې د شهرت غوښتونکو، توطيه تيوري ګانو جوړونکو او ځان ښودونکو لخوا خپريږي.

ماناما سيټرا مال کې د کووډ–19 واکسينونو ترسره کولو لپاره خلک انتظار کوي. دې خپرې ناروغۍ ته د بحرين د مناسب ځواب سربيره، ناوړه لوبغاړي په هيواد کې د وبا په اړه غلط معلومات خپروي. رويټرز

کاري ځواک په اوه ژبو کې د روان ارتباط ډاډمن کولو لپاره يو هاټلاين تنظيم کړ؛ د بحرين د 1.7 ميليون اوسيدونکو له نيمايی څخه ډير د 140 څخه ډيرو هيوادونو څخه دي.

بحرين څلور ورځپاڼې لري يوه يې په عربي، دوه په انګليسي، يوه په ملايلم (هند) او يوه په تګالوګ (فلپين) ژبه کې ده. اونيزې او مياشتنۍ مجلې لکه د راډيو او تلويزيون برنامو په څير په څو ژبو کې وي.

دې ټولو د وضعيت د اهميت ستاينه وکړه او يوازې د رسمي سرچينو – رسمي ارقامو، د متخصصينو او د پوليس افسرانو لخوا بيانانونه او د وزارتونو لخوا اعلانونو - څخه د خبرونو او راپورونو چاپ کولو او خپرولو ته ژمن پاتې شو.

رسنيو تل د شکمنو ادعاو زغمل رد کړل او اکثر يې خبريالان د ډاکټرانو سره غږيدو لپاره وليږل، تر ډيره د عفوني او داخلي ناروغيو ډاکټران او مايکروبيولوژيستانو سره، چې هغوی علمي او ساينسي توضيحات وړاندې کول ترڅو خلکو سره په وضعيت پوهيدو کې مرسته وکړي. دې د غلط معلوماتو ردولو کې خورا ډيره مرسته وکړه.

مذهبي مشرانو په خپلو خطبو او تبليغ کې د دروغو خپرول د مذهبي لارښوونو او ارزښتونو څخه سرغړونې سره تشبيح کړل.

امنيتي او قضايی نهادونو هم په منظم ډول خبرداري صادر کړل کوم خلک چې غلط معلومات خپروي په هغوی به د ټولنيزې سولې د اخلال کولو تور پورې شي او د قانوني اقدام سره به مخ شي چې حبس او درندې جريمې پکې شامل دي.

کاري ځواک منظم رسنيز کنفرانسونه ونيول چې تازه معلومات وړاندې کړي، وضاحتونه صادر کړي، او د ژور مسؤليت د احساس يادونه وکړي پداسې حال کې چې د آوازو او تورونو د منفي اغيزو په اړه يې هرچا ته يادونه کوله.

د لويانو د سواد لوړې سطحې (په 2018 کې 97.5%) او د "خبر اوسئ" کمپاين د خلکو او دولت او خصوصي نهادونو ترمينځ د باور جوړولو کې ډير رول درلود، چې د توطيه تيوري ګانو خپريدو مخنيوي کې يې مرسته وکړه څه چې عموماً په مينځني ختيځ کې پيښيږي.

په بحرین کې د غلط معلوماتو او ناسم معلوماتو پر وړاندې ټولیز مقاومت د کاري ځواک لخوا د چټک اقدام ترکیب، د ناوړه ګټې اخیستونکو پر وړاندې سختو خبرداریو، او د طبي متخصصینو او ژمن ژورنالستانو سره د پرانیستي ارتباط پایله وه.

د غلط معلوماتو او ناسم معلوماتو پیغامونو مجموعه د واټساپ له لارې په بحرین کې خلکو ته ورسیدله، چې په هیواد کې د ارتباط لپاره تر ټولو ډیر کارول کیدونکی کاریال دی.

پیغامونه تړیره سیاست یا مذهبي یا فرقه ای اجنډا پورې تړلي نه و کوم چې په خواشینۍ سره د فرقو او دولتونو ترمینځ دښمنیو له امله په مینځني ختیځ کې ډیر عام دي.

خورا ډیر ناکراره کونکي پیغامونه د فبروري په 26 نیټه راپیدا شو، په یوه بحریني تبع کې د لومړي عفونیت کشف کیدو څخه دوه ورځې وروسته څوک چې ایران ته د یوه مذهبي سفر وروسته راستون شوی و. د واټساپ پیغامونو په هغه بحرینیانو انتقادونه کړي و چا چې ایران ته یې سفر کړی و، هغوی یې د ناروغۍ په راوړلو او د بحرین د خطر سره مخ کولو باندې تورنول. د پولیسو په وینا، 30 حسابونو د فرقه ای څرنګوالي پیغامونه درلودل.

په هرصورت، د جلالتمآب ولیعهد شهزاده سلمان بن حماد الخلیفه چټک مداخلت د مخ پرودې ویرې له امله پیدا شوي تشویش لیرې کولو کې مرسته وکړه. هغه د ملي یووالي ساتلو غږ وکړ او تاکید یې وکړ چې "کووډ-19 د نژاد، ملیت، مذهب یا ټولنیزې طبقې پربنسټ تبعیض نه کوي."

نورو غلط معلوماتو د کارونکو غولولو یا په چلند د اغیزه کولو هڅه وکړه. په مثالونو کې شامل دي:

- په ټولنیزو رسنیو کې یو راپور و چې د کووډ-19 پیښې په ډراګون سیټي کې کشف شوي، د چین – تیم لرونکی د پیرود ستر کمپلیکس، او دا چې پولیسو د لوازمو، کورنۍ سینګار او خوړو پلورونکي هټیو او پلورنځیو باندې چاپه اچولې.

جلالتمآب ولیعهد شهزاده سلمان بن حماد الخلیفه، د بحرین لومړی وزیر د کووډ پر وړاندې تقویتي دوز کوي.

د بحرین د معلوماتو وزارت

بحرین د کووډ–19 بحران ته د خپل ځواب همغږي کولو لپاره عامه شخصیتونو ته بلنه ورکړه. رویټرز

- په بله پیښه کې، په ټولنیزو رسنیو کې دا ادعا تاویده چې د کووډ-19 لرونکي خلک د قرنطین مرکزونو څخه تښتیدلي او په هیواد کې آزاد ګرځي. پولیسو سمدلاسه دواړه ادعاوې رد کړې.
- پولیسو وروسته له هغه یو کاروونکی ونیوه چې تورونه یې پوسټ کړي و چې کووډ-19 د خلکو څخه د پیسو ترلاسه کولو لپاره کارول شوي لوی دروغ دي.
- یوه پیژندل شوې سندرغاړې وروسته له هغې د قانوني مشکل سره مخ شوه چې په واټساپ کې یې کورونو ته د پیزا او خوړو عرضه کولو په اړه خلکو ته خبرداری ورکړی و او ادعا یې کړې وه چې دا په خطرناک ډول ککړ دي.
- دا ادعا چې څو بندیان په ویروس اخته شوي د بشري حقونو لپاره ملي نهاد لخوا د ساحوي لیدنې وروسته لیکل شوي راپور کې رد کړی شوه.
- د غلط معلوماتو نورې هڅې چې په هیواد کې خپرې وې د ویروس د اصلیت په اړه او د دې د درملنې لارو په اړه "معتبر" یا "پټ" راپورونو یادونه کول و.

نن، د دې ناروغۍ د خپریدو څخه دوه کلونه وروسته، بحرین د 2021 نومبر لپاره د نیکایی د کووډ-19 رغیدو شاخص کې په نړۍ کې لومړی مقام خپل کړی دی. دې شاهي هیواد د وبا سره مبارزه او نورمال ژوند ته بیرته ستنیدو کې سترګامونه پورته کړي دي.

دا شاخص چې لومړی په 2021 جولای کې خپور شو، په 121 هیوادونو او سیمو کې د کووډ څخه رغیدل د نهه عواملو پربنسټ ارزوي چې په درې کټګوریو ویشل شوي دي: د عفونیت مدیریت، د واکسین عرض او خوښت.

د عفونیت مدیریت کې د کووډ-19 تایید شوي پیښې د پیښو د تعداد ډیروالي پر وړاندې، د فې نفر له مخې تایید شوي پیښې او د فې قضیې له مخې ټیستونه شامل دي.

د واکسینو چوپړتیا کې د فې نفر له مخې ورکړل شوي د ټولټال واکسین دوزونه، د فې نفر له مخې ورکړل شوي نوي واکسین دوزونه، او د بشپړ واکسین شوي خلکو سهم پوښي.

د ټولنې تحرک سره د تحرک معاملات، د آکسفورډ د سختۍ شاخص، او د الوتنې فعالیتونه.

هرڅومره چې د یوه هیواد درجه لوړه وي، د 0 څخه 90 پورې، هغومره نوموړی هیواد رغیدو ته نږدې وي د کمو عفونیتونو، د لوړې تلقیح درجې او د کم سخت ټولنیز واټن اقداماتو سره.

د بحرین نمرې 73% وې، ورپسې کویټ 72% او متحده عربي امارات 70.5% کې و.

په 2021 نومبر کې، د بحرین د روغتیا تنظیمي ادارې وویل چې د 5 څخه تر 11 کلونو پورې ماشومانو لپاره یې د فایزر بیونټیک واکسین بیړنۍ استعمال تصویب کړی دی. دا پریکړه د ملي روغتیا د تنظیمي ادارې کلینیکي ازمیښتونو کمیټې او د روغتیا وزارت د واکسین کمیټې لخوا پرمخ وړل شوي د فایزر بیونټیک ډیټا د ارزونې وروسته وشوه. ✦

بحرینیان وروسته له هغې د سعودي راتلونکو هرکلی کوي چې دې هیواد په 2021 کې د کووډ–19 پر وړاندې واکسین شوي خلکو ته خپلې پولې پرانیستې.

رویټرز

مجازي امنيت ته ژمنتيا

د مجازي ګواښونو پر وړاندې د عراق محافظت کولو لپاره معلوماتي ټیکنالوژۍ کې د عراقي وړتیا پراخولو ته اړتیا ده

ډاکټر حسين علوي، د امنيتي سيکتور سمون په برخه کې د عراق د لومړي وزير مشاور

مجازي امنیت د عراق د حکومت لپاره ستراتیژیک لومړیتوب دی. عراق د مجازي پیښو د غبرګون ټیم (سي.اي.آر.ټي) جوړ کړی دی، د مجازي امنیت پالیسي یې فعال کړې او د بریښنایی جرمونو د قانون مسوده یې چمتو کړې چې د عراق پارلمان کې وړاندې پراخه بحثونه شوي.

د مجازي پیښو د غبرګون ټیم اصلي کار په ټولو وزارتونو کې د مجازي بریدونو سره مبارزه کول، د هیکرانو او د تروریستي ډلو د نظارت کولو لپاره د امنیتي او استخباراتي ادارو سره کار کول، او د منظم مجازي جرمونو ډلو تعقیبول دي. په عصري ټولنو لکه عراق کې دا احتیاطي چارې لازمي دي چې د پیسو انتقال او د حکومتي چارو پرمخ وړلو لپاره مخ پرودې توګه په انټرنیټ تکیه کوي.

مجازي بریدونه په نړۍ کې وده کونکی ګواښ دی، چې د نړیوالې اندیښنې لامل کیږي چې تروریستي ډلې په حیاتي تاسیساتو د مجازي بریدونو په لاره اچولو لپاره پرمختللي ټیکنالوژۍ کاروي. د دې په پام کې نیولو سره، عراق په 2021 سپتمبر کې په بغداد کې د مجازي فضا په برخه کې د ټولنې د ورټیاو پراختیا او جوړولو په اړه دوهم ملي کنفرانس په لاره واچاو.

دې کنفرانس د عراق د مجازي پیښو د غبرګون ټیم په کار کې ستر اوښتون راوست. دې کنفرانس د پام وړ مسایل لکه بریښنایی جرمونه، د 5G جګړو سره د مبارزې لپاره مجازي ظرفیتونه، په ملي امنیت د مجازي امنیت او د عصري ټیکنالوژیو اغیزه، او په انټرنیټ کې د ماشومانو محافظت پوښلي. په نورو موضوعاتو کې یې په خلکو د مجازي امنیت اغیزه چې د غلط معلوماتو په واسطه محاصره نړۍ کې دي، د زده کونکو لپاره ډیجیټل امنیت، او آنلاین د پیسو مینځل او مالي انتقالات شامل و.

په کنفرانس کې د عراق د مجازي پیښو د غبرګون ټیم لخوا یوه تخنیکي نندارې هم شامل وه، چې یوه امنیتي تمرین یې ملتیا کوله چې پدې کې د مجازي ګواښ شنډولو لپاره ټیم په چټکۍ سره مداخله وکړه.

د عراق د مجازي پیښو د غبرګون ټیم مشر اسیر الجابر د کووډ-19 وبا له امله د بریښنایی اتومات چارو خپلولو په لړ کې د سوداګرۍ او حکومت په پام کې نیولو سره د کنفرانس اهمیت باندې رڼا واچوله.

الجابر وویل، "د دې کنفرانس د ناستو پرمهال، موږ په مجازي فضا کې د خدمتونو وړاندې کولو باریا په لوري یو بل ګام ترلاسه کړ."

د ملګري هیوادونو لخوا ترلاسه شوي تخنیکي مهارت تبادله کول، کله چې یو مجازي برید شنډوئ یا په امنیتي سیستم کې د سرغړونې وروسته د شبکو بیرته رغول د مجازي امنیت د ملاتړ ګټل کیږي. عراق د ټیکنالوژۍ په ډګر کې د ملګري هیوادونو تجربو څخه ګټه پورته کوي او په مجازي فضا کې د امنیتي ورټیاو د پراختیا او جوړولو لپاره کار کوي.

له بل پلوه، عراق لیواله دی هغه معلومات شریک کړي چې دې د ارتباط، رمز ورکولو او د بریدونو پلان کولو لپاره د مجازي ټیکنالوژۍ د تروریستانو ناوړه ګټه اخیستنې څرګندوالي په اړه زده کړي دي. دا چې تروریستي ډلې او د منظم جرمونو ډلې شریک نظرونه او ټیکنالوژۍ لري، نړیواله ټولنه باید د بریدګرو د تخریبي پلانونو خنثی کولو لپاره یوځای کار وکړي.

د مجازي امنیت بنسټ د پیچلي مجازي بریدونو خنثی کولو لپاره د سرچینو پشړتیا سره د عالي ټیکنالوژۍ سیکتور رامینځته کول دي. عراق باید د مجازي امنیت په اړه د ملي پالیسیو په دوامداره ډول بیاکتنه وکړي او خپلې ورټیاوې پیاوړې کړي. د عراق حکومت په امنیتي او ملکي خدمتونو کې د ډینامیک افرادو جذبولو باندې کار کوي ترڅو د عراق د مجازي امنیت ظرفیت او حکومتي سیکتور، خصوصي سیکتور او نړیوالو شرکتونو اړوند همکارۍ ته وده ورکړي.

عراق غواړي یوه متحد کلتور ته وده ورکوي ترڅو د مجازي ګواښونو سره مبارزه وکړي، د معلوماتو د هیکینګ او ډمپنګ پیښې کمې کړي، د ملکي سولې ګواښونکي غلط معلوماتو خپرول ودروي، او د انټرنیټ کاروونکو پر وړاندې د بې وجدان خلکو لخوا کارول کیدونکي مجازي جرمونه کم کړي.

د مجازي امنیت په تړاو عامه – خصوصي مشارکت یو ستراتیژیک ضرورت دی. د روغتیا، تعلیم او انرژي په څیر سیکتورونه د خپلو چارو پرمخ وړلو لپاره په مجازي اتصال ډیره تکیه کوي. د دې دلیل لپاره، د عراق حکومت او د مجازي پیښو د غبرګون ټیم غواړي د نوي معلوماتي ټیکنالوژي حلونه رامینځته کړي.

عراق غواړي یوه متحد کلتور ته وده ورکوي ترڅو د مجازي ګواښونو سره مبارزه وکړي، د معلوماتو د هیکینګ او ډمپنګ پیښې کمې کړي، د ملکي سولې ګواښونکي غلط معلوماتو خپرول ودروي، او د انټرنیټ کاروونکو پر وړاندې د بې وجدان خلکو لخوا کارول کیدونکي مجازي جرمونه کم کړي.

حکومتي وزارتونه په معلوماتي ټیکنالوژۍ او مجازي امنیت برخه کې د متشبثینو د هڅولو لپاره مالي انګیزې کاروي. عراق دې مهمه برخه کې د پراخه وندې درلودو لپاره د ښځو چمتو کولو باندې هم باید تمرکز وکړي. هغوی زموږ د بریالۍ ټولنې د راتلونکي ځواک دی، چې د ډیرې ننګونو سره مخ دي. د ښځو ځواکمن کول د عراقي حکومت د پروګرام یوه لازمي برخه او د کار فلسفه ده. په پرمختللي هیوادونو کې د ښځو رول په تکنیکي ډګر کې ستر دی، او ټیکنالوژیکي پرمختګ په ټولنیزو رسنیو کې په حساس سایټونو کې، د سافټویر صنعت او بریښنایی بازارموندنه کې په کار بوخت د ښځو له لاسه دی.

نن ورځ موږ باید د عراق په هره برخه کې د مجازي امنیت شرایطو پرځآی کولو لپاره د قوانینو، عامه پالیسیو او ورټیاو جوړولو په واسطه په سوداګرۍ، بریښنایی سوداګرۍ، او معلوماتي ټیکنالوژۍ پانګونه کې د پام وړ وده ملاتړ کړو. موږ باید د ټولنې خدمت کولو او د دې د ورټیاو عصري کولو موخې سره د معلوماتي ټیکنالوژۍ شرکتونو د ودې لپاره د مناسب چاپېریال په چمتو کولو سره د عراق او نړیوالې سوداګرۍ ټولنې ترمینځ د مشارکت رامینځته کولو لپاره د عراقي حکومت د پلانونو ملاتړ وکړو.

خوشبختانه، د آزادو او عادلانه ټاکنو لپاره د ټاکنو خپلواک عالي کمیسون ملاتړ کولو کې د عراقي حکومت بریا او د 2021 اکتوبر په 10 نیټه د پارلماني ټاکنو پرمهال د مجازي بریدونو سره د مبارزې لپاره د کمیسون ورټیا، د مجازي بریدونو سره مبارزې او د مجازي امنیت تقویت کولو په برخه کې د عراق د پرمختللي ورټیاو په اړه یو لوی پیغام ولیږداو. ✦

قزاقستان مجازي
ډال جوړوي

قزاقي پروګرام د هیکرانو او مجرمینو څخه د سیسټمونو خوندي کولو باندې تمرکز کوي

د بیردیکیوا سلطنت

د یونیپټ انځور

د قزاقستان له ډیجیټل پلوه پرمختللي هیواد باندې بدلیدل په مجازي امنیت تمرکز ته اړتیا لري. دا د پلازمینې اسطنه، د ټیکنالوژیکي نوښت مرکز یو منظره ده.
اسوشیټد پرس

د قزاقستان د 85% څخه ډیر نفوس انټرنیټ کاروي، چې په مرکزي آسیا کې تر ټولو لوړه کچه ده. د هیواد د اقتصاد او حکومتولۍ لوی برخې په بشپړ ډول ډیجیټلي شوي دي. په 2018 کې، قزاق حکومت د ډیجیټل قزاقستان پروګرام پیل کړ، کوم چې حکومتي اداري او سوداګرۍ وهڅولې چې د خبرتو او کانکریټ څخه آنلاین لاسرسي ته د پیرودونکو د لاډیر ګټور خدمت لپاره واوړي.

مګر ډیجیټل اقتصاد ته د قزاقستان پراخه اوښتون سره، مجازي امنیت ډیر لازمي شوی، په ځانګړي توګه د کووډ-19 وبا د پیل راهیسې چې ډیری خلک یې اړ کړي له لیرې لارې کار او زده کړه وکړي.

دې قزاق چارواکو ته هیله ورکړې چې د مجازي ګواښونو سره مبارزې لپاره جدي اقدامات وکړي. پداسې حال کې چې د مجازي جرمونو په ګوته کولو کې د ننګونو هیڅ کمی نشته، چې د شدت، څرنګوالي او پیچلتیا له پلوه وده کوي، د مجازي جرمونو او ګواښونو سره د قزاقستان د هڅو پایلې په وروستیو کلونو کې د پام وړ وې.

په مجازي امنیت کې د وروستیو پرمختګونو څخه په منلې، قزاقستان په 2020 کې د نړیوال مجازي امنیت شاخص کې د مجازي امنیت ته ژمنتیا مواردو کې د 182 هیوادونو له ډلې څخه 31ام هیواد و، چې د نړیوال مخابراتو اتحادیې او د ملګرو ملتونو د معلوماتو او ارتباط ټیکنالوژیو د نوښت لخوا خپرېږي.

د شاخص پنځه اصلي ستنې قانوني، تخنیکي، تشکیلاتي، ظرفیت پراختیا او تعاوني اقدامات دي. د 2020 درجه بندي په 2017 نړیوال مجازي امنیت شاخص کې د قزاقستان د مخکینۍ 83ام ځای څخه د پام وړ پرمختګ و.

د مجازي پوښې نصبول

د قزاقستان د مجازي امنیت پالیسي د "مجازي شیلډ" پروګرام څخه ریښه اخلي چې په 2013 میلادي کال کې د پخواني ولسمشر تورسلطان نظربایف لخوا په لاره اچول شوی و. هغه تاکید کړی و چې د مجازي امنیت ستراتیژي جوړول د قزاقستان د ملي امنیت په ګټه دي، هغه د مجرمینو دې وړتیا یادونه وکړه چې کولی شي د بریښنا کارځایونو او ټرینونو په څیر زیربنا بنده کړي.

نظربایف په 2017 کې وویل "د نن ورځې نړۍ کې، لازمي ندي د یوې الوتکې یا ټانک په کارولو سره جګړه وکړئ."

پدغه کال کې قزاقستان د مجازي بریدونو او هایبرایډ جګړې د مخنیوي، کمولو او پر وړاندې یې مبارزه کولو څرنګوالي په اړه دولتي پالیسۍ جوړې کړې او په اغیزناک ډول د دې کار کولو لپاره یې قانوني پروسې سپې کړې. قزاقي چارواکو د نړیوالو ماهرینو سره مشوره وکړه او د طرحې یوځای کولو لپاره یې په مجازي امنیت برخه کې غوره کړنې خپلې کړې. د مجازي شیلډ پروګرام لومړۍ مرحله د 2017 څخه تر 2018 پورې، او دوهمه یې د 2019 څخه تر 2022 پورې وه. تر دې دمه دې پروګرام 28 میلیارد قزاقي ټنګه (شاوخوا 66 میلیون ډالر) لګښت درلودلی.

د هیواد د ډیجیټل پراختیا، نوښتونو او هوایی فضا وزارت د دولت تخنیکي خدمت ګډ ستاک کارپوریشن سره یوځای د مجازي شیلډ د عمل پلان پلي کولو لپاره د حکومت اصلي مسؤل اداره وګرځیدله، کوم چې اوس د قزاقستان د پانګوونو او پراختیا وزارت برخه ده.

مجازي پوښ مشخص کوي چې د دولت پالیسي څنګه د بریښنایی معلوماتو سرچینې، د معلوماتو سیسټمونه، او د مخابراتو شبکې محافظت کوي او ډاډ وړاندې کوي چې د معلوماتو او ارتباط ټیکنالوژۍ خوندي استعمال باید پلي شي. دې طرحې مجازي امنیت ته د مخکینې لنډمهاله طریقو یوځای کولو کې مرسته کړې ده. مجازي پوښ د بیرنۍ حالاتو په شمول، د معلوماتي امنیت پیښو د مخنیوي لپاره د چټک غبرګون میکانیزمونو جوړولو ننګه هم کړې ده.

د قزاقیانو ترمینځ د ډیجیټل ټیکنالوژۍ خپلولو حکومت هڅولی دی په مجاز امنیت خپل تمرکز ډیر کړي. ای ایف پي/ګیټي انځورونه

مجرمین قزاقستان هدف ګرځوي

د 2021 پسرلي کې، په برتانیا کې میشت د ټیکنالوژۍ بیاکتنې او د مصرف کونکو یوه ویب سایټ کمپاریټیک یو راپور خپور کړ چې په نړۍ کې له مجازي پلوه ډیر او لږ خوندي هیوادونه لیست کړي و. د راپور په وینا، د مرکزي آسیا هیوادونه پشمول د قزاقستان درجه نړدې اخر کې وه.

قزاقستان د تش په نوم کریپټو جیکرانو لپاره یو له تر ټولو جذب هیوادونو څخه دی، څوک چې زیان منونکي کمپیوټرو ته د لاسرسي له لارې ډیجیټل اسعار، یا کریپټو کرنسي جوړوي. دې پروسې ته د کریپټو کرنسي کیندل یا کریپټو کیندل ویل کیږي. د کمپیوټرونو د مالکینو څخه د اجازه اخیستلو پرته، کریپټوجیکران د کریپټو کان کیندنې لپاره اړین بریښنا لوی مقدار لپاره هیڅ پیسې نه تادیه کوي. قزاقستان د بریښنا د ټیټو قیمتونو او په نړۍ کې د نورو هیوادونو پرتله د کم خوندي کمپیوټرونو له امله د کریپټو کان کیندنې لپاره یو جذاب هیواد دی.

د کمپیوټر سافټویر باندې د قزاق کاري ګروپ د 2019 ناستې په وینا، یو له مهمو دلایلو چې په قزاقستان کې کمپیوټرونه ولې لږ خوندي دي دا دی چې په قزاقستان کې په کمپیوټرونو کې نصب نړدې 74% سافټویر بې جواز و، یا د غیرقانوني سرچینو څخه ډاونلوډ شوی و.

جواز نلرونکی سافټویر کولی شي ملویر ولري چې د کاروونکي ډیټا د خطر سره مخ کوي، او د مجازي بریدونو مخنیوي لپاره د دا ډول سافټویر لپاره د امنیتي اپډیټ ډاونلوډ کول مشکل دی. په پایله کې، په جعلي سافټویر چلیدونکي کمپیوټرونه د هیکنګ، کریپټو کان کیندنې، د محرم معلوماتو غلا، درغلۍ او د مجازي جرمونو نورو ډولونو څخه د زیان منیدو سره مخ دي.

د پخواني دفاع او هوایی فضا صنعت وزارت د معلوماتو امنیت کمیټې رییس، روسلان عبدیکالیکوف د 2017 کال بیان مطابق، "د [قزاقي] حکومت ادارو بریښنایی سیستمونو ته د مجازي ګواښونو شمیر هر کال دوه برابره کیږي."

د قزاقستان د ملي کمپیوټر بیړني غبرګون ټیم، چې د کی.زیډ-سي.ای.آر.ټي په نوم پیژندل کیږي، د 2021 په لومړۍ نیمایی کې 11,432 مجازي جرمونه او د معلوماتو امنیت ګواښونه ثبت کړي، چې د 2020 پرتله 15% ډیروالی ښئ. د کی.زیډ-سي.ای.آر.ټي په وینا، بوټ نیټز، ټروژن هارسز او د کمپیوټر ویرسونه ځینې خورا عام تخریبي سافټویرونه دي چې په قزاقستان کې کمپیوټرونو باندې د برید کولو لپاره د مجازي مجرمینو لخوا کارو لکیږي.

په ورډپریس مینځپانګې مدیریت بیلګو (د ویب سایټونو لپاره کارول کیدونکی او په انټرنیټ د خپرولو لپاره مینځپانګې جوړونکی سافټویر) باندې مجازي بریدونه، کوم چې په قزاقستان کې ډیر کارول کیږي، د ډیری ویب سایټونو د کاروونکو محرم او حساس معلوماتو په بیه تمام شوي او سایټونو کې پي تروریستي او افراطي پروپاګند پیغامونه خپاره کړي.

مجازي مجرمین په منظم ډول قزاقي سوداګرۍ، حکومتي ادارې او افراد د ګټو لپاره په نښه کوي. په 2021 اګست کې، په قزاقستان کې هر بانک د خپلو ویب کې موجود سرچینو محافظت کولو لپاره وړتیا ښودلو کې پاتې راغی، پشمول د هغوی د مینځپانګې امنیت، د ډیټا انتقال، د ترافیک رمز ایښودل او امنیتي جوړښتونه، د مجازي بریدونو پر وړاندې.

د مجازي بریدونو پځول

په قزاقستان کې د سیټي بانک عمومي رئیس آندری کوریلین په وینا، د قزاق بانکونو ضعیف مجازي دفاع په ځانګړې توګه د اندیښنې وړ ده، د دې په پام کې نیولو سره چې د لوی نړیوال بانکونو پر وړاندې مجازي بریدونه هره ثانیه پیښیږي.

سره لدې، په 2017 کې د مجازي پوښ د طرحې له تاسیس راهیسې، قزاقي حکومت د هیواد مجازي فضا خوندي کولو لپاره د نظارت ډیرولو او فعال ځوابونو مجازي ګواښونه د پام وړ حد پورې راکم کړي دي. د 2019 پورې، د ډیجیټل پراختیا، نوښتونو او هوایی فضا وزارت د قزاقستان پر وړاندې د مجازي بریدونو سرچینو او وخت په اړه کافي معلومات درلودل. دې وزارت د ویب سایټونو تخریبیدو او په هیواد کې د ککړ سافټویر شمیر راکمولو کې مرسته کړې.

د مجازي پوښ څخه په منني، د حساس زیربنا سیکتورونو له 300 څخه ډیرو، پشمول د بانکونو، حکومتي ادارو، سوداګریو او تولید، خپل امنیتي سیستمونه ښه کړي دي. د قزاقستان دولتي تخنیکي خدمت په یوه ورځ کې د نړدې 1 میلیون مجازي بریدونو د منع او مخنیوي لپاره کافي وړتیا او ظرفیت رامینځته کړی دی.

په 2018 کې، د قزاقستان د ملي امنیت کمیټې د معلوماتو د امنیت همغږۍ ملي مرکز (این.آی.ایس.سي.سي) جوړ کړ، چې د دولتي ادارو د معلوماتو سرچینو او د قزاقستان د حساس معلوماتو زیربنا د مجازي بریدونو څخه محافظت کولو لپاره ډیزاین شوی. په 2020 کې، د معلوماتو د امنیت همغږۍ ملي مرکز 17 حکومتي ادارو ته د انټي ویروس محافظت او د مجازي پیښو او ګواښونو لپاره د هغوی د معلوماتو سیستمونو نظارت چمتو کړ.

د مجازي پوښ یو له مهمو برخو د مجازي امنیت متخصصینو روزل او د معلوماتو امنیت په اړه د عامه خلکو پوهول دي. په قزاقستان کې د روزل شوي معلوماتي ټیکنالوژۍ متخصصینو د کمښت له امله، چارواکي لیواله دي د

قزاق چارواکي یادونه کوي چې خلک ترډیره د ابتدایی مجازي امنیت ګواښونو په اړه خبر ندي، لکه په غیر ارادي ډول د مخرب سافټویر ډاونلوډ کولو څخه پیښیدونکي خطرونه چې د آنلاین درغلۍ او جعل پایله درلودلی شي.

پوهنتون زده کونکو ته په مجازي فضا متمرکز بورسونه ورکړي. د ډیجیټل پراختیا، نوښتونو او هوایی فضا وزارت ته دندنه سپارل شوې د عمومي نفوس لپاره د مجازي امنیت په اړه د روزنیز او تعلیمي کمپاینونه په لاره واچوي.

د مجازي پوښ د عمل پلان په لړ کې، قزاقي حکومت د قزاقستان په تاریخ کې لومړی ځل رضاکار مجازي بیمه معرفي کړه، کوم چې د مجازي برید یا ډیټا لیک کیدو په صورت کې قانوني نهاد ته د ملکیت زیان لپاره د مالي تاوان ورکولو اجازه ورکوي.

د تعلیم اهمیت

دولت پدې پوهیږي چې ډیجیټل اقتصاد او حکومتولۍ ته د هیواد چټک اوښتون د مجازي بریدونو او اړوند زیان کمولو لپاره د کمپیوټر امنیت په اړه پراخه ښکیلتیا او عامه تعلیم ته اړتیا لري. قزاق چارواکي یادونه کوي چې خلک ترډیره د ابتدایی مجازي امنیت ګواښونو په اړه خبر ندي، لکه په غیر ارادي ډول د مخرب سافټویر ډاونلوډ کولو څخه پیښیدونکي خطرونه چې د آنلاین درغلۍ او جعل پایله درلودلی شي.

علاوه لدې، ډیری کوچني او مینځنۍ اندازه سوداګرۍ په هیواد کې د معلوماتو او ارتباط ټیکنالوژۍ محافظت په اړه لومړنۍ پوهه نلري.

د همدې لپاره، دولت اوس عامه پوهاوي ښه کولو او د تعلیمي کمپاینونو په لاره اچولو باندې تاکید کوي ترڅو ډاډ لاسته راوړي چې خلک د کمپیوټرونو او ارتباطي ټیکنالوژۍ محافظت کولو لپاره ابتدایی وسایل ولري. د یوې وروستۍ سروې په وینا، د مجازي امنیت ګواښنو په اړه د عامه پوهاوي پیدا کولو کې دا ډول هڅې اغیزناکې وې، چې اوس یې د راپورونو له مخې پوهه 78% ته رسیدلې.

قزاقستان د مجازي امنیت، معلوماتو او ټیکنالوژۍ قانون، او د بریښنایی حکومتولۍ په اړه د ملکي کارمندانو روزلو کې هم پانګونه کوي. د 2021 جنوري 5 راهیسې، د قزاقستان ولسمشر د واک لاندې د عامه اداري اکاډمۍ د حکومتي ادارو ډیجیټل کیدو په اړه د ملکي کارمندانو روزلو لپاره آنلاین کورسونه په لاره

د قزاقستان اوسیدونکي، لکه د دې سړي په څیر په 2019 کې د رایه ورکولو یوه مرکز کې، په ډیریدونکې توګه د ځیرک تلیفون ټیکنالوژۍ باندې تکیه کوي، چې د مجازي امنیت په اړه اندیښنې راپیدا کوي.

ای ایف پي/ګیټي انځورونه

اچولې. په 2019 کې، د ډیجیټل پراختیا، نوښتونو او هوایی فضا وزارت د حکومتي چارواکو لپاره د مجازي امنیت په اړه وړیا آنلاین روزنیز کورسونه د 20 څخه ډیرو دولتي ادارو او 17 د ځایی حکومت نهادونو کې په لاره اچولې و.

په 2020 کې د نړیوالې وبا په پیل کې، په قزاقستان کې ډیری حکومتي کارکونکي د لیرې لارې دفترونو ته واوښتل. د قزاق ملکي کارمندانو د ډیجیټل او ارتباطاتو مهارتونو ښه کولو لپاره، د عامه اداري اکاډمۍ، په قزاقستان کې د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام، د آستانه د ملکي خدمت مرکز او د قزاقستان د ملکي خدمت چارو لپاره اداري په 2020 کې د حکومتي کارګرانو لپاره په لویه سطحه روزنه په لاره واچوله.

د 2021 سپتمبر په 1 نیټه ملت ته د وینا پرمهال، ولسمشر قاسم جوارت توکایف وویل "د عامه سیکتور ټول معلومات او د ټیکنالوژۍ نوښتونه به په اختصاصي ډول د قزاق دولت د تخنیکي نظارت لاندې د نوي پلیټفارم پربنسټ وي. دا به تکثیر، لګښتونه او بیوروکراسي له مینځه ویسي، او عامه خدمتونه به خلکو ته 100% د ځیرک تلیفونونو څخه وړاندې کړي."

د حکومتي خدمتونو مخ پرودې ډیجیټل کول به په دوامداره ډول د مجازي امنیت په اړه د ملکي کارمندانو روزنه کې پانګوونې ته اړتیا ولري. د ولسمشر توکایف د ډیجیټل قزاقستان لیدلوری، چیرې چې به ټول حکومتي خدمتونه په بریښنایی توګه وړاندې کیږي او خصوصي سیکتور به بریښنایی سوداګرۍ باندې تکیه کوي، د هیواد مجازي امنیت د دوامداره ښه والي ته د هغې د ژمنتیا څخه نه جلا کیدونکی دی. ✦

د لسګونه زره افغانانو ژغورلو لپاره د **قطر** په مشرۍ ائتلاف هڅې

د یونیټ انکور

د متحده آيالاتو د مرکزي قوماندې يونيپټ مجلې د قطر د وسله والو ځواکونو نړيوالې نظامي همکارۍ ادارې مشر ډګر جنرال عبدالعزيز صالح السليطي سره مرکه کړې، څوک چې د قطر امير عاليجناب شيخ تميم بن حماد الثاني په لارښوونه، د افغانانو د را ايستلو عملياتو او د قطر د مشرانو بشردوستانه اتلولۍ رول شاهد دی. قطر د 2021 اګست مياشت کې په خورا پيچلي امنيتي وضعيت کې د افغانستان پريښودلو ته اړ شوي لسګونه زره افغانانو او د نورو هيوادونو اتباع ايستلو او هغوی ته پناه ورکولو لپاره چټک عمل ترسره کړی دی.

ډګر جنرال عبدالعزيز صالح السليطي

يونيپټ: د افغانانو را ايستلو عملياتو کې د يوه مخکښ چارواکي په حيث، چې پدې وروستيو کې يو له تر ټولو ستر لوژستيکي عمليات و، کوم شئ موږ ته تاسې ووايې چې دا هرڅه څنګه پيل شو او د عملياتو شرايط او ترتيبات؟

ډګر جنرال السليطي: وروسته له دې چې ائتلافي ځواکونو ته د افغانستان څخه د وتلو امر وشو، د بې ثباتۍ حالت و. د تخليه يا د را ايستلو عمليات د بشري اندېښنو له مخې او همدارنګه د قطر د سياسي او نظامي مشرانو د ملي، سيمه ييز او نړيوال رول له مخې چې د نړيوالې ټولنې برخه دي. دا زموږ د ستراتيژيک ملګري متحده آيالاتو سره هم همغږي شوي و. د محتاط مشرتابه، د قطر امير عاليجناب شيخ تميم بن حماد الثاني په مشرۍ د قطر چارواکو غږګون وښود ځکه چې امير د هر ډول ملاتړ او مرستې هدايت وکړ. دې په معاصر تاريخ کې د تر ټولو ستر او چټک تخليه عملياتو پرمخ وړلو باندې مثبت او چټک اغيزه درلوده.

يونيپټ: د عملياتو پيل کولو لپاره تاسې څنګه لارښوونې ترلاسه کړې؟

ډګر جنرال السليطي: موږ د متحده ايالاتو مرکزي قوماندې لخوا د قطر د بهرنيو چارو وزارت له لارې يوه غوښتنه ترلاسه کړه چې له افغانستان څخه يوه ډله خلک راځي. موږ د وزارت سره په همغږۍ اقدام وکړ. په پيل کې غوښتنه د افغانستان څخه د يوه کال په لړ کې د قطري اتباع را ايستل و، چې شمير يې شاوخوا 8,000 نفر و. په ورته توګه، العديد او السيليه کمپونه چمتو شوي و، او په کاري او ترانسپورتي ميکانيزمونو باندې موافق شوي و چې د افغانستان څخه راتلونکي ټول افراد به يو بارکوډ او سفري جواز لري. موږ د الوتنې دمخه د کووېډ-19 احتياطي تدابير ونيول. عمليات په لوړه کچه تنظيم شوي و، مګر اوامر هغه مهال بدل شو چې د افغانستان څخه د الوتکې د پاڅيدو دمخه امريکايي نظامي الوتکې ته خلک پخپل سر وروختل.

يونيپټ: تاسې د مرکزي قوماندې سره څنګه همکاري وکړله او د هغوی غوښتنو ته مو ځواب ورکړ؟

ډګر جنرال السليطي: موږ د دفاع وزارت لخوا مستقيمي لارښوونې ترلاسه کړې چې د متحده آيالاتو بشپړ ملاتړ وکړو. دا عمليات وسله وال ځواکونو پورې محدود نه و. دا د قطر د بهرنيو چارو وزارت، د متحده آيالاتو د بهرنيو چارو وزارت، د قطر وسله وال ځواکونو، د قطر پراختيايي فنډ او د قطر د روغتيا وزارت لخوا متحده هڅه وه. الوکره روغتون، چې په قطر کې يو له تر ټولو غوره او ستر روغتونونو څخه دی، د کډوال ناروغانو ترلاسه کولو او درملنې لپاره تجهيز شوی و.

يونيپټ: د تخليه عملياتو کې تر ټولو ويرونکې ننګونې څه وې؟

ډګر جنرال السليطي: نورو روغتونونو ته د ناروغانو وړل مشکل و؛ ځينې ناروغانو اسناد نه درلودل يا د پيژند پرته و، يا هم هوسايښو ته يې اړتيا درلوده. د پيښو سرعت ننګونې پيدا کړې، مګر د قطر امير عاليجناب شيخ تميم بن حماد الثاني پخپله امر وکړ چې د الوکره روغتون بايد په بشپړ ډول د کډوال ناروغانو خدمت ته ځانګړی شي.

يونيپټ: د تخليه عملياتو لپاره مختلفې لارې وې. آيا کوم شئ تشريح يې کړئ؟

ډګر جنرال السليطي: موږ د تخليه عملياتو لپاره څلور لارې جوړې کړې. لومړۍ د ديپلوماتانو لپاره وه، چې په اسانۍ سره بشپړ شوه ځکه چې ديپلوماتان به د خپلو کورنيو د غړو سره راتلل؛ ځينې په هيواد کې پاتې شو ځينې نورو يې لا ليرې سفر وکړ. دوهمه لاره د ژورنالسټانو، زده کونکو او د نورو هيوادونو هغه افرادو لپاره وه چا چې د بهرنيو چارو وزارت څخه د ځينې افرادو د ايستلو غوښتنه کړې وه. دا ډله کډوال د هغوی لپاره چمتو کړی شوي کمپونو کې ميشت کړی شو. دريمه لاره د هند او بنګله ديش په څير هيوادونو لپاره وه، چې هغوی د قطر د هوايی ډګرونو له لارې د دغو هيوادونو په خپلو الوتکو کې د هغوی د اتباع ايستلو لپاره غوښتنه کړې وه.

څلورمه لاره د مرکزي قوماندې د سي – 17 نظامي الوتکو لخوا پرمخ وړل

افغان کډوالو ته سفري کټونه په قطر، العدید کې ورکړل شوي و. رویټرز

کیده. دا لاره د خلکو د شمیر ډیروالي او د کابل هوایی ډګر شاوخوا د ګواښ ډیریدو له امله ستونزمنه وه. هغه څه چې دا یې ډیره ستونزمن کول هغه دا وو چې د هوایی ډګر شاوخوا پاتې خلک د بیلابیل او سختیدونکي روغتیایی ستونزو سره مخ و. مورِ ولیدل چې د متحده آیالاتو سرتیري یو شمیر ماشومان لیږدوي، د هغوی سره مرسته کوي او د کټارو څخه یې راښکته کوي. د ګڼې ګوڼې له امله د دغه ماشومانو لپاره دا د ژوند یا مرګ مسله وه. کله چې هغوی راورسیدل مورِ بیساری کار وکړ، د عمر پربنسټ د هغوی د ترتیب کولو وروسته مو د قطر د یتیمانو د پاملرنې مرکز کې د هغوی کوربه توب وکړ. مورِ د پاسپورټونو پروسس کولو کې لاډیرو ننګونو سره مخ شو. دا خلک قطر ته د یوه دمه ځای په توګه راتلل مخکې لدې چې خپل اخرني منزل ته ورسیږي، او هیواد ته د هغوی ننوتل ستونزمن و. مورِ د نړیوال جام پیلیز برخې، د عرب جام کوربه توب کولو په درشل کې و. په ورته وخت کې، مورِ د پیښو پراختیا او سرعت ته حیران و، په ځانګړي توګه کله چې ځینې هیوادونو د دغه خلکو کوربه توب کول رد کړل یا وځنډول. د ګڼې ګوڼې او جمعیت ډیروالي د راکمولو هڅه کې، د قطر امارت هوای ځواک د ټرانسپورټ برخې د متحده آیالاتو او د هغې د متحدینو لخوا چلیدونکي نظامي بیسونو ته د العدید کمپ څخه د سي – 17 څو الوتنې وکړې.

یونیپټ: تاسې د مرکزي قوماندې سره ماموریت څنګه همغږی کړ؟

ډګر جنرال السلیطي: د مرکزي قوماندې سره پیلي ټرون په 12 میاشتو موده کې د 8,000 کډوالو لپاره و. مورِ حیران شو کله چې په لومړۍ اونۍ کې 16,000 کډوال راورسیدل. مورِ ته د دفتر رئیس او د دفاع وزیر لخوا امر شوی و چې ایرکنډیشن لرونکي، بشپړ مجهز لنډمهالي کمپونه جوړ کړو. مورِ د دې کمپونو د بشپړولو لپاره تادي وکړله، چې د دې لپاره درې ورځې وخت راکړل شوی و. پدغه درې ورځو کې د کډوالو شمیر 30,000 ته، بیا 40,000 ته، او ورپسې 50,000 ته پورته شو. زمورِ اصلي ستونزه دا وه چې هغوی د اګست میاشت کې راتلل، کله چې تودوخه ډیریږي، او مورِ لیواله و چې هغوی ته سایه ځایونه چمتو کړو. له بل پلوه، ټولې ډلې اړ وې چې یوه ځای ته راټول شي ترڅو لازم سفري شرایط په سم او سیستماتیک ډول بشپړ شي. مورِ حتی منظم ورځني مسایلو کې هم د ننګونو سره مخ شوي یو. د مثال په توګه، ګڼه ګوڼه د دې لامل شوه چې د نظافت او نور موارد ستونزمن شي، چې د ښاروالۍ وزارت د مداخلت لامل شو. مورِ ټول لازم اقدامات ترسره کړل او خپلې هڅې مو سختې کړې. د خوړو لپاره، مورِ کډوالو ته د خوړلو لپاره چمتو خواړه ورکول او د العدید هوای ډګر ترمینل کې مو د عملیاتو خونه جوړه کړله. د دغه خونې مشري د متحده ایالاتو پخواني شارژ دافیر سفیر ګریټا سي. هولټز کوله څوک چې په ځانګړي توګه د تخلیه او پناه ماموریت مشرۍ لپاره راغلی و. د قطر لخوا دلته د بهرنیو چارو وزارت؛ د وسله وال ځواکونو د نړیوالې نظامي همکارۍ اداره، لوژستیک او طبي خدمتونو؛ او د کورنیو چارو او ګمرکونو وزارت، د روغتیا وزارت، امبولانس خدمتونو او د قطر خیریه اداره غړي و. مورِ همدارنګه په شاتنۍ برخه کې په اختصاصي ډول د وسله وال ځواکونو لپاره ځانګړی شوې خونه جوړه کړه. د

په ناورينونو کې، په ځانګړي توګه بشري ناورينونو
کې همکاري کول او ودريدل د متحدينو رول دی.
موږ په هغه څه ویاړ کوو څه مو چې ترلاسه کړي دي.

~ ډګر جنرال عبدالعزيز صالح السليطي



افغان کډوال د قطر او متحده آيالاتو
ګډو هڅو په واسطه د هغوی د ژغورنې
وروسته د العديد هوايي بيس کې. رويټرز

قطر افغان کډوالو لپاره طبي پاملرنه وړاندې کوي.

د اخلاقي لارښود ریاست

قطر د افغانانو او نورو بهرنیانو تخلیه کې ونډه اخلي.

د اخلاقي لارښود ریاست

دې خونې مشري د عملیاتو مشر محمد حماد النیومي کوله. د دې خونې ملاتړ لپاره د روغتیا وزارت څخه یوه ټیم کار پیل کړ. دا چې د تخلیه تقاضا لوړه وه او وخت محدود و، مورډ حیران و چې الوتکو یوازې کډوال راوړل او هیڅ څوک هغسې تخلیه نشو څنګه چې موافقت شوی و. الوتکو د کابل څخه قطر ته د کډوالو رالیږدولو ته دوام ورکړ، چې شمیر یې ډیریده. مورډ داسې یوې مرحلې ته ورسیدو چې تر نیمې ورځې پورې مو په هرو 90 دقیقو کې 900 کډوال ترلاسه کول. دا شمیر په ورځ کې 4,000 ته ورسید او مورډ اړ و چې د ټرانسپورټ وسایل ورته چمتو کړو. هوای ډګر په پنځه یا شپږ ساعتونو کې د 10,000 څخه ډیرو کډوالو ترلاسه کولو لپاره مجهز نه و، او د دې دومره ډیرو خلکو لیږدول مشکل و. د الوتکو ځغاست لیکې ډکې وي، چې په یوه کې به پکې تر 40 پورې سي – 17 الوتکې د نورو هیوادونو د الوتکو سربیره وي. دې هرڅه قوي ټیمي روحیې او د لوړې سطحې همغږۍ ته اړتیا درلوده. خوشبختانه، ما شخصآ خپله د متحده ایالاتو د هوایی ځواک مرکزي قوماندې قوماندان تورن جنرال ګریګوري ګایلوټ، او د 379مې هوایی اعزامي څانګې قوماندان برید جنرال جرالډ دونوهی سره یوځای دې کار څخه خوند واخیست. مورډ په هوایی ډګر کې سره ولیدل، چیرې چې مورډ د ننګونو سره مقابلې او په خندونو د برلاسي کیدو لپاره یوځای کار وکړ. په العدید کې میشت د متحده آیالاتو سرتیرو هیڅ هڅې ونه سپمولې. د هرو 3,000 نفرو لپاره د متحده آیالاتو اردو یو ډګروال د هغه د ټولو افسرانو سره ګومارل شوی و، چې د تم کیدو پرته یې شپه ورځ د قطر هوایی ځواکونو او د بهرنیو چارو وزارت غړو سره یوځای کار کاوه. دا ټولې هڅې بریالیتوب ته ورسیدې. زما په یاد دي یوه ورځ سفیر هولټز وویل چې بهرنۍ الوتنې به ودرول شي او الوتنې به د کابل څخه راتلونکي هغو ته محدود شي. هغې وویل چې څو ساعتونه وروسته به، شمیر څو چنده ډیر شي او چمتو والی به کافي نه وي. هغه وویل چې مورډ به د ډیرې ننګونو سره مخ شو او دا انتخاب به ولرو چې د کابل څخه راتلونکې الوتنې به ومنو یا به یې رد کړو. دا پریکړه باید د عالي قوماندې لخوا راشي نو د همدې لپاره مورډ د دفتر رئیس خبر کړ. هغه د وزیر سره اړیکه ونیوله او بیا یې د دولت عالي قوماندې سره، هغوی پریکړه وکړه چې په شا نشو او مورډ باید د کډوالو هرکلي او هغوی ته د پناه چمتو کولو برخه کې د خپل ستراتیژیک متحد، د متحده ایالاتو ملاتړ وکړو. د تصویب وروسته، ټمه کیدله چې 30,000 خلک به راشي؛ پدې کې واردمخه 16,000 کډوال دلته و نو ټولټال شمیر 46,000 کیده. دا شمیر د کمپونو د ظرفیت څخه ډیر و، نو ما د سفیر عیسی المنایی، د بهرنیو چارو وزارت د امریکا د چارو څانګې رئیس سره اړیکه ونیوله. مورډ پریکړه وکړه چې د کډوالو د لیږد لپاره اضافي قطرې الوتکې چمتو کړو.

ما له سفیر عیسی وغوښتل چې د بهرنیو چارو وزارت ته غوښتنه وسپاري. ما همدارنګه د قطر وسله وال ځواکونو د دفتر رئیس تورن جنرال غانم بن شاهین الغانم سره اړیکه ونیوله او هغه ته مې تفصیلات ورکړل، په څانګړي توګه هغه څه چې د پنځه څخه تر اوه ورځو پورې کډوالو ګالل. هغوی د راتګ څخه مخکې پناه او خواړه نه درلودل، او اکثریت یې د لوړې تودوخې پرمهال ستومانه شوي و چې سټریا ورسره مل وه. ما د یوې سي – 17 الوتکې د کارولو غوښتنه وسپارله، که څه هم مورډ محدود شمیر درلودلې او ځینې په نورو ماموریتونو کې وې. د دفتر رئیس د دفاع وزیر ډاکټر خالد بن محمد العتیبه ته غوښتنه ولیږله، چې هغه بیا دا غوښتنه عالیجناب امیر ته وسپارله. د امیر مرستې د کډوالو لیږدولو لپاره 10 قطري ملکي الوتکې وټاکلې چې دا د ګڼې ګوڼې راکمولو په لړ کې یو ستر ګام و. په لومړیو 10 الوتکو کې د کډوالو لیږدولو وروسته، مورډ غوښتنه وکړله او 10 نورې الوتکې مو د کډوالو لیږدولو لپاره ترلاسه کړې. علاوه لدې، الوکره روغتون ټول پرسونل او د هغوی تجهیزات تخصیص شوي و، چې وسله وال ځواکونو ته دې د 35 ډالرو څخه ډیر لګښت پورې کړ.

په ناورینونو کې، په ځانګړې توګه بشري ناورینونو کې همکاري کول او ودریدل د متحدینو رول دی. مورډ په هغه څه ویاړ کوو څه مو چې ترلاسه کړي دي. مورډ د ډیرې کلونو راهیسې د متحده آیالاتو متحدین یو. په 1990مه لسیزه کې، امریکایی ځواکونه د قطر پوله کې راټول شو او په کمپونو کې ځای په ځای شو، کوم چې وروسته د العدید هوای بیس وګرځید. دا زمورډ د شریک، د متحده آیالاتو ملاتړ لپاره زمورډ د تیاریو برخه وه، او لاهم ده. العدید یو غوره مثال دی. دا د قطري او امریکایی ځواکونو ګډ بیس دی. په وروستیو کلونو کې، قطري ځواکونو د مخ پرودې توګه امریکایی وسلې کاروي. د دواړه هیوادونو ترمینځ ملګرتیا زمورډ د ځواکونو مهارت لوړ کړی دی، همدارنګه زمورډ بیس کې د متحده

قطر تخليه شوي افغانانو لپاره په العديد کې د هغوی بېړۍ تم کيدو پرمهال سيار حمامونه او دستشوی نصبوي. رويټرز

آيالاتو د ځواکونو حضور، چې په سيمه کې ثبات ته کټه رسوي. مورږ د متحده آيالاتو ځواکونو لخوا شوې هرې هڅې ستاينه کوو.

د العديد هوايي بيس پراختيا او پرمختک په لومړنيو مرحلو کې دی. مورږ د دواړه قطري او د متحده آيالاتو ځواکونو لپاره په څو مرحلو کې د ساحې د هراړخيز پراخوالي لپاره پلان لرو (د العديد هوايي بيس د پراختيا پروژه).

يونيپټ: آيا تاسې کوم اخرنی نظر لرئ؟

ډګر جنرال السليطي: زه غواړم د ټيمي روحيی او د تخليه عملياتو د مثبت اټموسفير ستاينه وکړم. زه بايد له هر هغه چا منه وکړم چې دې ننګونکي بشري ماموريت بشپړولو کې يې مرسته کړې ده. دا هرڅه د قطر د امير عاليجناب شيخ تميم بن حماد الثاني د ملاټر پرته، او همدارنګه د عاليجناب ډاکټر خالد بن محمد العتيه، د لومړي وزير مرستيال او د دفاعي چارو لپاره د دولت وزير د تعقيب پرته ممکن نه و. دا عمليات همدارنګه د هغه وخت دفتر رئيس تورن جنرال غانم بن شاهين الغانم د مستقيم لارښوونې لاندې، د قطري وسله وال ځواکونو د اوسني دفتر رئيس، تورن جنرال سالم حماد ال نابت په مشرۍ د اميري هوايي ځواک په ملاټر او مستقيم مداخلت سره ترسره کيدل. زه غواړم همدارنګه د مرکزي ځواکونو په ځانګړي توګه د نظامي پوليسو، لوژستيک، د عملياتو ځواک او د العديد هوايی بيس څخه منه وکړم. د بيس قوماندان ډګر جنرال يوسف شاهين العتيق، همدارنګه د استخباراتو ادارې او د نړيوال نظامي همکارۍ ادارې څخه ځانګړې منه.

د غيرنظامي ادارو په لړ کې، مورږ نشو کولی د بهرنيو چارو وزارت ستر رول هير کړو. دلته زه غواړم د آغلې لولو الخاطر، د بهرنيو چارو وزارت مرستيالې؛ عيسی محمد المنايی، د بهرنيو چارو وزارت د امريکا د چارو ځانګې رئيس؛ او د بهرنيو چارو وزارت د ټولو غړو څخه ځانګړې منه وکړم. همدارنګه د کورنيو چارو وزارت څخه هم ځانګړې منه، په ځانګړې توګه د عاليجناب برېد جنرال عبدالله ال مال او د هغې د ټولو کارمندانو څخه. د ګمرکونو ادارې، د روغتيا وزارت، د ښاروالۍ وزارت او هر هغه چا څخه ځانګړې منه چې دې بشري ماموريت بريالیتوب کې يې ونډه اخيستې. د الله ج د پيرزويني او د ټولو دې خلکو او ادارو د ملاټر پرته به وضعيت يو بشري ناورين وی. خورا ډيره منه! الله ج دې د قطر مشرتابه، خلکو او حکومت ساتنه وکړي. ✦

يونيبيث انخور

د نظامي شبکو سختول

د عراق دفاع وزارت د بریدونو کشف کولو او مخنیوي لپاره د مجازي امنیت ټیم جوړوي

یونیپټ کارکوونکی

ډیلیو د انټرنیټ او ګرځنده تلیفونو د چټکې پراختیا سره ټیکنالوژي د خلکو ورځني ژوند کې لازمي ګرځیدلې. دې ټیکنالوژیو د ټولنې ټولې برخې ښې کړې، پشمول د تعلیم، درمل، انجنیري، امنیت او اقتصاد. په هرصورت، منظم جرمي ډلو او تروریستانو د دې ټیکنالوژیو څخه ناوړه ګټه اخیستې، چې له امله یې هیوادونه اړ شوي د مجازي امنیت ټیمونه د مجازي بریدونو څخه د شبکو د محافظت کولو لپاره جوړ کړي. یونیپټ مجلې د عراق دفاع وزارت کې د نظامي ارتباطاتو ریاست رئیس، تورن جنرال رااد شاکر الکنعاني سره د وزارت د مجازي امنیت ټیم د دندو او لاسته راوړنو په اړه غږیدلو لپاره لیدنه وکړه.

یونیپټ: ستاسې ریاست د مجازي بریدونو پر وړاندې د عراق د خوندي کولو لپاره کوم ګامونه اخیستي دي؟

تورن جنرال راد: د مجازي امنیت په برخه کې د نظامي ارتباطاتو ریاست لومړی ماموریت د عراق د دفاع وزارت سیسټمونو او شبکو محافظت کول دي، سربیره پردې وزارت او د دې واحدونو پورې اړوند وسیلو او شبکو د کارولو لپاره ځانګړې پالیسۍ هم جوړوي. د همدې لپاره، دا ریاست د مجازي بریدونو مخنیوي لپاره د غوښتنلیک طرزالعملونو محافظت کولو لپاره د معلوماتو امنیت کنټرولونه او لارښوونې پرځای کوي. مونږ د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره د شبکې جوړولو او اداري څانګې سره کار کوو چې پټ محرم شبکې د خلکو پرمخ تړلې پاتې شي او عامه شبکو لکه انټرنیټ سره وصل نه وي، همدارنګه د اړوند تخنیکي ریاستونو په همکارۍ سره نور طرزالعملونه. یوه تړلې شبکه هغه وي چې نظامي بریښنالیک، ویب سایټونه او قراردادونه پکې وي. مونږ بل آنلاین عامه شبکه هم لرو چې د تړلې شبکې څخه جلا ده. دا د وزارت د رسمي ویب سایټ له لارې مدیریت کیږي او د خلکو سره ښکیل وي.

مونږ همدارنګه د شبکې کاروونکو لپاره د پوهاوي روزنې برنامې د مجازي تروریزم د خطرونو په اړه او د وزارت د لارښوونو سره مطابقت د اړتیا په اړه په لاره اچوو ترڅو شبکه د سرغړونو څخه محافظت شي. علاوه له دې، د فلمونو کتلو یا آنلاین لوبو لوبیدو لپاره د وزارت وسایلو یا سي.ډي – رومز کې د شخصي یو.ایس.بي نه کارولو باندې تاکید کیږي، او په وسایلو کې د بهرني پروګرامونو لوډ کول په کلکه منع دي.

> پدې برخه کې همکاري د ملي شبکې امنیت لپاره او د نورو تخصصي امنیت ادارو سره د ښو اړیکو جوړولو لپاره خورا لازمي ده، ترڅو معلومات سره تبادله شي او د ګواښونو او بریدونو په وړاندې غوره میتودونه خپل کړی شي.

یونیپټ: دا وزارت د مجازي امنیت تقویت کولو لپاره د نورو امنیتي ادارو سره څنګه کار کوي؟

تورن جنرال راد: مونږ د نورو امنیتي ادارو سره د مجازي امنیت په برخه کې د ګډو کمیټو له لارې مستقیم همکاري پالو لکه د ارتباطاتو او معلوماتي ټیکنالوژي عالي کمیټه او د مجازي امنیت ملي ستراتیژي د جوړولو دنده لرونکې کمیټه. د کمپیوټري پیښو د غبرګون ملي ټیم سره د مجازي جرمونو قانون او همکارۍ په اړه هم بحثونه کیږي. په دې برخه کې همکاري د ملي شبکې امنیت لپاره او د نورو تخصصي امنیت ادارو سره د ښو اړیکو جوړولو لپاره خورا لازمي ده، ترڅو معلومات سره تبادله شي او د ګواښونو او بریدونو په وړاندې غوره میتودونه خپل

کړی شي. دا د ګډو عملیاتو قوماندې له لارې په ائتلافي ځواکونو کې زموږ د ملګرو سره د کار کولو سربیره دي، چیرې چې د مجازي امنیت اطلاعات او استخبارات تبادله کیږي، همدارنګه د تروریستانو پټن ځایونو کې د وسایلو څخه اطلاعات اخیستل کیږي، چې دا موږ ته زموږ سایټونو باندې د تروریستي بریدونو سره مبارزې لپاره وړتیا راکوي.

معلوماتي امنیت برخه کې تخصص لرونکي افسران باید په ټولو تشکیلاتو کې وګومارل شي او د مجازي امنیت ټیم لخوا وروزل شي، او هغوی بیا د لارښوونو تعقیبولو لپاره سرتیرو ته ښوونه او روزنه وکړي.

یونیپټ: د آنلاین بریدونو څخه د رایه ورکولو مرکزونو محافظت کولو کې ستاسې رول څه دی؟

تورن جنرال راد: د دفاع وزارت په حیث، راکړل شوې دنده د دوديز تروریستي بریدونو او بلوا څخه د رایه ورکولو مرکزونو محافظت دی، او د نظامي ارتباطاتو ریاست ته دنده نده ورکړل شوې چې د مجازي بریدونو څخه یې ساتنه وکړي. په هرصورت، لکه څنګه چې ما پورته یادونه وکړه، موږ د مجازي امنیت په برخه کې د نورو تخصصي امنیتي ادارو سره کار کوو ترڅو د بهرني بریدونو څخه ملي شبکه خوندي کړو، او موږ د هیڅ غیرنورمال سرغړونې یا فعالیت څخه خبر شوي نه یو.

یونیپټ: آیا ستاسې دنده د دفاع وزارت تاسیساتو محافظت کولو پورې محدود ده یا دې کې نور دولتي یا د خصوصي سیکتور تنصیبات هم شامل دي؟

تورن جنرال راد: د نظامي ارتباطاتو ریاست دنده د اړوند تخنیکي ریاستونو سره په همکاري، د دفاع وزارت تاسیساتو محافظت پورې محدود ده. په هرصورت، دا ممکن نه دي چې د وزارت د شبکو مجازي امنیت د نورو دولتي شبکو څخه جلا شي؛ د همدې لپاره موږ ډاډ ترلاسه کوو چې د وزارت وسایلو کې هیڅ ډول سرغړونه او نفوذ پیښ نشي، که نه دا شبکه نورو حساس حکومتي ویب سایټونو باندې د برید کولو لپاره بوټ ګرځي. دا د مجازي ګواښونو په اړه او د شبکې امنیت ساتلو څرنګوالي په اړه زموږ د پرسونل روزنې ته اړتیا لري. لکه څنګه چې د بهرني ګواښونو څخه د شبکې محافظت کولو لپاره موږ متوجه یو، موږ د وزارت د شبکې آنلاین اینپوټ او آوټ پوټ نظارت کوو، او څه چې د نورو حکومتي شبکو څخه راوځي. موږ د ملویر او د ویروس د کشف کولو غوښتنلیکونه لرو، چې تل تازه کیږي.

یونیپټ: تاسې د غیر رمز وهل شوي وسایلو کارولو مخه څنګه نیسئ؟

تورن جنرال راد: د دفاع وزارت د مجازي امنیت څانګه په دې وروستیو کې په د نړیوالې ټیکنالوژیکي چټک پراختیاو سره د هم مهاله کیدو لپاره جوړه شوې ده. دا چې د 2003 میلادي کال مخکې عراق د نړۍ څخه جلا کړی شوی و، موږ نشو کولی په تیرو دوه لسیزو کې د ټیکنالوژۍ پراختیاو سره ځان هم مهاله وساتو. ګرځنده تلیفونونه د ارتباط ترجیحي بڼه ګرځیدلې. دا ممکن نه و چې ټول نظامي واحدونو ته ښوونه ورکړل شي چې هغوی باید په نظامي ارتباطاتو کې ګرځنده تلیفونونه ونه کاروي یا د نظامي عملیاتو په اړه د محاربې ډګر څخه اړیکې ونه نیسي. موږ د ځینې سرتیرو ترمینځ ناسم چلند مشاهده کړی چې د محاربې ډګر انځورونه او ویډیوګانې یې اخیستي، او همدارنګه د محاربې پرمهال د تشکیل قوماندانانو لخوا د ګرځنده تلیفونونو کارول. پدې تړاو لازمي اقدامات شوي و. د غیرخوندي او غیر رمز وهل شوي وسایلو او ارتباطاتو کارولو مخنیوي لپاره ځانګړې لارښوونې او مقررات شتون لري. استعمال یې په اختصاصي ډول د نظامي ارتباطاتو ریاست لخوا مجاز رمز وهل شوي او خوندي وسایلو لپاره دی. په هرصورت، دا ډول سرغړونې په خورا پرمختللي اردو ګانو کې هم پیښیږي. د همدې لپاره، معلوماتي امنیت برخه کې تخصص لرونکي افسران باید په ټولو تشکیلاتو کې وګومارل شي او د مجازي امنیت ټیم لخوا وروزل شي، او هغوی بیا د لارښوونو تعقیبولو لپاره سرتیرو ته ښوونه او روزنه وکړي.

یونیپټ: تاسې د 2021 سپتمبر کې د مجازي امنیت پیښو غږګون ټیم کنفرانس کې برخه واخیسته. آیا تاسې کولی شئ د کنفرانس د سپارښتنو په اړه وغږیږئ؟

تورن جنرال راد: د کنفرانس اقدامات نهایت مهم و، موضوعاتو یې اوسني واقعیی ګواښونو باندې تمرکز درلود. زه په کنفرانش کې ګډون لپاره خوشحاله وم او امنیتي خدمتونو کې مې زموږ د وروښو سره اشنا شوم، د هغوی وروستي تاکتیکونه مې ولیدل او پدې برخه کې مې د هغوی د تجربو څخه ګټه پورته کړه. د مجازي امنیت د کنفرانس سپارښتنې پدې لاندې توګه وې:

1. ټولو دولتي نهادونو ته د مجازي امنیت پراختیا پروګرام چمتو کولو لپاره د یوه نوښت په لاره اچول.
2. د لوړو زده کړو او ساینسي څېړنې وزارت کې د مجازي امنیت برخه کې د اکاډمیک او مسلکي نصاب او د تخصصي لوړو زده کړو خپلول.
3. په مجازي امنیت کې د ماهرینو، اماتورانو او متخصصینو د یوه انجمن جوړولو له لارې د وړتیا جلبول. د دې کار کولو

لپاره د ټولنې د نوښت پراختیا فنډ د مدني ټولنې سازمانونو او د خصوصي سیکتور په ملاتړ په لاره واچول شو.

4. د عراق د کمپیوټر بیړنۍ غبرګون ټیم (آی.کیو.سي.ای.آر.ټي)، د لوړو زده کړو او ساینسي څېړنې وزارت، د خصوصي سیکتور شرکتونو، او نړیوالو سازمانونو د ځایی سي.ای.آر.ټي ټیمونو روزنې او پراختیا ته سمون ورکړ. د عراق د کمپیوټر بیړنۍ غبرګون ټیم د مجازي امنیت شرکتونو لپاره مقررات جوړ کړل او د مجازي امنیت نړیوال شاخص کې د عراق د موقعیت لوړولو لپاره یې یو ستراتیژیک پلان جوړ کړ.

یونیپټ: وزارت د مجازي امنیت ټیم څنګه انتخابوي او چمتو کوي؟

تورن جنرال راد: د ټیم غړي د عراق دفاع وزارت پورې تړاو لرونکي د تخصصي تخنیکي ځانګې پرسونل څخه غوره کیږي. د ټیم پرسونل باید د مجازي امنیت برخه کې تجربه لرونکي او ماهر افسران او انجنیران وي، او نوماندانو باید امنیتي ارزونه بشپړه کړې وي.

یونیپټ: هغه قوانین چې له مخې یې مجازي مجرمین په عراق کې محکمه کیږي څومره سخت دي؟

تورن جنرال راد: د 2021 وروستیو پورې، عراق لاهم د مجازي جرمونو پر وړاندې قانون پاس کړی نه و، مګر د قانون مسوده د استازو شورا لخوا تصویب ته په ټمه ده، چې بیا باید د حکومت لخوا تصویب شي. موږ د دې قانون تصویب ته په ټمه یو ترڅو د مجازي جرم ترسره کونکو ته جزا ورکړو او مخنیوی یې وکړو او د تاوان یا سبوتاژ موخو لپاره د نورو دولتي سیسټمونو باندې برید کولو په موخه د عراق د ملي شبکې د لنچپیډ په توګه کارولو څخه د منظم مجازي جرمونو د ډلو مخه ونیسو.

مجازي امنیت د هرچا مسؤلیت دی، او حتی جلا سرغړونې کولی شي د نړۍ ټولو هیوادونو باندې مستقیم اغیزه وکړي.

یونیپټ: د مجازي ټیکنالوژیو ښه کولو لپاره تاسې د ملګري هیوادونو سره څومره همکاري کوئ؟

تورن جنرال راد: مجازي امنیت د هرچا مسؤلیت دی، او حتی جلا سرغړونې کولی شي د نړۍ ټولو هیوادونو باندې مستقیم اغیزه وکړي. کله چې زه جلا وایم، زما مقصد له جغرافیه ای پلوه جلا دی، نه بریښنایی پلوه. ډیجیټل پیر ټوله نړۍ وصل کړې او هیڅ یو ځای یې جلا ندی پریښی. د دې د سترو ګټو سربیره، دا د ځان سره ستر خطرونه هم لري چې موږ تحمیل شوي، نو د همدې لپاره موږ د هر هغه چا مخنیوي ته متوجه یو چې د جرمي موخو لپاره، هغه که ځایی وي یا د ملیتونو ورهاخوا وي، د معلوماتو ټیکنالوژۍ څخه ناوړه ګټه اخیستنې ته لیواله وي. انټرنیټ، بریښنالیک او ټولنیزو رسنیو نړۍ په یوه کلي اړولې، او په ورته وخت کې شوني شوي چې ملویر او ویروسونه په ډیرې چټکۍ سره خپاره شي. د همدې لپاره، د متحد هیوادونو ترمینځ نړیواله همکاري او د معلوماتو تبادله لازمي دي. همکاري د متحد هیوادونو سره د ځانګړي امنیتي کورسونو او د تمرینونو او سیالیو په لاره اچولو له لارې هم کیږي لکه په 2020 کې د متحده آیالاتو سفارت د دفاع همکارۍ دفتر لخوا په لاره اچول شوې د مجازي جنګیالیو سیالي. دا کورسونه او تمرینونه ګډون کونکو ته ډیره ګټه رسوي.

موږ د فعالیت د سطحو ساتلو لپاره په لیوالتیا سره د عراق د پوهنتون فارغینو او د دفاع وزارت د پرسونل څخه د عالي مهارتونو لرونکي خلک جلبوو.

یونیپټ: د دفاع وزارت د سیګنال او ارتباطاتو ریاست ځان څنګه د چټکې ټیکنالوژۍ پراختیا سره هم مهاله ساتي؟

تورن جنرال راد: موږ یو ټیم لرو چې د ټیکنالوژۍ پراختیا څېړنه او تعقیب کې تخصص لري، او موږ همدارنګه لیواله یو د مجازي امنیت ته ځانګړي کنفرانسونو او ورکشاپونو کې ګډون وکړو. موږ د وزارت د څېړنې او پراختیا مرکزونو او د تکنیکي پوهنتونونو سره زموږ د کارمندانو د مهارتونو پراختیا لپاره کار کوو. علاوه له دې، موږ په ناټو یا متحد هیوادونو کې تخصصي کورسونو ته زموږ د پرسونل لیږلو پلان لرو. موږ د فعالیت د سطحو ساتلو لپاره په لیوالتیا سره د عراق د پوهنتون فارغینو او د دفاع وزارت د پرسونل څخه د عالي مهارتونو لرونکي خلک جلبوو.

یونیپټ: آیا داعش د دفاع وزارت ویب سایټونو پر وړاندې مجازي بریدونه کړي دي؟

تورن جنرال راد: نه، داعش مخکې د دفاع وزارت سایټونو باندې مجازي برید نه دی ترسره کړی. شاید د دې دلیل دا وي چې د وزارت شبکه د لوړې سطحې کنټرول استحکام او د معلوماتو امنیت تجربه لرونکی ټیم لري، علاوه لدې دا شبکه د خوځښتونو او د سرتیرو لپاره یوه ټرلې شبکه ده. ✦

د یمن مشروع حکومت ته وفادار سرتیری په مارب سیمه کې د لومړۍ کرښې سروی کوي، چیرې چې حوثیانو د اوربند لپاره د نړیوالو هڅو سرېره بریدونو ته دوام ورکړی دی.

ای ایف پي/گیټي انځورونه

د یمن ساتل د ارضي تمامیت

په یمن کې ایراني مداخلت په دې هیواد کې کورنۍ جګړې د سیاسي جوړجاړې مذاکراتو مخنیوی کوي

ډاکټر احمد عواد بن مبارک، د یمن د بهرنیو چارو وزیر

په یمن کې د مشروع اداري پر وړاندې د کودتا په تعقیب د یمن د خلکو پر وړاندې د حوثي ملیشه لخوا د جګړې د پیل کولو راهیسې اوه کلونه تیر شو. دا جګړه خطرناکه ده نه یوازې د دې لپاره چې حوثي ملیشه غواړي قدرت خپل کړي، بلکه هغوی د یمني ټولنې د څرنګوالي بدلون په لټه کې هم دي، ترڅو یې راتلونکی خراب کړي او همدارنګه د سیمې چې په پراخه کچه ماشومان ګواښي او ځوانانو ته روزنه ورکوي چې تاوتریخوالی تحریک کړي، د شخړو لامل شي او د یوه ورته هیواد د اوسیدونکو ترمینځ کرکه خپروي. علاوه لدې، حوثیان هڅه کوي په ټولنه کې جهل خپور کړي ترڅو یې کنټرولول اسانه شي، او هغوی د یمنیانو د بې وزله کولو لپاره کار کوي او په جنګونو کې د هغوی د ګومارلو لپاره یې استثماروي. دې هرڅه یمن په سیمه کې د ایران د پراختیا غوښتنې ستراتیژۍ یوې ستنې ګرځولو لپاره کتور چاپریال برابر کړی دی.

ایراني پروژه اوس واضح ده. د هغوی ملیشه عرب ټاپو وزمه محاصره کړی. د نظامي وړتیاو په درلودلو سره، خطر پراخه شوی دی. پدې کې هیڅ شک نشته چې په یمن کې د ایراني پروژې ناکامي به په ټوله سیمه کې د ایراني پروژې د ناکامۍ ډاډ وي. په یمن کې د هغې بریا به د جګړې نوې مرحله پیل کړي او د تاوتریخوالي او ناکرارۍ د یوې بلې دورې لامل به شي. زه غواړم واضح کړم چې نن مونږ چیرې ولاړ یو او په یمن کې د سولې ته رسیدو لپاره زمونږ لیدلوری څه دی.

د جګړې په دې مرحله کې، د مارب سیمه باندې د ټولو هغو تمرکز دی ځوک چې د یمن مسله تعقیبوي. د 2020 نومبر راهیسې، حوثي ملیشه د مارب پر وړاندې دوامداره برید پیل کړی دی. دا ډول برید د دې کینې په واسطه پرمخ وړل کیږي چې د دې خیال څخه کم مضر څه ندي چې ملیشه کولی شي دا سیمه ونیسي او پراخه خیال یې د تاوتریخوالي، تروریزم او نظامي ځواک په مرسته د یمن کنټرولول دي.

يمني ماشومان په حديده کې د بې ځايه شوي خلکو لپاره په يوه کمپ کې ښوونځي ته ځي، د جنګ قربانيان چې حوثيانو د ايران په خدمت کې غزولی دی. د جګړې له امله، د ښوونځي د عمر 2 ميليون ماشومان منظم ښوونځيو ته هيڅ لاسرسی نلري.

ای ایف پی/ګیټي انځورونه

د مارب سيمې، د خپل تاريخي اهميت سره ملي او ستراتيژيک اهميت خپل کړی دی. ډيری خلکو شايد هير کړي وي چې دې سيمې په 2015 کې حوثيانو ته د خورا لږو محاربوي وړتياو سره د هغه څه پرتله چې نن يې لري ماته ورکړې وه، چې نفوس يې د 350,000 خلکو څخه ډير ندی. دا نن ډيره وړه ده. دا ځای د يمن بيلابيل ټولنيز او سياسي تړاو لرونکي خلکو لپاره د 4 ميليون نفوس سره يو خوندي ځای ګرځيدلی دی، چې پدغو کې د 2 ميليون څخه ډير کورنۍ بې ځای شوي خلک دي. دا خلک د داسې يوې اردو ملاتړې دي چې ملي عقيده لري او د حوثي پروژې پای ته رسولو لپاره کلکه او نه ماتيدونکې ليوالتيا.

سره لدې، لازمي ده چې يادونه وشي ځينې شريکانو د مارب وروسته سناريو په اړه خبرو پيل کولو سره ناسمه محاسبه کړې. که چيرې مورږ د داسې يوې سناريو په اړه وغږيږو چې زمورږ لپاره غيرواقعيی ده، مورږ به له شک پرته وايو چې که حوثيان مارب کنټرول کړي، نو دا به هغومره ناوړه وي لکه کله چې د دې تاريخي مشهور ډيم تخريب شوی و. نن ورځ، مارب د يمنيانو لپاره نه ماتيدونکی ديوال دی. دا د ايراني رژيم يو له ستراتيژيک لومړيتوبونو څخه ګرځيدلی. د مارب ماتيدل به نه يوازې د ويرونکي انساني وضعيت لامل شي، بلکه دا به په يمن کې د سياسي او سولې پروسې پايله هم وي. دا به د امنيت او ثبات پرځای کولو لپاره هڅې هم پای ته ورسوي. ګډوډي به حاکمه شي؛ نور تاوتريخوالی، داخلي جنجال او د مهاجرت څپې به پيدا شي. دا به د دايمي بې ثباتۍ وضعيت پيل وي چې شايد د يمن څخه د پاتې سيمې په لوري تلونکي د نورو جګړو لامل به شي.

په يمني حکومت کې زمورږ ليدلوری او طريقه پدې توګه ده: په يمن کې د سولې هيڅ بديل شتون نلري. يوازې هراړخيزه او پايښت لرونکې سوله بايد د جګړې سياسي ريښې په ګوته کړي، چې په يمن د زور او ځواک په واسطه د خپل کنټرول او واک تحميل کولو لپاره د حوثي مليشه لخوا د شوي هڅې استازولي کوي.

په يمن کې د ايران تخريبي مداخلت سربيره، د حوثي مليشه لپاره د دې د نظامي ملاتړ او د خپلې جګړې ماشين د ټويل کولو سربيره، په يمن کې جګړه د يوې سيمه ييزې نيابتي جګړې په توګه ګڼل يو ناسم تعبير دی چې بايد اصلاح شي. په يمن کې د سولې هيڅ جوړجاړی د هراړخيز ملي ډيالوګ کنفرانس د پايلو سره په مطابقت کې د يمنيانو د داخلي ستونزو د حل موافقت کولو او د ځواک او شتمنۍ مساوي ويش پرته بريالی نشي کيدی.

په هرصورت، په ورته وخت کې، په يمن کې د ايران د مداخلت جيو ستراتيژيک بعد له پامه غورځول او سره سمندرګي او عرب سمندر ته د ايران د نږدې کيدو ليوالتيا له پامه غورځول به غلط وي. داسې کوم څه به په جګړه کې ايران ته وراضافه شوی ستراتيژيک ارزښت ورکړي او سيمه ييزه او نړيواله سيالي به ډيره کړي.

په حوثي خوځښت کې د ايران پانګوونه وختي پيل شوه او د دوهمې زريزې په پيل کې ډيره شوه. د متحده آيالاتو بحري ځواک لخوا نيول شوي د جګړې څخه څو کلونه مخکې په وسلو او مزايلو بار حوثيانو ته تلونکي د ايران کښتۍ جهان 1 او جهان 2 د دې خبرې ثبوت دی. دا مورږ ته وړتيا راکوي چې په حقيقت کې دا ادعا شکاره کړو چې اوسنۍ جګړه په يمن کې د ايران د مداخلت ترشا لامل دی.

د متحده آیالاتو یوه جنګي بېړۍ یمن ته د چاودیدونکي توکو جوړولو لپاره د کیمیاوي سړي لیږدونکې کښتۍ نیسي.

اسوشیتد پرس

په غلطو تصوراتو کې مورِ دا یادونه هم کولی شو چې حوثیان چې هرکله نظامي پرمختګ وکړي سوله ردوي. په حقیقت کې، هغوی سوله د ستراتیژیک اصل په توګه ردوي که هغوی له نظامي پلوه پرمختګ کوي یا په شا تګ، او هغوی د سولې سره د هغوی نظامي ستراتیژي کې د تاکتیک په توګه عمل کوي. مورِ پدې تړاو لسګونه شواهد لرو. تر ټولو روښانه یې ممکن د ستاکهلم تړون دی، کوم چې حوثي ملیشه د 2018 دیسمبر کې قبول کړ او د دې هیڅ شرایط یې پلي نکړل.

پدې باندې پوهیدل مورِ سره مرسته کوي د داسې یوې ډلې سره سولې ته رسیدو لپاره مناسب طریقه باندې پوهه شو چې خپله محاسبه د حقایقو پربنسټ نه کوي، بلکه د واک چلولو لپاره د خدایی حق ادعا په تصور ولاړ تیوکراتیک افکارو له مخې کوي. دا د جنیوا څخه نیولې تر کویټ او حتی ستاکهلم پورې د سولې ټولو دورو کې د ټرونونو خنثی کولو ستر ویرونکی خنډ دی. که چیرې مورِ دا ښکاره حقیقت په پام کې ونیسو، مورِ کولی شو ووایو چې د حوثي ملیشه لپاره تر ټولو مهم ازمیښت – داسې یو ازمیښت چې هغوی یې تل ردوي – د خورا مهم بشري ګام په توګه د هرارخیز اوربند منل دي. نورې ټولې بشري مسلې مذاکراتو ته تګ نه مخکې په ګوته کیدی شي ترڅو یو هرارخیز سیاسي حل پیدا شي.

مورِ باور لرو چې په یمن کې د ایراني پروژې سره مخالف ټولو معتدل سیاسي ځواکونو انسجام او وحدت د سیاسي جوړجاړي په لوري لومړی شرط دی. د امنیتي او نظامي ضمیمې سربیره، د ریاض ټرون بشپړیدی او پلي کیدی شي، ځکه چې دا د سولې، امنیت او ثبات ته رسیدو لپاره اساسي ستنه جوړوي.

د یمني حکومت لپاره سیمه ییز او نړیوال ملاتړ په اقتصادي ننګونو کې برلاسي کیدو او د سیاسي، اقتصادي او بشري مشارکت پیاوړي کول به حکومت ته ورتیا ورکړي معتدل یمن وسایل چې د نړۍ سره یوشان انساني ارزښتونه او اصول ولري. مورِ د سیمې او نړۍ هیوادونو ترمینځ دوامداره هڅو اهمیت باندې پوهیږو چې په ایران فشار اچوي په یمن کې خپل ورانکاري فعالیتونه ودروي، ترڅو مینځنی ختیځ د امنیت، سولې او ثبات څخه خوند واخلي.

زمورِ هیواد کې سولې ته رسیدل د ملیشه و محدود کولو او د ستونزو په ګوته کولو او د هغه ستونزو لیرې کولو لپاره کافي دي چې هغوی د یمن ټولنې ته پیښې کړي دي. د همدې لپاره مورِ اړ یو سولې ته رسیدلو هدف لپاره ټولو هڅو سره انعطافي عمل وکړو چې زمورِ د ملي اصولو، د خلیج د همکارۍ شورا نوښت او د دې اجرایوي میکانیزم، د هرارخیز ملي ډیالوګ کنفرانس او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د حل 2216 پایلو سره په لیکه کې اوسي، ترڅو په یمن کې د امنیت او ثبات پرځای کولو لپاره هرارخیزه، عادلانه او دوامداره سوله ترلاسه شي.

په پایله کې، زه د لوی مصیبت لرونکي چاپیریالي خطر یادونه کوم چې هرڅوک یې په حقیقت کې د دې د مخنیوي لپاره د واقعیی هڅو کولو پرته، په ټمه دي: د تیلو ټانکیو سیفر کې د اوه کلونو لپاره خوندي د 1 میلیون بیرل څخه ډیرو خام تیلو لیک کید یو واقعیی ناورین دی چې دا به د یمن او د سیمې سمندري چاپیریال تباه کړي، په ځانګړې توګه د سور سمندرګي او د سور سمندرګي د ساحو. حوثیانو لاهم ټانکرې یرغمل نیولې دي. هغوی د ملګرو ملتونو د ټیمونو لخوا د دغو ساتلو ته اجازه نه ورکوي. ✦

دا د ماناما ډیالوګ په لړکې د 2021 نومبر کې په بحرین کې د سیمه ییز امنیت 17مې غونډې کې د شوي وینا یوځه لنډه نسخه ده.

د پاکستان
د ډیجیټل ملکیت
محافظت کول

نوموړي هیواد د بریدونو پر وړاندې د شبکو د ښه کولو لپاره د هیواد د مجازي امنیت لومړۍ پالیسي خپله کړه

یونیپټ کارکونکی

په کمپیوټري شبکو د مجازي بریدونو په تړاو اندیښمن د پاکستان فدرالي کابینې د 2021 جولای کې د هیواد د مجازي امنیت لومړۍ ملي پالیسي تصویب کړه. د پاکستان د معلوماتي ټیکنالوژۍ او مخابراتو وزارت د مجازي مجرمینو او د باالقوه جیوپولیټیکي سیالانو څخه د هیواد د ډیجیټل شتمنیو محافظت کولو لپاره دا پالیسي لیکلې ده.

پاکستان پالیسي په یولړ کټګوریو ویشلې – حقوقي، تخنیکي او تشکیلاتي ــ ترڅو هغه څه ته وده ورکړي چې د هیواد د اطلاعاتو وزیر د انټرنیټ سره وصل وسیلو ناکافي محافظت ګڼلی. له 65 میلیون څخه ډیر پاکستانیان انټرنیټ ته لاسرسی لري، او دا هیواد لکه د نړۍ د نورو هیوادونو په څیر سوداګري او حکومتي خدمتونه آنلاین پرمخ وړي.

پاکستان به دا پالیسي د حکومت د کمپیوټر بیړني غبرګون ټیمونو شته کاري چوکاټ کې ځای په ځای کړي.

د پاکستان د معلوماتي ټیکنالوژۍ او مخابراتو وزیر سید امین الحق اعلان وکړ، "د معلوماتي ټیکنالوژۍ وزارت او ټولو اړوند عامه او خصوصي نهادونو ته به هرډول ممکن مرسته او ملاتړ د دې ډاډ ترالسه کولو لپاره ورکړی شي چې د هغوی ډیټا، خدمتونه، د معلوماتو او مخابراتو ټیکنالوژي محصولات او سیسټمونه یې د مجازي امنیت د شرایطو سره سمون ولري."

دلته د لارښوونو هغه مثالونه ورکړل شوي چې د پاکستان د نوي مجازي امنیت پالیسۍ لخوا ترویج شوي:

- هیواد د مجازي امنیت ستراتیژي د ځارلو لپاره د مجازي حکومتولۍ پالیسي کمیټې جوړول.
- بریښنالیک له لارې درغلۍ، حکومتي شبکو ته ورننوتلو او د ملویر ککړتیاو د مخنیوي لپاره د "فعال دفاع" په لاره اچول.
- ملي حساس معلوماتي زیربنا او د حکومت د معلوماتو سیسټمونو د مقاومت خوندي کول او ښه کول.
- عامه – خصوصي مشارکت هڅول ترڅو د هغه تشبثي نوښتونو څخه ګټه واخیستل شي چې پاکستان ته یې فایده رسیږي.
- مجازي امنیت د ځیرنې او پراختیا پرمخ وړل او سپانسر کول، پشمول د پرسونل لپاره د پرمختللې روزنې.
- مجازي امنیت ملي کلتور ترویج کول چې پدې کې د کمپیوټر او ځیرک تلیفونونو کارونکي د حیاتي معلوماتو محافظت کولو ته هڅول کیږي او ښوونه ورکول کیږي.
- مجازي امنیت نړیوال شاخصونو کې د پاکستان درجه بندۍ ښه کولو لپاره د نړیوالې همکارۍ او ملتیا په ګوته کول.
- پرمختللي قوانینو او مقرراتو سره د مجازي جرمونو د غبرګون میکانیزم جوړول.
- پرمختللي تصدیق او تایید میکانیزمونو په کارولو سره ډیجیټل لیږدونو او انتقالاتو کې د باور رامینځته کول.
- ټیکنالوژۍ پاکستانی ژورنالیست جهانګیر مدثر چې د پاکستان اردو مجلې حلال کې لیکنې کوي، تاکید کوي چې د بریدونو پر وړاندې د کمپیوټرونو او ګرځنده تلیفونو محافظت کولو لپاره په ټوله ټولنه کې د پوهاوي په برخه کې اوښتون ته اړتیا ده.

مدثر لیکلي، "مجازي امنیت د ځانګړي پروتوکول فعالولو لپاره د یوې تنې د وهلو مسله نده. دا یو کلتور دی چې باید زموږ د ژوند د څرنګوالي برخه وګرځي، د یوه تبعه، دولتي کارمند، یا هم د امنیتي ځواکونو څخه د خلکو په توګه."

"زموږ د اوسني او راتلونکي مجازي امنیت ښه کولو لپاره، د مجازي امنیت هرارخیزه پالیسي باید زموږ د مقرراتو برخه وي چې ټول شریکان یې باید ترویج کړي." ✦

سرچینې: د پاکستان د معلوماتي ټیکنالوژۍ او مخابراتو وزارت، حلال، ډاون، یوراشیا بیاکتنه

په فیصل آباد کې پاکستاني پلورونکي د کمپیوټرونو څخه ګرځنده تلیفونونو ته فایلونه ډاونلوډ کوي. د هیواد د مخ پرودې معلوماتي ټیکنالوژۍ استعمال په لړکې حکومت اړ دی مجازي پالیسۍ پیاوړې کړي.

ای ایف پي/ګیټي انځورونه

د یونیسف انفوګرافیک

د استخباراتو د نښه کولو اړتیا

عصام عباس امین، د استخباراتو او امنیت ریاست، عراق د دفاع وزارت

د استخباراتو ټولنه د غیرواندوینه شوي پیښو د مخنیوي په اړه د غیرواقعیي تمو او توقعاتو د بوج ګاللو سره مخ ده، په ځانګړي توګه هغه پیښې چې د دولت حاکمیت یا داخلي امنیت په نښه کوي. د دې یو مثال د 2021 نومبر په 7 نیټه د عراق لومړي وزیر په کور د دوه ډرون الوتکو بریدونه دي.

د څرنګوالي له پلوه، د استخباراتو ناکامۍ تل د استخباراتو خدمتونو د وړتیا او د هرډول امنیتي سرغړونو د مخنیوي لپاره د دې د کاري میتودونو په اړه پوښتنې راولاړې کړي دي.

د استخباراتو ستونزه دا ده چې تل د نیوکو او انتقاد سره مخ وي. حتی نښه مخینه لرونکي استخباراتي خدمتونه لکه د متحده آیالاتو هغو هم د خپل تاریخ په اوږدو کې ستراتیژیک ناکامۍ تجربه کړي دي. په مثالونو کې یې چې ذهن ته راځي په کال 1941 کې د پیرل هاربر برید، په کال 1950 کې د شمالي کوریا لخوا د سهیلي کوریا نیول، په کال 1968 کې د شوروي لخوا چک او سلواکیا کې مداخلت او په 2001 کال کې د 11 سپتمبر بریدونه شامل دي. ځینې وختونه یوه اداره کافي خبرداریو ورکولو کې پاتې راځي، لکه څنګه چې 11 سپتمبر پیښ شو، یا هم ډیر مګر ناسم خبرداري ورکوي، لکه د عراق د ستر تخریب وسلو د درلودو مورد.

په دواړه پیښو کې ناکامي ښکاره وه او نیوکې سختې. جوت باور دا دی چې استخبارات باید هرځله صحیح او سم وي. دا کار په واقعیي نړۍ کې ناشونی دی، چې د ستړې ناهیلۍ سرچینه ده که چیرې غیرواندوینه شوي کوم څه پیښ شي.

د استخباراتو خدمتونه کولی شي په نسبي ډول خپل رول نښه ولوبوي که چیرې پوښتنه د یوه ګاونډي دلت وضعیت پورې تړلې وي لکه ایران یا دا چې عراق به څومره څه ګاللي وی که چیرې یې په یوه ځانګړي موقعیت برید شوی وی. دا ډول استخبارات پرانیستي - پای لرونکې پوښتنې په ګوته کوي، او په موضوع باندې د پوهیدلو وړتیا د معتبر معلوماتو پرتله نښه انګیرنو او فرضیو باندې تکیه لري.

مګر د مثال په که پوښتنه دا وی چې داعش به بل برید کله او چیرې کوي، نو څه؟ دا موضوع مختلف ده ځکه چې دقیق ځواب لپاره باید د دې سازمان داخلي کړیو ته ننوځئ، کوم چې د معلوماتو راټولولو میتودونو کې د پرمختګونو تړلاسه کولو لپاره زمونږ وړتیا پورې تړاو لري.

علاوه لدې، د استخباراتو د کار کیفیت نښه کول مشکل دي، په ځانګړي توګه د غیرواندوینه شوي پیښو د مخنیوي لپاره د تحلیلي میتودونو په تړاو. د معلوماتو راټولولو طریقو او وسایلو کې د پرمختګونو سربیره، دا د استخباراتو تحلیل او تجزیه د اعتبار کچه کې د اوښتون استازیتوب نه کوي. شک او تردید د خورا معتبر او ډاډ ورکوونکي معلوماتو شتون کې حتی موجود دی.

دلته یو حقیقت دا دی چې استخبارات تل د حیرانۍ عنصر نه لیرې کوي. استخبارات د حقایقو څخه د پریکړه کونکو خبرولو کې نښه عمل کوي، چې له مخې یې دا مشران کولی شي د مناسب ډاډ سره پریکړې وکړي. دا هیڅ کوچنی شاهکار ندی، او ممکن اکثر پیښ نشي.

په ستراتیژیکه سطح، استخباراتي خدمتونه د هیواد په کچه استخباراتي ارزونو مسؤلیت په غاړه لري چې د ملي امنیت پالیسیو او ستراتیژیو، د امنیتي خطر مدیریت، امنیتي بودیجو، او د وسله والو ځواکونو جوړښت ته بڼه ورکوي. د عراق مشترک دفتر رئیس خپلو پلانونو کې دا ډول ارزونو باندې تکیه کوي.

مونږ باید همدارنګه د بهرنیو ګواښونو او د داخلي چاپیریال اړوند


우리민족
조선인민군

استخباراتي ارزونې د سیاسي مشرانو د کړنو لارښود کولو لپاره په ملي سطح حیاتي دي.

ګواښونو په تړاو په ملي سطح د استخباراتي ارزونو ترمینځ توپیر باندې تاکید وکړو. عراق د بهرنۍ موضوع پرتله دې مسله باندې ډیر تمرکز کړی دی، چې دا یوه تیروتنه ده او باید په ګوته شي.

بل ضعف دا دی چې اوسني استخباراتي تحلیلګران د مراتبو سلسلې پورې تړلي دي، تر د هرم پورته سر پورې. چې دا کار په عینیت او بې پرې توب باندې هرو مرو اغیزه کوي. د استخباراتو څانګو لپاره غوره دا ده چې یوځه خپلواکي وساتي کله چې د ستراتیژیک پریکړو کولو لپاره استخباراتي ارزونې چمتو کوي.

په ملي سطح استخباراتي ارزونې د سیاسي مشرانو د کړنو لارښود کولو لپاره حیاتي دي. دا ارزونې باید مسلکي، عملي او د کارولو وړ وي. د مثال په توګه، د جګړې ستراتیژیک خبرداری، چې یوه سیاسي – نظامي مسله ده، چې په ګډه د استخباراتو او امنیت عمومي ریاست او بهرنیو چارو وزارت لخوا د هر یوه د واک مطابق ارزول کیدی شي.

په استخباراتي ارزونه کې شامل دي:

1. **ګواښونه.** د بیلابیلو لوبغاړو وړتیاوې او اراده شرح کوي او د هغوی ترمینځ ارتباط، پروسې تحلیل کوي او د تشکیلاتو په سطح او سیمه ییز او نړیوالو پالیسیو ته کتنه کوي.
2. **پروسې** د جاري پروسو او لیوالتیاو امکان شرح کوي، سناریوګانې وړاندې کوي، او د لوبغاړو احتمالي ځوابونه د ټاکلي پیښو په اړه تحلیل کوي. د مثال په توګه، لوبغاړو (داخلي او بهرني) به څنګه غبرګون شودلی وی که زموږ ځواکونو په ټاکلي توګه عمل کړی وی؟
3. **سپارښتنې.** د خطر او فرصت په تړاو مشوره وړاندې کوي.

په هرصورت، د حکومت دا دوه څانګې په کافي اندازه سره مدغم ندي چې په ګډه معتبر خبرداري چمتو کړي. د دې کار کول د لوړې کچې همغږۍ او همکارۍ او ګډو بیوروکراتیک ادبیاتو ته اړتیا لري.

استخباراتي ارزونه د نوي نهادونو، اوښتونکي ساحو او محرکاتو، چې د پایلو وړاندوینه کول یې مشکل دي، د راپیدا کیدو له امله په ډیر پیچلي او مشکل کار بدل شوې. علاوه لدې، پیلچتیا د جاري ټولنیزو او کلتوري پروسو له امله ده ــ پشمول د نوي ټیکنالوژیو خپلول لکه ټولنیزې رسنۍ ــ چې د استخباراتو ټولنې ته نوي دي. استخباراتي څانګې اکثر د دغه نوښتونو سمبالولو لپاره لازمي مهارت نلري چې د بې شمیره ستونزو، ننګونو او خطرونو د ریښې استازیتوب کوي.

په اوسني شرایطو کې، د استخباراتي ټولنې لپاره مشکل دي چې په سم ډول وړاندوینه وکړي چې سبا به څه پیښیږي، ځکه چې هرڅه خورا په چټکۍ سره پیښیږي. دښمنان کولی شي په مجازي فضا کې په بیړه عمل وکړي، او د ډرونونو او مزایلو کارول لږ وخت ته اړتیا لري. دا هغه وخت رالندوي چې دښمن د نظر مرحلې څخه د تطبیق مرحلې ته پرمختګ لپاره ورته اړتیا لري. د 2021 نومبر 7 نیټې بریدونو کې همدا مسله وه. دې بریدونو نه یوازې لومړی وزیر بلکه د هغه استخباراتي خدمتونه هم حیران کړل. ✦

په خواشینۍ سره تاسو ته د لیکوال عصام عباس امین د مړینې خبر درکوو. د هغه مړینې د یونیپټ لوستونکو لپاره او د عراق دفاع وزارت د استخباراتو او امنیت ریاست لپاره لویه ضایعه ده.

د استخباراتي ناکامیو ځلور مثالونه چې نړۍ یې بدل کړه: (بل مخ) په کال 1950 کې د شمالي کوریا لخوا د جنوبي کوریا نیول، (پورته، ښي څخه کیڼ ته) په کال 1941 کې پیرل هاربر باندې برید، په کال 1968 کې د شوروي لخوا د چیک او سلواکیا نیول او په متحده آیالاتو کې د 11 سپتمبر بریدونه.

ای ایف پی/ګیټي انځورونه

سمندري ځواک

چمتوالی لري

د اردن وسلوال ځواکونه

د اردن شاهي بحري ځواک قوماندان ډګروال حشام خليل الجراح سره مرکه

يونيپټ کارکونکی

يونيپټ: د اردن شاهي بحريه دندې شرح کړئ؟

ډګروال الجراح: شاهي بحري ځواک د اردن د وسله وال ځواکونو درې څانګو (ځمکه، هوا او بحر) څخه يوه ده او د ملي دفاع سيستم د غږګ رول په لوبولو سره بشپړوي – د بحري ځواک نظامي رول او د ساحلي ګارد تشکيلاتي او امنيتي رول. دا اصلي بحري ځواک ګټل کيږي او د اردن د بحري امنيت اصلي مسؤليت په غاړه لري، داسې يو ماموريت چې دا يې د يوشمير دندو په لړ کې ترسره کوي. پدې کې د نفوذ او قاچاق مخنيوي لپاره د اردن د بحري پولو د ساتنې او محافظت لپاره ګزمې کول، د عصري تجهيزاتو سره د وړ او روزل شوي تفتيشي ټيمونو په واسطه پرمخ وړل کيدونکي بحري تفتيشونه، په سيمه ييزو اوبو کې د سرغړونو کشف او مخنيوی، د تصويب شوي قوانينو تطبيق او د بحري عملياتو مرکز له لارې په عقبه کې د ملکي او نظامي تاسيساتو او حساس اهدافو څارنه شامل دي، علاوه لدې په سيمه ييزو اوبو کې د لټون او ژغورنې عمليات او د بحر د ککړتيا پر وړاندې محافظت چارې پرمخ وړي.

يونيپټ: د اردن بحري ځواک په سور سمندرګي کې د بحري امنيت کومو ننګونو سره مخ کيږي؟

ډګروال الجراح: هغه ننګوونې چې د اردون بحري ځواک ورسره په سور سمندرګي کې د اردن د بحر امنيت ساتنې کاري چوکاټ کې مخ کيږي بيلابيل بڼې لري. پدې کې د غيردوديز څرنګوالي ننګوونې هم شامل دي، لکه تروريزم، کوم چې بيلابيل بڼې خپلوي لکه په کښتيو او بندر بريدونه همدارنګه سمندري غلاوې، چې د بار وړلو خوندیتوب ګواښي، او پدې وروستيو کې د کرونا ويروس بحران د بحري ټرانسپورټ عملياتو باندې سيوری غوړولی دی. دې ننګونو څخه ځينې دوديز امنيتي اړخ لري، لکه نفوذ او د بحري پولو څخه راتيريدل او د قاچاق ټول ډولونه، پداسې حال کې چې ځينې ننګوونې څانګړې دي، لکه بحري پيښې او ناورينونه، د کښتيو او بندر اورونه، د بحر ککړتيا او ضربتي عمل. د دې ننګونو په پام کې نيولو سره، د بحري امنيت تامينونکي ټولې ادارې بايد خپله همغږي، بسيا او چمتو والی ډير کړي.

يونيپټ: ملګري هيوادونه د اردون بحري ځواک پراختيا کې څنګه مرسته کولی شي؟ کوم ډول کښتۍ او تجهيزاتو ته اړتيا ده؟

ډګروال الجراح: نړيوال او سيمه ييز مشارکت پرته لکه شک د ګډو کورسونو او تمرينونو له لارې د روزنې او مهارت ترلاسه کولو په برخه کې د اردن بحري ځواک وړتياو پراخولو کې ستر رول لوبولی دی. هغوی همدارنګه د لازمي عالي ځانګړتياو تجهيزاتو سره د سيمه ييزو اوبو څخه بهر د عملياتو وړتيا لرونکي کښتيو د شتون په برخه کې د اردن بحري ځواک اړتياوې پوره کړي دي، کوم چې د چټک غبرګون وړتيا ښه کولو او د بيړنۍ غبرګون وخت راکمولو ظرفيت لري. هيره دې نه وي چې دې د 77ام بحري کنډک وړتياوې پراخې کړي دي چې کولی شي خپلې دندې ترسره کړي. پدې ساحه کې د اردن بحري ځواک، د متحده آيالاتو بحري ځواک او د متحده آيالاتو بحري قل اردو ترمينځ نږدې همکاري د يادونې وړ ده.

يونيپټ: آيا د عقبه خليج سره پوله لرونکي هيوادونو ترمينځ امنيتي همکاري شتون لري؟

ډګروال الجراح: ښکاره ده چې د اردن بحري امنيت ساتلو دنده د عقبه خليج سره پوله لرونکي هيوادونو سره د لوړې کچې همکارۍ او همغږۍ ته اړتيا لري. دا د نړيوال بار وړلو ليکو لپاره د اردن يوازينی بحري بندر دی او البته چې دلته د ارتباطي افسرانو او دوره ای امنيتي ناستو له لارې د دې هيوادونو ترمينځ امنيتي همکاري جريان لري. دا همغږي او همکاري د بحري ټمرينونو په بڼه د دې هيوادونو کې ترسره کيږي.

يونيپټ: ګډ سيمه ييز او نړيوال بحري ټمرينونه څومره مهم دي؟

ډګروال الجراح: د دوه اړخيز او څو اړخيز بحري ټمرينونو ترسره کول د بحري ځواکونو ترمينځ د اړيني کچې همکارۍ او همغږۍ ترلاسه کولو کې مهم رول لوبوي. دا پدې ټمرينونو کې د دخيل ځواکونو اغيزمنتيا او وړتيا باندې مثبت اغيزه کوي. علاوه لدې، دا د ټولو اړخونو مهارت ترلاسه کولو او د مهارتونو تبادله کولو کې وڼده لري ترڅو دواړه په سيمه ييز او نړيواله کچه د بحري ځواکونو لخوا کارول کيدونکي طرحې او طرزالعملونه په لوړه اندازه متحد او يو ډول شي.

يونيپټ: د ګډو بحري ځواکونو د برخې په توګه، اردن پدې ائتلاف کې د نورو 34 هيوادونو له ډلې د ځينو د تجربو څخه څنګه ګټه پورته کړې ده؟

ډګروال الجراح: په 2009 کال کې د ګډو بحري ځواکونو د تاسیس راهیسې، د اردن شاهي بحري ځواک یې فعال غړی دی. دې دخالت د اردن د بحري ځواک اغیزمن رول او مثالي انځور څرګند کړی دی، او پرته له شک د اردن بحري ځواک سطحې پراختیا کې د ائتلاف هیوادونو څخه د ګډون کونکو سره د مهارت او تجربې د تبادلې، د نړیوالو بحري ځواکونو د کار لارو چارو سره د ځان اشنا کولو، او د بحري عملیاتو مدیریت کولو کې د بیلابیل هیوادونو د تجربو په اړه د زده کړې له لارې وندې درلودلې ده. دې کار په خپل وار سره د افسرانو، بریدملانو او د دخیل پرسونل معیارونو باندې مثبت اغیزه کړې، چې د همدې لپاره د اردن بحري ځواک ته د لوړ معیار روزنه، تخصص او مهارتونه وړاندې کیږي، او همدارنګه د نورو هیوادونو څخه د ګډون کونکو سره ملګرتیاوې جوړیږي او د ټولنیز او کلتوري پوهاوي موخې پکې ترلاسه کیږي.

یونیپټ: د اردن شاهي بحري ځواک کومو تمرینونو کې ګډون کوي، او دا ګډون تاسې ته ولې مهم دی؟

ډګروال الجراح: د اردن بحري ځواک په درې سطحو کې په بیلابیل تمرینونو کې ښکیل کیږي: ځایی او ملي، سیمه ییز، او نړیوال. په ځایی سطح، بحري ځواک د خپلو واحدونو ترمینځ د انسجام او همکارۍ د ډیرولو لپاره د بحري قوماندې دننه داخلي تمرینونه په لاره اچوي. ځینې تمرینونه او بیلابیل سناریوګانې د نظامي او امنیتي خدمتونو او د بحري ځواک لاندې ځینې ملکي نهادونو په دخالت سره په ملي سطح ترسره کیږي. موخه د دې ګروپونو ترمینځ د همکارۍ او همغږۍ د ټاکلې کچې ترلاسه کول او د بحري ناورین د غبرګون وړتیاو ډیرول دي. په سیمه ییزه سطح، د اردن بحري ځواک په منظم ډول د عقبه خلیج سره پوله لرونکي هیوادونو سره یوځای بحري تمرینونو کې برخه اخلي. په هاشمي شاهي اردن کې د لیوال زمري او نامحدود مدافع په نوم تمرینونه، په مصر کې د روښانه ستوري تمرین او په سعودي عربستان کې د سرې څپې او خوندي ساحل تمرینونه ترسره شوي دي. په نړیواله سطح، د اردن بحري ځواک ډیر شمیر نړیوالو بحري تمرینونو کې د فعال ګډون کونکي یا د مشاهده کونکي په حیث تل موجود و. پدې کې هیڅ شک نشته چې د دې په څیر دوامداره دایمي حضور د اردن بحري ځواک پرسونل د وروستي بحري عملیاتي مدیریت تخنیکونو سره اشنا کوي، مهارتونه تبادله کوي او لدې لارې تجربه ترلاسه کوي.

یونیپټ: د متحده آیالاتو بحري قل اردو ستاسې ځواکونو پراختیا کې څنګه مرسته کړې؟

ډګروال الجراح: د اردن بحري ځواک د 77ام بحري کنډک له لارې د متحده آیالاتو بحري ځواکونو سره ځانګړې اړیکې لري. دا مشارکت د څو کلونو په لړ کې پلي شوي د ګډ سمون پروګرام کې څرګند شوی او د دفاعي او یرغلیز عملیاتو، د داخلي امنیت عملیاتو لپاره د کنډک د چمتو والي او روزنې سطحې لوړولو کې، او همدارنګه د بحري ځواک ایس ډبلیو ای ټي او د کښتیو د تفتیش ټیمونو روزنه کې وندې درلودلې. باید یادونه وکړم چې د متحده آیالاتو سره د دې مشارکت له لارې، 77ام بحري کنډک ته بیلابیل تجهیزات او پیچلي وسایل ورکړل شوي دي چې بحري پیاده (مرین) برخه کې کارول کیږي. د دې مشارکت اهمیت د جاري ګډو دندو او څو سطحو همغږۍ له لارې هم څرګند شوی دی. د اردن د بحري قوماندې په توګه، مور د دواړه اړخونو د ګډو ګټو لپاره د دې مشارکت ساتنه او پراختیا غواړو.

یونیپټ: د اردن بحري ځواک د اردن هیواد د اوبو خوندي کولو لپاره د نورو وسله وال ځواکونو او امنیتي نهادونو سره څنګه راشه درشه کوي؟

ډګروال الجراح: د اردن بحري امنیت یو ګډ مسؤلیت دی چې بیلابیل نظامي او امنیتي ادارو، حکومتي نهادونو او بحري فعالیتونو پورې اړوند چارواکو په

د اردن بحري ځواک عقبه خليج کې روزنه او عمليات کوي.

د اردن وسله وال ځواکونه

د اردن وسلوال ځواکونه

ډګروال حشام خليل الجراح، د اردن د شاهي بحري ځواک قوماندان، ښي، او معاون امير البحر بريډ کوپر، د متحده آيالاتو د بحري ځواکونو د مرکزي قوماندې قوماندان، په 2021 نومبر کې په بحرين کې د نوي سيلډرون سپړونکي بې پرسونل سطحې کښتۍ ارزونه کوي.

2ام بريدمل مارک توماس محمود/د متحده آيالاتو بحري ځواک

غاړه دی. د همدې لپاره، د اردن بحري ځواک د اردن هیواد د اوبو د ساتنې موخې پوره کولو لپاره د بیلابیل ادارو سره د همکارۍ او همغږۍ اهمیت باندې پوهیږي. دا همکاري او همغږي د بحري عملیاتو مرکز سره د معلوماتو د تبادلې په واسطه ښودل شوې، کوم چې د خورا وروستي ځارنیز سیستمونو او پیچلي ارتباطي شبکو سره مجهز شوی دی، او د بحري ناورین غبرګون او د عقبه لپاره امنیتي پلانونه په دوامداره ډول تازه کوي. د امنیتي افسرانو او د متخصص ادارو سره هم جاري ارتباط موجود دی، او ګډ بحري تمرینونه په ځایی او ملي سطح ترسره کیږي او ټولې ممکن سناریوګانې د پوښښ لاندې لري، چې د ادارو ترمینځ همغږي ډیروي او د همغږۍ عالي معیار ته د دغو ادارو رسیدو کې ونډه لري.

یونیپټ: مهرباني وکړئ د اردن د بحري او سمندري پرسونل لپاره د چمتو والي او روزنې په اړه وغږیږئ؟

ډګروال الجراح: د اردن بحري ځواک غړي، پشمول د افسران، بریدملان او پرسونل د سرتیرو لومړني نظامي شرایطو سره په لیکه کې د قوي وړتیا او روزنې پروګرام لري. پدې کې لومړنۍ روزنه، د وسلو روزنه، نښه ویشتل، لامبو، او د امنیت او پوهاوي روزنه شامل دي. دې پسې بیا بحري ځواک لپاره ځانګړې تخصصي بحري او تکنیکي روزنه ده چې بیلابیلو برخو پورې تړاو لري. علاوه لدې، دا پرسونل د اردن بحري او امنیتي ادارې انستیتیوټونو کې د روزنې کورسونو کې برخه اخلي، او همدارنګه بحري ساینس کې تخصص لرونکي ملکي انستیتیوټونو کې هم.

یونیپټ: آیا افسران او بریدملان د شاهي اردن ځخه دباندې هم روزنې کوي؟

ډګروال الجراح: د اردن بحري ځواک افسران او بریدملان په یو شمیر بهرنې کورسونو کې هم ګډون کوي چې د ائتلافي او ملګري هیوادونو بحري روزنې انستیتیوټونو کې په لاره اچول کیږي. پدې کې د بحري ځانګو (بحري، سمندري انجینري، لامبوزن، بحري پیاده) لپاره بنسټیز او عالي کورسونه شامل دي، سربیره پردې د ژبې بیلابیل کورسونه، او د ټاکلې روزنې پایلې ترلاسه کولو لپاره د افسرانو او لوړرتبه مشرتابه لپاره روزنیز کورسونه هم دي، چې دا د دې رتبو مؤثریت او وړتیا ډیروي او د نورو د تجربو سره د هغوی اشنا کولو له لارې هغوی په مهارتونو او تخصص سمبالیږي.

یونیپټ: آیا د اردن بحري ځواک د بحري ایکوسیستم د ساتنې لپاره ماموریتونه ترسره کوي؟

ډګروال الجراح: د اردن د بحري ځواک یوه له تر ټولو مهمه دنده د بحري ایکوسیستم محافظت دی. اردن د بحري چاپیریال ساتنې لپاره یو تخصصي تشکیل جوړ کړی دی، او پدې تړاو پایښت لرونکې همکاري او همغږي شتون لري ترڅو د بحري ایکوسیستم د ساتنې پورې اړوند د دې ټولې سپارښتنې او د کب نیولو مقررات پلي شي. باید یادونه وکړم چې د اردن بحري ځواک کې موږ د کب نیولو صنعت نظارت کوو او د غیرقانوني کب نیولو میتودونه منع کوو. ✦

مجازي امنيت لپاره د لبنان طريقه

د لبنان د وسله وال ځواکونو مجازي امنيت خانګه د بريدونو په اړه پوهاوی وړاندې کوي

یونیپټ د لبنان وسله وال ځواکونو عمومي ویاند ډګرجنرال علي قونسو سره مرکه کړې. هغه شرح کوي چې د لبنان اردو څنګه د هغوی د کمپیوټري شبکو د ګواښونو سره مبارزه کوي کوم چې په ملي امنیت باندې اغیزه کولی شي.

یونیپټ: مجازي امنیت د هر دولت د ملي امنیت لازمي برخه ګرځیدلې. لبنان د کومو مجازي ګواښونو سره مخ دی؟

ډګر. جنرال. قونسو: لبنان د بیلابیل لوبغاړو لخوا د مجازي ګواښونو سره مخ دی، هغوی ټول هڅه کوي زموږ آنلاین سیسټم ته داخل شي، د مخابراتو او ارتباطاتو جاسوسي وکړي او معلومات غلا کړي. تروریستي سازمانونه شتون لري چې د ځوانانو ترمینځ د افراطي فکر خپرولو لپاره حسابونو ته ننوځي، پدې موخه چې هغوی وګومارې، همدارنګه په لبنان کې دننه او په ټوله نړۍ کې د فعال خلکو یا ډلې لخوا شته خطر چې حکومتونه او د هغوی نهادونه په بریښنایی توګه هدف ګرځوي.

پدې توګه لبنان هره ورځ 24 ساعتونه د مجازي بریدونو سره مخ دی، پشمول د بانکي سیکتور باندې د ویشل شوي خدمت انکار او بریدونو (د ملویر کارول لکه ګوس او فلیم)، د مخابراتو سیکتور او بیلابیل ملکي شرکتونو باندې بریدونه.

د دا ډول بریدونو سره د مبارزې لپاره د لبنان ظرفیت د مجازي محافظت سیسټمونو او د داسې بریدونو د مخنیوي وړتیا لرونکي روزل شوي بشري سرچینو د تشې له امله ضعیف دی. په پایله کې، د مجازي امنیت عملیات او ځوابونه د غږګون ځواب او د امکان تر حد پورې د دې بریدونو پر وړاندې د محافظت ډاډمن کولو پورې محدود دي.

یونیپټ: د لبنان د وسله وال ځواکونو د مجازي امنیت څانګې رول څه دی؟

ډګر. جنرال. قونسو: ډیری وسله وال ځواکونه په هغه بیلابیل سیسټمونو او شبکو کې د خپلو سرچینو د محافظت کولو لپاره د مجازي امنیت څانګې تاسیس کوي چې هغوی یې کاروي. پدې سرچینو کې وسلو، تجهیزاتو، د ماموریت اجرا کولو، د واحدونو او پرسونل ګومارلو او اردو او ملکي پرسونل پورې اړوند مسلکي تفصیلاتو پورې اړوند حساس امنیتي او نظامي معلومات شامل دي. پدې سرچینو کې انټرانیټ، انټرنیټ، او بې سیم ارتباطات هم شامل دي.

د لبنان وسله وال ځواکونو په چوکاټ کې د مجازي امنیت څانګه د اخلال یا سرغړونې د هغه هڅو مخنیوي کې خورا مهم رول لوبوي چې د اردو او امنیت د معلوماتو سیسټمونه هدف ګرځوي. دا یو ستر امنیتي ګواښ ګڼل کیږي چې د لبنان د اردو، د دې د واحدونو کار او د دې د پرسونل ژوند د لوی خطر سره مخ کوي.

یونیپټ: دا ډول بریدونه د لبنان اردو باندې څومره اغیزه لري؟

ډګر. جنرال. قونسو: د لبنان اردو د مجازي شبکې خو سیسټمونه کاروي، پشمول د حکومت رسمي ویب سایټونو، د بریښنالیک خدمتونه او د ځیرک تلیفون غوښتنلیکونه، د نورو مواردو ترڅنګ. دا بیلابیل قواو او واحدونو لپاره انټرنیټ ته لاسرسی هم ډاډمن کوي.

دا ټول سیسټمونه داسې برخې لري چې د هیواد دښمنان یا نور هغه لوبغاړي ورڅخه ګټه اخیستلی شي ځوک چې اردو ته د زیان رسولو په تکل کې دي. د مثال په توګه، د یوه برید بریا ممکن د داخلي ارتباطاتو شبکې د اخلال سبب شي چې واحدونه د قوماندې سره ونښلوي. د اردو ویب سایټونه یا د ټولنیزو رسنیو د رسمي حسابونو څخه کوم یو یې ممکن نقض شي، یا هم ممکن د داخلي شبکې څخه حساس معلومات غلا کړی شي چیرې چې دوسیې تبادله کیږي.

دا ډول مسایل د اردو، د دې د واحدونو او پرسونل لپاره جدي پایلې درلودلی شي، په ځانګړې توګه که چیرې د تروریستي ډلو په لاس ورشي چې تل د اردو پرسونل او موقعیتونو باندې بریدونه کوي.

یونیپټ: د لبنان کمپیوټري شبکو محافظت کولو کې نړیواله همکاري څومره مهمه ده؟

ډګر. جنرال. قونسو: نړیواله همکاري د لبنان د معلوماتو شبکو محافظت کولو کې حیاتي ده. دا په دوه سطحو کې ترسره کیږي: لومړی د مجازي بریدونو پر وړاندې زموږ د شبکو پیاوړي کولو لپاره لازمي پرمختللی سافټویر وړاندې کوي، او دوهم یې د دې بریدونو سمبالولو او د مخنیوي یا د هغوی د تخریب محدودولو لپاره د امکان ترحد پورې مناسب او چټک غږګون لپاره د بشري عناصرو روزل دي.

یونیپټ: ستاسې پرسونل څنګه کولی شي د مجازي امنیت د بدلون سره په لیکه کې مهارتونو ته وده ورکړي؟

ډګر. جنرال. قونسو: زموږ پرسونل په بیلابیل روزنیز کورسونو، لیکچرونو او کنفرانسونو کې په لبنان کې او په بهر کې ګډون کوي. مجازي نړۍ خورا په چټکۍ سره بدلون کوي، او هره ورځ د مجازي برید زرګونه ملویر تولیدیږي. علاوه لدې، زرګونه ډلې او افراد چې د نړۍ په کچه مجازي بریدونه ترسره کوي هغوی تل نوې طریقې او میتودونه پیدا کوي. زموږ دښمنان هم زموږ د معلوماتي سیسټمونو د نقض په موخه خپلو آنلاین وړتیاو ښه کولو ته دوام ورکوي.

د دې هرڅه لپاره باید زموږ پرسونل د مجازي امنیت په برخه کې وروستیو پرمختګونو سره هم مهاله وي ترڅو نوي ننګونو سره مخ کیدو لپاره چمتو اوسي. له بل پلوه، زموږ د مجازي دفاع تکامل پیچلي تجهیزاتو او سافټویر ته هم اړتیا لري چې ترلاسه کولو لپاره یې موږ د ملګري هیوادونو او لوبغاړو سره همکاري کوو. ✦

د عمان د
بحري امنيت مرکز رول

له کيڼ لوري، ډګر جنرال. علي بن سيف المقبلي، د عمان شاهي پوليسو د ساحلي ګارد عمومي رئيس؛ د پاکستان د بحري ځواکونو مشر عبدالمنيب، د مشترکې توظيفي قوې 151 مخکښې قوماندان؛ او د پاکستان دفاعي آتشه تورن کاشف فرحان په مسقط کې د عمان د شاهي پوليسو ساحلي ګارد قرارګاه ځخه ليدنه کوي.

د بحري ځواک مشر عبدالمنيب، کيڼ، او ډګر جنرال. المقبلي، ډالۍ سره تبادله کوي.

د بحري امنیت مرکز د عمان اردو، امنیت او ملکي ادارو څخه جوړ دی چې د هیواد د اوبو د خوندیتوب او ثبات ساتنه کوي.

په المرتفعه ګارنیزون کې مرکز د دغه ادارو څخه راپورونه ترلاسه کوي او د اړوند ادارو سره همغږي کوي. د دې تخصصي سیسټمونه او تجهیزات هره ورځ 24 ساعتونه د عماني اوبو ساتنه کوي.

مرکز د خپلو دندو په لړ کې:

1. بحري امنیت ادارو ترمینځ هڅې متحد کوي.
2. تجهیزاتو، وسایلو، کشفي الوتکو، بیړیو او کښتیو په بنه لازمي وړتیاوې او شتمنۍ وړاندې کوي.
3. په بندرونو، تاسیساتو او ساحلي سیمو کې د غیرقانوني فعالیتونو او تشکیلي جرمونو سره د مبارزې لپاره طرزالعملونه او پلانونه جوړوي.
4. کښونو د زیرمې، طبیعي سرچینو او د سمندري ژوند د محافظت او ساتنې لپاره طرزالعملونه او اقدامات کاروي.
5. سلطنت په واک کې موجود وړتیاو او شتمنیو په مرسته چاپیریالي او بشري ناورینونو ته غبرګون ښئ.
6. بحري بحران او ناورین مدیریت کې ګډون کوي او د بحري خطر سناریوګانې چمتو کوي.
7. سلطنت د طبیعي بحري شتمنیو محافظت کولو لپاره د امنیت او همکارۍ اهمیت په اړه اتباع، اوسیدونکو او سمندري ګرځندویانو ته پوهاوی ورکوي.
8. عمان هیواد اوبو کې دننه او شاوخوا د کښتیو حرکت تعقیب او نظارت کوي.
9. همکار او ملګري هیوادونو او د بحري امنیت پورې تړلې سیمه ییز او نړیوال سازمانونو سره همکاري پیاوړې کوي.

مرکز د عمان اوبو کې دننه او ورته ځیرمه د سرغړونو د نظارت مسؤلیت لري. پدې کې شامل دي:

1. سمندري غلاوې.
2. غیرقانوني مهاجرت یا نفوذ.
3. غیرقانوني کب نیول او ډیر زیات کب کیول.
4. سمندر ککړتیا.
5. نړیوال بار وړلو لارو بندیدل.
6. بحري تروریزم.
7. ساحلي تیلو تاسیساتو کې لاسوهنه کول او/یا سبوتاژ کول.
8. منظم جرمونه، غیرقانوني سوداګري او قاچاق. ✦

بحري مشر عبدالمنیب، او د هغې کارمندان د عمان د بحري امنیت مرکز څخه لیدنه کوي.

چابک مشرتابه

تورن جنرال قیس خلاف رحیمه د دودیز او عصري دواړه ډوله ګوابنبونو سره لاس او ګریوان دی

یونیپټ کارکونکی | د عراق دفاع وزارت عکس

د هغه د ځیرې رنګ او توپیري ځانګړنې د هغې د سومري ریښو څرګندونه کوي. زړه سواند، زړه ور او مؤدب، هغه چې کله خپل میلمه مخاطب کوي نو خپلې خبرې سموي، چې سهیلي میلمه پالنه پکې رانغښتې وي. د هغه تواضع او ادب په نظامي علم د لیدلوري ورکولو څخه هغه نه منع کوي. د هغه لیدلوری چې ډیری هغه محاربو کې یې ترلاسه کړی کومو کې چې هغه د یوه سرتیري په توګه برخه اخیستې او هغه یو سرسخت فداکار دی چې د بریا پرته بل هیڅ څه په ذهن کې نلري.

هغه تورن جنرال قیس خلاف رحیمه، د عراقي وسله وال ځواکونو د درستیز د عملیاتو معاون او د عراق د ګډو عملیاتو قوماندانی قومندان دی. دا یو نوم او تاریخ دی چې سیاسي او امنیتي مشرانو لپاره ډیر ستر مفهوم لري. د مسلکي توب او روښتیا سره، هغه ثابت کړې چې د هیواد د دفاع سختې دندې ارزښت لري.

په 1962 کال کې په میسان کې زیږیدلی، هغه د خورا ماشومتوب څخه د ښاغلیو ترمینځ غږیدو خوی باندې پوهیدو سره رالوی شوی. هغه په کال 1984 کې د اردو لومړي کالج څخه فارغ شوی او د خلیج لومړۍ جګړې وروسته یې د ماسټرۍ سند او د موصل د آزادۍ وروسته یې د ډاکټرۍ یا پي.ایچ.ډي سند ترلاسه کړی چې خپلې زده کړې یې د محاربې تجربې سره تقویت کړي.

جنرال وایی، "کله چې زه په 1984 کې د اردو کالج کې داخل شوم، د عراق او ایران ترمینځ جګړه خورا شدید وه." "زموږ کالج د جګړې جبهه وه، چیرې چې زده کونکو د خپلو ښوونکو څخه مهارت تخصص زده کاوه څوک چې د جګړې لومړۍ کرښې څخه راستنیدل ترڅو د محاربوي ډګر څخه تجارب او زده کړې درسونه شریک کړي. موږ د ساحوي قوماندانانو څخه چې د لیکچر ورکولو لپاره راتلل، ډیر څه زده کړل. کله چې موږ فارغ شو، موږ ساحوي او اکاډمیک تجربه لرله داسې چې ګویا موږ په واقعیت کې په جګړه کې برخه اخیستې وي."

په عملیاتي برخو کې د کار کولو سربیره، تورن جنرال قیس هیله مند و چې ستراتیژیک زده کړې وکړي او په 2010 کال کې د ملي دفاع کالج ته لاړ.

"زه خورا ډیر خوشحال وم چې د دفاع وزارت لخوا زده کړو /[د ملي امنیت ستراتیژي] ته نومول شوی وم او ماسټري واخلم. ښوونه ځانګړې وه او د داسې استادانو لخوا تدریس کیده چې د سیاسي او نظامي علومو متخصصین و. دا د هغه تخصص له امله یوه ځانګړې تجربه وه چې ما په تلعفر کې د ساحې څخه ترلاسه کړې وه، او ما د نصاب ترڅنګ د هغه پلانونو تحلیل کول پیل کړل چې ما په دغه ښار کې د امنیت له سره تاسیس لپاره پرځای کړي و. دې کار زه وهڅولم چې په 2019 کې د "نوې جګړې او د ځواک په طرحو کې اوښتون" موضوع په

اړه د پي.ايچ.ډي زده کړې وکړم. د فرات مينځ عملياتو د قوماندان په حيث کار کولو په تړاو زما د انديښنو، په هيواد کې د امنيتي وضعيت او څو ځله زما د تيرس د ځنډيدو سربيره، ما پريکړه کړې وه چې خپلې زده کړې پای ته ورسوم. په ځانګړې توګه لدې چې تخصص د ټولو هغه ننګونو سره چې عراق ورسره مخ دی، او د پنځم او شپږم نسل جګړې سره تړاو لري."

تورن جنرال قيس دوديز جنګ ته ندی تم شوی. هغه د ستراتيژيک ځيرنې، د مجازي جګړې د اهميت، او په ټولنيزو رسنيو چينلونو کې مخکښ تروريستي او افراطي ډلو د خطر په اړه د هغه د پوهاوي له لارې د معاصر نظامي علومو نړۍ ته ورننوتلو سره د لارې مشري کړې.

"د داعش د ټروما او د هيواد په سترو ټرانګو د هغوی د کنټرول وروسته، هغوی د امنيتي وضعيت لاډير اخلال لپاره په ټولنيزو رسنيو کې د افواه خپرولو له لارې رواني جګړه باندې تکيه وکړه.

"په دې وخت کې، د دولت، رسمي او غير رسمي رسنيو بنسټونو غبرګون د ننګونې سره سم نه و. جنرال وويل، تروريستي ډلو د عملياتو پراخه تياتر کې کار کاوه چې د خلکو نه د سرونو پرې کولو، بازارونو په ټمونو الوځولو، د ښځو نيولو صحنو په توليدولو او نورو ته د پيغام رسولو په توګه کارولو لپاره په تولنيزو رسنيو کې د دغهو صحنو اپلوډ کولو له لارې يې د خلکو زړونو کې ويرې خپرولو باندې تکيه کوله".

"د هغوی موخه د مخالفينو مورال ماتول او د خلکو اړ کول و چې مصالحت وکړي او هغوی ومني، او امنيتي ځواکونه تسليم شي. موږ د هغوی د مجازي شبکو له مينځه وړلو باندې پيل وکړ چې د عراق ځخه دباندې او د هغوی د کنټرول لاندې ساحو کې فعاليت کاوه."

جنرال او د هغې همکارانو د داعش د مجازي جګړې د شبکو تعقيب کولو او بندولو لپاره د نړيوال ائتلاف ځواکونو سره يوځای کار وکړ. د عراق بريښنايی جګړې ټيمونو هم د داعش په ملاتړ ټويټ کونکي او بلاګ ليکونکو خلکو تعقيب کولو او د هغوی د حسابونو تړلو لپاره د ائتلاف ټيمونو سره همکاري وکړله.

جنرال وويل، "موږ بيا د ځواکونو اعتماد او مورال جوړولو باندې تمرکز وکړ، او موږ زموږ واحدونو کې د پرسونل رواني محاربوي چمتو والي پرځای کولو کې بريالي شو." "په تعقيب يې، زموږ اتلان د محاربې ډګر کې راپورته شو، هيڅکله د خپل مسؤليت ځخه په شا نشو، حتی په خورا شديد جګړو کې. هغوی ته د دې خبرې ښکاره کيدل پيل شو چې د داعش پروپاګند په واسطه آنلاين رامينځته شوی غلط انځور –

د 9مې زره فرقې يو عراقي ايم.1.ای.1 ټانک په 2017 کې د موصل دباندې دفاعي حالت کې دی.

چې ګويا تروريستان د بلې سيارې څخه راغلي جنګيالي دي چې ماته ورکول ناشوني دي يا په مرميو نشي وژل کيدی – ستر دروغ و."

هغه د داعش ماتې کې د ټولنيزو رسنيو چينلونو او ځوانانو ستاينه کوي. هغوی د داعش دروغ بربنډ کړل، او پدې توګه د داعش لپاره د هرډول دروغو خپرول مشکل شو. په همدې توګه د داعش بريښنايی اردو او رسنيز مشين ته د ملکي فعالينو، استخباراتو اجنټانو او د ائتلاف ځواکونو لخوا ماتې ورکړل شوه، چې دې کار په ډګر کې د داعش ماتې ته لاره اواره کړه.

پدې حقيقت د پوهيدلو سره چې د ځلورم، پنځم او شپږم نسل جګړه په عصري ټيکنالوژۍ ولاړه ده، تورن جنرال قيس اردو ته مشوره ورکوي چې د ټيکنالوژۍ پراختيا ته دوام ورکړي ترڅو وکولی شي اوسني او د راتلونکي ګواښونو سره مقابله وکړی شي چې عموما نا متناسب جګړه وي.

اردو بايد خپل آنلاين دفاع پياوړې کړي او د مخالف فعاليت د نظارت وړتيا لرونکي د مجازي استخباراتو ادارې جوړې کړي ترڅو د هرډول ملي امنيت سرغړونو مخنيوی وکړي او د مجازي بريدونو په لاره اچولو څخه د مخرب ګروپونو مخه ونيسي. هغه وويل، عصري ټيکنالوژي، انټرنيټ او ډرونونه امنيتي ادارې ارٍ کوي چې ډير پيچلی کار وکړي.

تورن جنرال قيس په 2008-2004 کلونو کې په تلعفر ولسوالۍ کې د 10مې ليوا قوماندان و، کوم چې د القاعده ځاله وه، او عراق يې خطرناکه لارې ته مخ کړی و. په ښارونو کې فرقه ای جګړې او تروريستي ډلې واکمنې وې.

هغه وويل، "ما ته د بيلابيل دلايلو لپاره پيچلي ماموريتونه او مسؤليتونه راکړل شوي و، خورا مهم يې په ښار او شاوخوا سيمو باندې د القاعده کنټرول و، او همدارنګه د هلته ميشت نفوس ديموګرافي چې د څو فرقو او عقايدو څخه جوړ و." "ما په داسې يوه وخت کې د 10مې ليوا قوماندې په غاړه واخيسته کله چې ويره او ناهيلې توب د هر عراقي په مخ ليکل شوي و، او د مرګ ګواښ د هغوی په سرونو کې له ورايه ښکاريده. د پوليسو تشکيل لاهم جوړ نه و چې دې کار د امنيت برابرولو لپاره په اردو باندې غټ بوج اچولی و. د خلکو او د امنيتي ځواکونو ترمينځ د باور او اعتماد خورا سټره تشه موجود وه چې هغوی نشو کولی ښار د تروريستي اعمالو څخه خوندي کړي."

"د ټيم په توګه د ائتلافي ځواکونو سره په کار کولو،

د 9مې زره فرقې يو ايم.1.ای.1 ټانک په 2017 کې د موصل جګړې ته ننوځي.

وضعیت ورو ثبات پیدا کړ. هغوی امنیت او استخباراتو باندې تمرکز وکړ، د ښار باثباته کولو لپاره یې ملکي او ملي سرچینو باندې تکیه وکړه. هغوی په تلعفر کې سني وګړي هم وهڅول چې د اردو او پولیس لیکو سره یوځای شي، او دا یو له هغه مهمو اهدافو څخه و چې مورِ وروسته وکولی شو ترلاسه یې کړو. هغوی د قضا قومي او مذهبي ارخونو ترمینځ تشې راکمولو لپاره کار وکړ، ترڅو ډاډ او باور پرځای کړي، فرقه پرستي رد کړي او د خلکو سره ارتباط ولري."

بغداد د 2019 په پیل کې خونړی حالت تجربه کړ، کله چې لاریون کونکو د پرمختللي اقتصاد او د حکومتي فساد د پای غوښتنه وکړه، چې د هغوی په مقابل کې ځینې ناسم ډسپلین لرونکي ډلو د پراخه زور او ځواک څخه کار واخیست او د هغوی دې کار کولی شو عراق خورا خطرناک ګرنګ ته ورټیل وهي. سیاسي او نظامي مشرتابه کم چانس درلود مګر دا چې پدغه ساحو کې امنیتي مشران بدل کړي او داسې یو قوماندان یې پرځای وګوماري څوک چې په ځان کنټرول، هیواد پالنه او جرآت لري. همدا و چې د تورن جنرال قیس نوم راپورته شو چې دې مشکل دندې ته وګومارل شي.

"ملکي مرګ ژوبلې د خلکو او امنیتي ځواکونو ترمینځ د باور ژوره تشه رامینځته کړې وه، او وارخطا امنیتي انځور حالت لاپسې خراب کړی و. د تخصصي ځواکونو نه شتون چې دا ډول خدمت لپاره روزل شوي او تجهیز شوي وي، یوه ستره ستونزه وه. البته دا ډول ځانګړي ماموریتونه او دندې د نظامي تجربې او د مشرتابه هنر دمخه ځیرکتیا، هیوادپالنې، چپتیا او زړه سوي ته اړتیا لري. دا د سوله ییز لاریون والو د باور ترلاسه کولو سربیره دي پدې توګه چې د هغوی محافظت وشي او د هغوی د راپارولو څخه د امنیتي ځواکونو مخنیوی کول."

دا هم لازمي و چې د اساسي قانون او نورو نافذ قوانینو په چوکاټ کې دننه باید د بلوا سره د مبارزې او د هغه غیر سوله ییز لاریون والو د سمبالولو لپاره چې په زیربنا او امنیتي برخو یې برید کړی د سوله ییز لاریون والو پرتله چې د اساسي قانون مطابق یې لاریونونه په لاره اچولي، توپیري عمل وشي.

جنرال وویل، "زما د دندې پیل سره ژر تر ژره، ما د مسؤلیت واحدونو تاسیس باندې کار وکړ، او د هر افسر واک او ساحه مې وټاکله، واضح ممانعتونه مو پرځای کړل چې د بشري حقونو نړیوال ترونونه یې څاري، ترڅو لاریون کونکي او امنیتي ځواکونه سره جلا کړي."

"په موانع او امنیتي پوستو کې کیمرې نصب شوې ترڅو د انضباط او ډسپلین څخه سرغړونه نظارت شي. ما سخت احکام صادر کړل او د هر افسر څخه مې لیکلې ژمنه واخیسته چې د هیڅ کوم دلیل لپاره د لاریون کونکو پر وړاندې وژونکې مرمۍ ونه کاروي، او ما د ربړ مرمیو او د اوښکو ګاز ځینې کنیستر د کارولو مخنیوی وکړ."

هغه هره ورځ د سوله ییز فعالینو او لاریون والو سره ارتباط او غږیدو باندې کار وکړ. وضعیت خورا په چټکۍ سره خنثی شو.

جنرال وویل، "مورِ د اردو او امنیتي ځواکونو لپاره درناوی پرځای کړ." "ځکه چې هغوی د خلکو لپاره شتون لري، او خپل ټیکاو او ثبات د هغوی څخه اخلي."

ښی: د عراق دفاع وزارت د رسنیو مرکز کې یو ټیم د تروریستانو پروپاګند ته د ځواب ورکولو لپاره خپرونې نظارت کوي.

کین: تورن جنرال قیس، د بغداد د عملیاتو قوماندان، په 2019 کې په طاهر څلور لاره کې د یوه عراقي فعال سره غږیږي.

لبنان د قاچاق پر وړاندې بریښنایی څار پیاوړی کوي

یونیټ کارکونکی

د لبنان وسله وال ځواکونو (ایل.ای.ایف) د سوریه سره په پوله د امنیتي تشو د لیرې کولو لپاره د هیواد په کچه د څار سیسټم فعال کړی دی.

قاچاق او نفوذ دومره ډیر جدي دی چې لبنان د 2009 راهیسې خپلو شمالي او ختیځو پولو کې څلور کنډکونه ساتلي دي.

د قاچاق د لارو بندولو لپاره، د لبنان وسله وال ځواکونو د بریښنایی نظارت ستنو یوه شبکه تاسیس کړې چې د لبنان اردو قوماندې کې د ګډو عملیاتو او معلوماتو مرکز سره وصل ده. د لبنان د پولو امنیت ګډې کمیټې مشر، جنرال جوزف حداد وویل، د دې سیسټم به مرسته دایمي شپه او ورځ نظارت شونی دی، پداسې حال کې چې د سرغړونکو سره د مبارزې لپاره ګومارل شوي ګرځنده واحدونو ته په وخت خبرداری ورکوي.

د پلان دوهمه مرحله چې په 2021 نومبر کې پیل شوه، د هیواد دننه نظارتي ستنو سره د ساحې څار رادارونو نښلول و. حداد وویل مدغم کړی شوی سیسټم "د بحران په وخت کې د پیلې خبرداري رول لوبوي."

د لبنان د وسله وال ځواکونو د ځمکنۍ پولې 1 لومړی کنډک (ایل.بي.آر) د مدیترانې سمندر څخه د وادي خالد سِار پورې سیمه کې فعالیت کوي. د ځمکنۍ پولې 2ام کنډک د سوریه سره د بالبیک هرمل پولې پورتنۍ نیمې برخې مسؤلیت په غاړه لري. د ځمکنۍ پولې 3ام کنډک راشیا ته څیرمه غرنیزه سیمه کې فعالیت کوي او د ځمکنۍ پولې 4ام کنډک د مسؤلیت ساحه د بالبیک هرمل شکتنۍ نیمایی برخه ده.

د پولو خوندي کولو ته د لبنان ژمنتیا د نړیوالو شریکانو ملاتړ جلب کړی دی. په لبنان کې د برتانیا سفیر این کولارډ، د متحده آیالاتو سفیر دوروتي شیه او د کانادا سفیر چنتال چاستنی په 2021 نومبر کې د لبنان د اردو مشر جنرال جوزف عون سره د لبنان – سوریه د پولې امنیت په اړه غږیدو لپاره وکتل.

د برتانیا سفیر وویل، "دا بحثونه د لبنان – سوریه ترمینځ ټولې پولې خوندي کولو لپاره د لبنان د وسله وال ځواکونو ماموریت او د لبنان ډیرې بحرانونو پرمهال د دوی لخوا لیدل شوي ننګونو باندې متمرکز و."

د ناستې پرمهال، سفیر کولارډ د لینډ رور وسایطو لپاره د پرزو په چمتو کولو سره د لبنان وسله وال ځواکونو د ټیکاو پیاوړي کولو په موخه د 1.4 میلیون ډالرو د ورکړې اعلان وکړ چې مخکې د برتانیا لخوا ورکړل شوي و او همدارنګه د پولو عملیاتو کې ګومارل شوي د ښځینه سرتیرو لپاره د شخصي محافظت تجهیزات.

د برتانیا وزیر پسې د 2021 سپتمبر اعلان و چې متحده آیالاتو لبنان ته د نظامي مرستې په لړ کې 47 میلیون ډالر ورکړي.

د 2021 نومبر کې د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د راپور ورکولو پرمهال د لبنان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې همغږۍ کونکي جوانا ورونیکا د لبنان وسله وال ځواکونو لپاره لاډیر نړیوال ملاتړ وهڅاو او د هغه حساس رول ستاینه یې وکړه چې هغوی یې د لبنان امنیت او ثبات ساتلو کې لوبوي.

سرچینې: د لبنان لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړې همغږۍ کونکي دفتر، arabweekly.com، defensenews.com

د لبنان امنیتي ځواکونه د سوریه سره په پوله القاع بندر کې کار کوي. ای ایف پي/ګیټي انځورونه

قرغزستان په داخلي اصلاحاتو مخ لوري ته حرکت کوي

یونیپټ کارکونکی

قرغزستان د حکومتي اصلاحاتو، بشري حقونو نوښتونو او د اوبو مصؤنیت ملاتړ لپاره د اروپا اتحادیې د مرستو څخه ګټه پورته کوي.

په 2021 دیسمبر کې، د اروپا اتحادیې د قرغزستان سره مرستې لپاره د یوې څلور کلنې هڅې د برخې په توګه د 62 ملیون یورو په ارزښت مالي ټمویل تصویب کړ.

د حکومتولۍ او ډیجیټل سازۍ په لړ کې، د دې پیسو ټمرکز به د قانون حاکمیت او ډیجیټل اوښتون ته ارتقا ورکولو او ښه کولو باندې وي.

بشري پراختیا، پشمول د تعلیم کیفیت ښه کول او د جنډر د مساواتو او بشري حقونو ترویج هم د بشکیک لپاره د اروپا اتحادیې د مرستې برخه دي.

اروپا اتحادیې همدارنګه د کمو اوبو لرونکي سیمو سره د اوبو سرچینو د ادغام او شریکولو اړوند د قرغزستانارتیا باندې تاکید کړی دی. د اوبو مصؤنیت د شوروي اتحادیې د منحل کیدو راهیسې د مرکزي آسیا هیوادونو ترمینځ یوه ستره دیپلوماتیک مسله ده.

دا مالي لومړیتوبونه د قرغزستان او د اروپا اتحادیې غړي هیوادونو ترمینځ مشوره کې مشخص شوي دي. دا لومړیتوبونه د ملګرو ملتونو د 2030 اجنډا، د پاریس د اقلیم ټرون او د اروپا اتحادیې د نړیوالې لارې ستراتیژي سره هم په لیکه کې دي.

په قرغزستان کې د اروپا اتحادیې د پلاوي مشر، سفیر ایډوارډ آویر د 2021 په وروستیو کې د ټمویل ټرون په پایله کې وویل، "اروپا اتحادیه د قرغز جمهوریت سره د لومړنۍ او معتبر پراختیایی شریک په توګه اوږدمهاله مشارکت لري."

"نن مونږ زمونږ همکارۍ کې یو نوی ګام ځانګړو، د حکومتولۍ، ډیجیټل سازۍ، تعلیم، شنې ودې او د دوه اړخیزو ګټو نورو برخو لپاره اوږدمهال ملاتړ ژمنه کوو. نوی څو کلن پروګرام د قرغز خلکو لپاره د اروپا اتحادیې د دوامداره ملاتړ قانع کونکی ثبوت دی."

سرچینې: ویچرنې، بشکیک، Vesti.kg

قرغز ولسمشر صدر جباروف د خپلې میرمنې، ایګل اسنبایوا سره د 2021 نومبر کې په بشکیک کې د پارلماني ټاکنو پرمهال رایه ورکوي.

ای ایف پي/ګیټي انځورونه

ترکمنستان د بهرنۍ پالیسي اهداف اعلانوي

یونیپټ کارکونکی

ترکمن ولسمشر قربانعلي بیردي محمدف د 2021 سپتمبر په 21 د ملګرو ملتونو عمومي شورا ته د وینا پرمهال وویل چې هیواد یې سولې، امنیت او دیپلوماسۍ ته ژمن دی.

ولسمشر بیردي محمدف اعلان وکړ چې هیواد یې د 2021 دسمبر کې د "سولې او باور سیاست – د نړیوال امنیت، ثبات او پراختیا بنسټ" سرلیک لاندې په عشق آباد کې د یوه نړیوال کنفرانس کوربه توب کوي.

ملګرو ملتونو ته خپله وینا کې هغه د "مرکزي آسیا – کاسپین سیمې" په نوم د سولې، باور او همکارۍ زون رامینځته کولو وړاندیز هم وکړ. هغه تاکید وکړ چې ترکمنستان په افغانستان کې د سولې، یوبل منلو او یووالي راوستلو کې د مرسته کولو سره لیوالتیا لري.

د خپلو خبرو په اخرنۍ برخه کې ولسمشر بیردي محمدف د پایښت لرونکي پراختیا اهدافو ترلاسه کولو په اړه دوامداره ډیالوګ لپاره د ترکمنستان چمتو والی تایید کړ، پشمول د آرال سمندرګي ته ځیرمه د دښتې رامینځته کیدو اغیزو کمولو باندې دوامداره ټمرکز کول.

هغه په سیمه کې د شریکانو سره یوځای د آرال سمندرګي خانګې لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړي پروګرام رامینځته کولو لپاره خپل چمتو والی څرګند کړ. سرچینې: ترکمن پورټال، ملګرې ملتونه

حوثیان د ملکي خلکو په اعدام تورن شوي

یونیپټ کارکونکی

د یمن مشروع حکومت د یوه 17 کلن وګړي پشمول د نهه خلکو غیرقانوني اعدام باندې نیوکه وکړه، چې حوثیانو وربانديې د هغوی د یوه مشر د وژلو تور پورې کړی و.

دغه نهه نفر په خپل سري توقیف کې ساتل شوي او د شکنجې او نور ناوړه چلند سره وروسته له هغې مخ شوي چې په 2018 کې د صالح الصمد مړینه کې په دخالت تورن شو.

د خبرداري په ورکولو سره چې حوثي ملیشه به د بې ګناه ملکیانو لاډیرې پراخه وژنې وکړي، د یمن د معلوماتو وزیر معما ال عیرياني دغه غیرقانوني اعدامونه په جعلي تورونو دمخه طراحي شوي قتل په توګه رد کړل.

الصمد په یمن کې د مشروعیت پرځای کولو لپاره د ائتلاف لخوا ترسره وي هواى برید کې د شپږ تنه نورو افرادو سره یوځای وژل شوی و. هغه د حوثیانو د سترې سیاسي شورا د رئیس په حیث د دې ډلې خورا مهم سیاسي چارواکی و.

د ټولنیزو رسنیو سیمه ییزو پلیټفارمونو د اعدام شوي یمنیانو نومونه او عکسونه په لاندې توګه خپاره کړي دي: علي القضي، عبدالمالک حامد، محمد حایغ، محمد القضي، محمد نوح، ابراهیم عقیل، محمد المشخري، عبدالعزیز الاسود او معاز عباس، هغوی ټول د الحدیده سیمې د القناویس ولسوالۍ څخه و.

د بشري حقونو سازمانونو لکه د بشري حقونو څخه سرغړونو نظارت لپاره د یمن ائتلاف، د حقونو او آزادیو لپاره ایس.ای.ایم، د بشري حقونو رادار، د تښتول شویو د میندو انجمن، او د حقونو او آزادیو دفاع لپاره ملي انجمن په ګډه د حوثیانو لخوا شوي دغه اعدامونو په کلکو ټکو غندونکي اعلامیه خپره کړه.

8 کلنې اوږدې جګړې یمن ویجاړ کړی، خلک یې د شدید کړاو سره مخ کړي او د 4 میلیون څخه ډیر یمنیان د خپلو کورونو څخه بې ځایه شوي دي. په 2014 سپتمبر کې د کورنۍ جګړې د پیل راهیسې، د 233,000 څخه ډیر خلک مړه شوي، چې پدې کې 102,000 د مستقیم جګړو په پایله کې او 131,000 د غیرمستقیم علتونو لکه لوږې او د ضعیف روغتیایی پاملرنې له امله مړه شوي دي.

د حوثي ملیشه لخوا د نړیوالو بشري قوانینو څخه جدي سرغړونو او د بشري حقونو سره بربنډ ناوړه چلند د انسان په لاس جوړ د نړۍ تر ټولو ناوړه بشري ناورین کې ونډه درلودلې ده. علاوه لدې، د حوثیانو لخوا د بشري مرستو مخنیوي د کولرا وبا او د کووډ-19 پشمول د ناروغیو خپریدل ډیر کړي دي.

سرچینې: سي این این، الحورا، الجزیره

د ازبکستان او د متحده آیالاتو ترمینځ ډیالوګ او دیپلوماسي

یونیپټ کارکونکی

ازبکستان د متحده آیالاتو سره د ستراتیژیک مشارکت ډیالوګ لومړۍ ناسته په 2021 دیسمبر کې وکړله، چې په مرکزي آسیا کې د امنیت ښه کولو ته د دواړه هیوادونو ژمنتیا یې مهم ټکي و.

په تاشکند کې د دې ناستې کوربه توب د ازبکستان بهرنیو چارو وزیر عبدالعزیز کاملوف او د متحده آیالاتو د بهرنیو چارو د سهیلي او مرکزي آسیا مرستیال ډونلډ لو کاوه.

دواړه خواو د تروریزم او افراطیت ګواښونو سره مبارزې او په افغانستان کې د بې ثباتۍ کمولو لپاره دوامداره همکارۍ باندې تاکید وکړ. د متحده آیالاتو ارخ افغانستان ته د نړیوالې بشري مرستې رسولو په موخه د ازبکستان د ترمز کارګو ترمینل پور ورکړې ستاینه وکړه.

د ملګرو ملتونو د کډوالو لپاره عالي کمیشنرۍ دفتر او د ملګرو ملتونو د خوړو نړیوال پروګرام ترمز افغانستان ته د خوړو، خیمو، لوخو، کمپلو او نورو توکو وړلو لپاره کارولی دی.

واشنګټن د ستراتیژیک مشارکت ډیالوګ د بلې ناستې کوربه توب سره موافقت کړی دی. په 2022 کې دا ناسته د ازبکستان او د متحده آیالاتو ترمینځ د دیپلوماتیک اړیکو د پیل 30مې کلیزې سره سمون درلودلی شي.

د ازبکستان د بهرنیو چارو وزیر عبدالعزیز کاملوف، کین، په 2021 کې په واشنګټن ډي.سي کې د متحده آیالاتو د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن سره ګوري.

ای ایف پي/ګیټي انځورونه

د ازبکستان او د متحده آیالاتو اړیکې د ازبک ولسمشر شوکت میرزایوف د شپږکلنې اداري پرمهال ښې شوي او پدې کې د نظامي همکارۍ او روزنې پراختیا شامل دي. سرچینې: انادولو اژانس، Gazeta.uz، کاروان سرای

متحده عربي امارات مجازي امنيت ته ارتقا ورکوي

يونيپټ کارکونکی

د متحده عربي اماراتو شرکت ماجد الفطيم پرچون، په مينځني ختيځ، سهيلي آسيا او شمالي افريقا کې د سترپلورنځيو غوره پرچون پلورونکو څخه ده، چې په مجازي امنيت کې د غوره کړنو تعقيب کولو لپاره يې ستر ويار خپل کړی دی.

د خليج د معلوماتي ټيکنالوژۍ نندارتون (جي.آی.ټي. ای.ايکس) پرمهال، په 2021 اکتوبر کې په دوبۍ کې د مصرف کونکو سوداګرۍ نندارە کې، ماجد الفطيم د خپلو سلګونه خوراکي توکو پلورنځيو لړۍ خوندي کولو هڅو لپاره د ټرينډ مايکرو انکارپوريشن لخوا وټاکل شوه. ماجد د فرانسوي پلورنځي کارفور لړۍ امتياز لرونکی او چلونکی دی.

ټرينډ مايکرو ووېل ماجد د هيکرانو او مجرمينو د په زور ننوتلو څخه د 10,000 څخه ډېر کمپيوټرونه، لپ ټاپ او ګرځنده وسايل او 2,500 سرور خوندي کولو مسؤل دی.

"دا تير پنځه کلونه د ماجد الفطيم پرچون پلورنځيو محافظت کولو په موخه د ډيجيټل اوښتون په زړه پورې سفر و. ... موږ ويارو چې د دې سفر برخه يو،" د ټرينډ مايکرو معاون رئيس او اداري رئيس، ډاکټر معتاز بن علي ووېل.

په کال 1992 کې د ماجد الفطيم لخوا تاسيس شوې او د هغه په نوم نومول شوی، د دوبۍ ميشت شرکت دی چې د کارفور سره د معاملې سربيره د پيرود سترپلورنځي او د ساعتيرۍ تاسيسات چلوي.

ټرينډ مايکرو انکارپوريشن د متحده آيالاتو - جاپان څو ملیتي مجازي امنيت د سافټوير کارپرويشن دی چې مرکزي دفترونه يې د جاپان ټوکيو، او د متحده آيالاتو په ايروينګ، ټيګزاس کې دي.

د مخ پرودې نړيوالو مجازي ګواښونو څخه خبر متحده عربي امارات د احتمالي مجازي امنيت ګواښونو په ګوته کولو کې د مخکښ پاتې کيدو لپاره د پام وړ هڅې کوي. د مجازي امنيت په برخه کې د اماراتو حکومت مشاور، ډاکټر محمد الکويتي په 2021 سپتمبر کې په شارجه کې په لاره اچول شوي د نړيوال حکومت ارتباطاتو د 2021 غونډې پرمهال په بيداری تاکيد وکړ.

الکويتي د مجازي امنيت ملي کاري ځواکونو ترمينځ د معلوماتو شريکولو پلوي وکړه ترڅو په حکومتي او خصوصي سيکتورونو کې د وسيلو محافظت کولو اړتيا په اړه پوهاوی پيدا شي.

د نړيوال حکومت ارتباطاتو د 2021 دوه ورځنۍ غونډه، چې د 11 هيوادونو څخه 79 متخصصينو پکې ګډون کړی و، په چټکۍ سره اوښتونکي نړيوالو ارتباطاتو محافظت کولو په اړه د تجربو او ستراتيژيو تبادله ترويج کړه.

سرچينې: د اماراتو خبري اژانس، الاتحاد، Zawya.com

پاکستان، متحده آيالاتو زرګونه ټنه غيرقانوني نشه ييز توکي د افغانستان څخه ونيول

يونيپټ کارکونکی

پاکستاني حکومت د افغانستان سره په پوله د تيريدو يوې مهمې لارې کې د غيرقانوني نشه ييزو توکو د ستر مقدار نيولو راپور ورکړی دی.

په 2021 ديسمبر او 2022 جنوري کې يوازې يو څو اونيو کې، په تورخم پوله کې پاکستاني چارواکو د 524 کيلوګرام چرس، 255 کيلوګرام پوډر، 280 کيلوګرام اپيوم، او نړدې 22 کيلوګرام ميتامفيټامينو قاچاق مخه ونيوله.

پاکستاني امنيتي ځواکونه په تورخم کې نيول شوي د افغاني پوډرو ستره زيرمه نندارې ته وړاندې کړې.

ای ايف پي/ګيټي انځورونه

د 2022 جنوري په 6 نيټه، پاکستان د پوډرو دوه جلا زيرمې ونيولې چې يوه د 100 کيلوګرام وه او بله د 130 کيلوګرام. وروستی ضبط په تورخم کې يو ريکارډ و. په پيښور کې د ګمرکونو رئيس احمد رضا خان ووېل، د يوه راپور پربنسټ، پاکستانيانو دا پوډر د تورخم وارداتو ترمينل کې کشف کړل چې په يوه لارې کې پټ کړی شوي و.

د پاکستان د ترياکو سره مبارزې ځواک هم په ټول هيواد کې لوی مقدار غيرقانوني نشه ييز توکي نيولي دي. د ديسمبر په وروستيو کې دغه اداره اعلان وکړ چې 2.2 ټن نشه ييز توکي يې نيولي دي، پشمول د پوډر او ميتامفيټامين، ورپسې د جنوري په لومړۍ برخه کې د 3 ټن څخه ډېر نيول شوي دي.

په خيبر پښتونخوا ايالت کې د محصول، مالياتو او نشه ييز توکو د کنټرول څانګې يوه چارواکي، ازلان اسلم ووېل، د افغانستان څخه "لوی مقدار" نشه ييز توکي را روان دي. پدې کې ډيروالی د تازه واک ته رسيدلي طالبانو حکومت لخوا د غيرقانوني سوداګرۍ د مخنيوي ژمنو سربيره راغلی دی.

افغانستان لاهم د نړۍ د نړدې ټولو اپيومو او پوډرو سرچينه ده. دا همدارنګه د ميتامفيټامين او د چرسو د توليد ستر لوبغاړی دی. د افغانستان د نشه ييز توکو زيرمې په ايران، سهيل ختيځ اروپا او ترکيه کې هم ډيرې شوي دي.

په 2021 ديسمبر کې، د متحده آيالاتو بحري ځواکونو په عرب سمندر کې د يوې ايرانۍ کښتۍ څخه 385 کيلوګرام پوډر ونيول. دوه اونۍ مخکې د متحده آيالاتو ګزمې د عمان خليج کې د يوې اور اخيستې کښتۍ څخه پنځه ايراني مانوګان وژغورل. ايرانيانو د خپلو جرمونو د شواهدو ختمولو لپاره اور لګولی و، مګر د متحده آيالاتو مانوګانو بياهم 1،750 کيلوګرام چرس، 500 کيلوګرام ميتامفيټامين او 30 کيلوګرام پوډر ترلاسه کړل.

سرچينې: ټي.آر.ټي نړۍ، د متحده آيالاتو بحري ځواک، ډيلی پاکستان

د عمان د وسله والو ځواکونو د شاهین طوفان مبارزه

یونیپټ کارکونکی

د سلطان وسله والو ځواکونو مخنیونکي عمل په 2021 اکتوبر کې د احتمالي سلګونه عمانیانو ژوند وژغوره چې د شاهین طوفان په لاره کې میشت.

عماني چارواکو د 600 څخه ډیر خلک هغه مهال وژغورل چې هیواد د 150 کیلومیټر في ساعت سرعت لرونکي بادونو طوفان او د 10 متر لوړو څپو سره مخ شو.

په 2021 اکتوبر کې د عمان شمالي ښار المسنح کې د شاهین طوفان وروسته خلک سیلاب ځپلې کوڅه کې په خټو کې تیریږي.

ای ایف پي/ګیټي انځورونه

د رانږدې کیدونکي طوفان څخه د مرګ ژوبلې کمولو په موخه، د عمان کورنۍ امنیت خدمت په البتینه شمال او البتینه سهیل سیمو کې ترافیک ودراو، تحرک یې یوازې بیړنۍ پیښو او د حیاتي توکو عرضه کولو پورې محدود کړ. بریښنا هم د پیښو مخنیوي لپاره د مسقط ختیځ کې په القرم کې پرې کړې وه، او د 2,700 څخه ډیر خلک بیړنۍ پناه ځایونو ته لاړښود شوي و.

عماني چارواکو عامه کارمندان مرخص او د مسقط نړیوال ډګر ته راتلونکي او ورځخه تلونکي الوتنې د طوفان ختمیدو پورې وځنډولې. د پلازمینې مسقط شمال لویدیز، الخبوره کې 369 ملي میتر باران شوی.

عالیجناب سلطان حیثم بن طارق د طوفان له امله پیښ شوي املاکو د زیان ارزولو لپاره د وزیرانو کمیټه جوړه کړه. په سیمه کې د عمان ملګرو هم غږګون وښود. د عمان د دفاعي چارو لپاره د لومړي وزیر مرستیال شهاب بن طارق لخوا د تلیفون زنګ وروسته کویټ عمان ته نظامي شتمنۍ ولیږله.

د اردن پاچا عالیجناب عبدالله 2 ابن الحسین سلطان حیثم بن طارق ته تلیفون وکړ، او د عمان د خلکو سره یې غم شریکي او خواخوږي، او ملاتړ څرګند کړ.

سرچینې: بي.بي.سي، رویټرز، الخلیج آنلاین

د قازقستان ستراتیژیک مشارکت د متحده آیالاتو سره

یونیپټ کارکونکی

د پراخه دیپلوماتیک او امنیتي مشارکت په لړ کې، د قازقستان او متحده آیالاتو لوړرتبه دیپلوماتانو د تروریزم سره مبارزې، د هستوي وسلو نه تکثیر او د پولو امنیت په برخه کې خپل هیوادونه ډیرې همکارۍ ته ژمن کړي.

د 2021 دیسمبر ناسته د قازقستان پلازمینه اسطنه کې د قزاق د بهرنیو چارو وزارت معین اکان رخمتولین او د متحده آیالاتو د بهرنیو چارو وزارت د سهیلي او مرکزي آسیا د چارو لپاره مرستیال ډونلډ لو ترمینځ وشوه.

لو د پولو امنیت، د تروریزم سره مبارزې، سوله ساتنې، د هستوي وسلو نه تکثیر، د اقلیم بدلون او سیمه ییز امنیت په څیر ننګونو په ګوته کولو کې د قوي همکارۍ لپاره د متحده آیالاتو په استازیتوب د قازقستان نه مننه وکړه.

هغه د جګړې سیمو څخه د بهرنیو جنګیالیو او د هغوی د کورنیو ایستلو کې د دې مشرتابه لپاره د قازقستان ستاینه وکړه او د دغه افرادو بیارغونه او بیرته ادغام په برخه کې د دوه اړخیزې همکارۍ دوام ژمنه یې وکړه.

دواړه اړخونو د هستوي وسلو مخنیوي په برخه کې د قازقستان نړیوالې مشرۍ باندې تاکید وکړ. متحده آیالاتو په سیمه کې د ماسکو د برلاسیتوب ورځو څخه پاتې د سیمیپالاتینسک د هستوي ازمینښت سایټ څخه د راډیو اکتیو ککړتیاو لیرې کولو کې قازقستان سره د مرستې خپله اوږدمهاله ژمنه تازه کړه.

دواړه دیپلوماتانو د خپلو اړوند اردو، د پولو او ګمرکونو ادارو او د قانون تنفیذ ترمینځ اړیکو ژورولو لپاره ملاتړ څرګند کړ. هغوی غواړي دا کار د قازقستان د دفاع وزارت او د متحده آیالاتو د دفاع وزارت ترمینځ د څلور پنځه – کلن نظامي همکارۍ پلان له لارې وکړي.

سرچینې: بیګ نیوز، د امریکا غږ

د سعودي سرتيرۍ عبير عبدالله الرشيد په مکه کې د کلنې حج پرمهال د امنيت په اړه خبري کنفرانس کې ګډون کوي. رويټرز

سعودي ښځې په ویاړ اردو کې شاملیږي

یونیپټ کارکونکی

د تاریخ په جوړولو سره، د سعودي ښځینه سرتیرو لومړۍ دوره په 2021 سپتمبر کې د 14 اونیز بوټ کمپ وروسته د سعودي عرب د وسله وال ځواکونو د ښځینه کادر د روزنیز مرکز څخه فارغ شوه.

"د روزنې ورځنی پروګرام د سهار وختي تفتیش سره پیل کیږي، بیا د فټنس روزونکو د نظارت لاندې د فزیکي روزنې دوره پیل کیږي، بیا زده کونکي د سهار ناري لپاره تفریح کوي، او ورپسې ساحوي روزنه پیل کیږي. د ساحوي روزنې وروسته تیوري ټولګي پیل کیږي،" روزونکي مناهل بنت صالح بن حمید وویل.

اردو کې د سعودي ښځو شتون ته د اجازه ورکولو پلان په 2019 کې اعلان شو، که څه هم تر هغه وخت پورې لومړۍ ښځینه سرتیرې د خلکو مخ ته راښکاره شوې نه وې چې د 2021 جولای میاشتې د حج مراسمو پرمهال په مکه کې د ساتونکو په توګه وګومارل شوې.

یوې ښځینه فارغ شوې نظامي ووېل، "یو له هغه دلایلو چې زه یې د وسله والو ځواکونو سره یوځای کیدو ته وهڅوم هغه د امنیت احساس کول و کله چې زه نارینه په یونیفارم کې ووینم چې په عامه ځایونو کې د امنیت ټینګښت لپاره ولاړ وي." "او کله چې بیا ما ته دا فرصت راکړ شو چې زه د امنیت دغه احساس کې وندې ولرم، نو ما هیڅ وخت ضایع نکړ."

د فراغت مراسمو پرمهال، د سعودي د وسله والو ځواکونو د روزنې او تلقین ریاست رئیس تورن جنرال عدیل بن محمد البیلوي وینا وکړه چې په خپله وینا کې هغه د ښځینه کادر روزنیز مرکز فعالیت په ګوته کړ.

د سعودي عربستان د 2030 لیدلوري کې د جنډر مساواتو ترویج شامل دی. سعودي پریکړه کونکو امر کړی دی چې د ښځو عصري حقونه د اسلام لخوا تضمین شوي حقونو سره سازګاري لري.

حتی د لا ډیرو هیلو سره، په 2018 کې دې شاهي هیواد د عمومي دارالانشا ریاست، د کورنیو چارو وزارت، او د سعودي عرب 13 څخه اوه سیمو: ریاض، مکه، القاسم، المدینه، اسیر، اش شرقیه او البها کې د ښځو لپاره بستونه پرانیستل. لدغه وخت راهیسې د ښځینه کاري ځواک ګډون وده کړې ده. سرچینې: سي.این.این، الجزیره، رویټرز

کویټ ښځینه سرتیرو ته د لارې پرانیستل ملاحظه کوي

یونیپټ کارکونکی

نظامي استخدام ته وده ورکولو یوه اقدام په لږ کې، د کویټ وسله وال ځواکونه په اردو کې ښځو ته د خدمت کولو اجازې ورکولو ګټې څیړي.

تورن جنرال خالد الکنداري، د کاري ځواک د دفتر رئیس معاون، اعلان وکړ چې د ښځینه و د ګومارنې په تړاو څیړنه د 2021 پای مودې لپاره مهالویش شوې ده.

دا بحث چې آیا په وسله والو ځواکونو کې ښځې شامل کړو، د "هغوی له ډلو اوسئ" په نوم یادیدونکي د استخدام کمپاین پرمهال په 2021 سپتمبر کې راپورته شو، چې د کویټ د دفاع وزارت لخوا په لاره اچول شوی و.

کویټ په 2018 کې ورته حرکت ملاحظه کړ، کله چې د کویټ پخواني دفاع وزیر شیخ ناصر الصباح د اردو خدمت کې د ښځو منلو پلوي وکړه. هغه مهال شیخ ناصر وویل "د اردو ملي خدمت سره د ښځو یوځای کیدلو باندې هیڅ اعتراض شتون نلري که هغوی وغواړي."

ښځې د کویټ نورو امنیتي خدمتونو کې واردمخه خدمت کوي، مګر اردو کې لاهم نشته. ښځو په 2008 کال کې د 40 نفري پیلي ټولګي سره د پولیسو افسرۍ روزنه پیل کړله. په 2016 مارچ کې، لومړۍ پنځه کویتي ښځینه پولیسې د کویټ ملي شورا کې د ساتونکو په توګه د امنیتي ځواکونو سره یوځای شوې.

د ښځو ځواکمن کولو لپاره د عرب خلیج دولتونو هڅه ورو مګر په تدریج

لومړۍ بریدمله ساراه السراف د کویټ ملي شورا بهر خپله پوسته کې ولاړه ده.

ای ایف پي/ګیټي انځورونه

سره پرمختګ کوي ځکه چې ښځو په هغه بستونو کار کول پیل کړي دي چې یو مهال په اردو او امنیتي اسبابو کې د نارینه و لپاره ځانګړي و.

له 30 څخه ډیر کلونه مخکې، د بحرین دفاع وزارت ښځو ته اجازه ورکړه د اردو څو څانګو کې خدمت وکړي، او ځینې یې لوړو رتبو ته ورسیدلې. په 2009 کې، دوه بحریني ښځو په بحرین کې د شاهي قوماندې، کارمندانو او ملي دفاع کالج کې د آمرینو په توګه د قوماندې او عمومي کارمندانو پروګرام څخه په فراغت سره تاریخ جوړ کړ.

متحده عربي امارات په خلیج سیمه کې د ښځو لپاره د لومړي نظامي کالج، خوله بنت الازور نظامي ښوونځي کوربه دی چې د 1991 راهیسې پرانیستی دی. په قطر کې لومړی ځل په 2018 کې ښځو ته د ملي خدمت لپاره د رضاکارۍ اجازه ورکړل شوه. سرچینې: الجزیره، الحورا

تاجکستان او ازبکستان: تروریزم ته ماتې ورکول یو شریک مسؤلیت

یونیپټ کارکونکی

په مرکزي آسیا کې د سیمه ییز امنیت ښه کولو په پار، د تاجکستان پارلمان د هوای دفاع او نظامي استخباراتو په برخه کې د همکارۍ لپاره د ازبکستان سره تړونونه تصویب کړل.

دا تړونونه د 2021 جون کې د ازبک ولسمشر شوکت میرزایوف د تاجکستان څخه رسمي لیدنې پرمهال لاسلیک شوي و، مګر د تاجکستان لخوا په 2021 دسمبر کې نهایی تصویب شو.

د هوای دفاع په برخه کې، دواړه هیوادونو موافقت وکړ چې د هوایی چلند او هوایی دفاع په برخو کې غوره کړنې شریکې کړي، ګډه روزنه وکړي، په ناکارۍ کې د یوه بل الوتکو سره ملتیا وکړي، او د هوایی ترافیک په اړه معلومات تبادله کړي.

د استخباراتو شریکولو په لړ کې به تړډیره د شکمن تروریستي او مذهبي افراطي ډلو په اړه معلومات تبادله کیږي. په معلوماتو کې د تروریستانو سپانسران او ملتیا کونکي او همدارنګه وسلې، روزنیز کمپونه او تروریستي مرکزونه شامل دي.

تاجکستان او ازبکستان پدې هم موافقت وکړ چې یوبل ته به د تروریستي ګواښونو ډیریدو په اړه هم خبرداری ورکوي، پشمول د دواړه هیوادونو د ارضي تمامیت او یووالي پر وړاندې ګواښونو. د همکارۍ ډیروالي په موخه پدې تړون کې د محاربوي او استخباراتي واحدونو لپاره د ګډو نظامي تمرینونو په لاره اچول هم شامل دي.

په دریم تړوم کې د هوایی فضا او هوایی ډګرونو شریکولو باندې تمرکز شوی دی، چې د ناکارایو او په بیرنیو حالاتو کې د یوه هیواد فضایی حد څخه بل هیواد فضایی حد ته د الوتکې کارمندانو اوښتو لپاره میکانیزم وړاندې کوي. دا تړون د پنځه کلونو لپاره اعتبار لري.

تاجکستان او ازبکستان په 2016 کې د ولسمشر میرزایوف د دورې له پیل راهیسې دیپلوماتیک او امنیتي اړیکې ښې کړي دي.

سرچینې: آسیا پلس، یورو آسیا ډیلي، د اروپا آزاده راډیو/راډیو آزادي

عراقيان د پارلماني ټاکنو امنیت ټینګوي

یونیپټ کارکونکی

د سلګونه زره عراقي پولیس مامورینو او نظامي پرسونل لخوا یوې ګډې هڅې په 2021 اکتوبر کې په ټول هیواد کې د پیلې پارلماني ټاکنو خوندي کولو کې مرسته وکړه.

د عراق د کورنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې هیڅ تروریستي بریدونه، پیښې یا د امنیت څخه د سرغړونې موارد ندي پیښ شوي، د ګڼښندیز نه شتون سربیره چې مخکینیو ټاکنو کې پلي شوی و.

د عراق د ټاکنو خپلواک عالي کمیسون کارمندان په 2021 اکتوبر کې په بغداد کې د پارلماني ټاکنو رایې حسابوي.

ای ایف پي/ګیټي انځورونه

د ټاکنو امنیت ټینګولو پلان کې د اردو، پولیسو، هوایی ځواک، نظامي هوایی چلند او د ملکي دفاع د 300,000 غړو ګومارنه شامل و. هوایی ځار دې ډاډ ورانديې کولو کې مرسته کوله چې د عراق د 8,278 رایه ورکولو مرکزونو ډیری یې د احتمالي تروریستي بریدونو څخه خوندي دي.

د عراق د ټاکنو ستړي امنیتي کمیټې یوه ویاند برید جنرال غالب الاتیه وویل "دا ټاکنې د مخکینیو ټولو ټاکنو څخه بنسټیز توپیر لري ... چې دا یې نړدې یا په بشپړ ډول د نړیوالو معیارونو سره سازګار کړې دي."

د اټکل له مخې د رایه ورکولو لپاره په شرایطو برابر 25 میلیون عراقیانو څخه 9 میلیون نفرو رایه ورکړې، چې د 329 پارلماني ځوکیو لپاره سیالي کونکي د 167 ګوندونو اړوند 3,200 نوماندانو ترمینځ یې

عراق په پیل کې ټاکنې د 2022 لپاره پلان کړې وې، مګر لومړي وزیر مصطفی الکاظمي د خلکو د لاریونونو په ځواب کې ټاکنې راوړاندې کړې چې د دندو او عامه خدمتونو د ښه کولو غوښتنه یې کوله. د ټاکنو نوي قانون رایه ورکول ساده کړل او د عراق د لرکیو ډلو او ښځو لخوا یې پراخه پارلماني استازیتوب ته لاره اواره کړه.

سرچینې: رویټرز، بي.بي.سي، الجزیره

قطر د ترکیه سره نظامي مشارکت پیاوړی کوي

یونیپټ کارکونکی

د قطر بحري ځواک خپل بحري فلیټ د ساحلي کښتۍ تشریفاتي پیل سره پیاوړی کړی چې کولی شي په خپل پراخه عرشه کې سلګونه سرتیري ځای په ځای کړي.

د ساحلي کښتۍ ټانک (ایل.سي.ټي) فوییریټ رسماً د ترکیه د انادولو کښتیو جوړولو کارخونې لخوا په 2021 سپتمبر کې بشپړ شو.

په قطر کې د یوه ساحلي کلي په نوم نومول شوی، ایل.سي.ټي فوییریټ په خپل 400 میتر مربع عرشه کې 260 بشپړ مجهز سرتیرو ته ځای ورکوي. دا ساحلي کښتۍ چې 25 مانوان یې چلوي، د درې محاربوي ټانکونو او نورو وسایطو د وړلو لپاره هم تجهیز شوې ده.

قطر پلان لري د بیړۍ عرضه د 2022 اوړي کې ترلاسه کړي – د شپږ کښتیو له ډلې څخه یوه چې دا یې د ترکیه څخه پیري.

د انادولو د کښتیو جوړولو کارخونې اجرایوي رئیس سیوات ریفعت اتیلهام د څو کښتیو د پیرود په اړه وویل، "موږ تکل لرو په راتلونکي 24 میاشتو کې ټول ازمیښتونه او روزنیزې دورې پوره کړو او قطر ته یې وسپارو."

د ساحلي کښتۍ سربیره، قطر د انادولو کښتۍ جوړولو کارخونې څخه څو کښتۍ غوښتي چې پدغو کې د قطر بحري ځواک کالج زده کونکو ته روزنه ورکوي. دا هیواد په عرب خلیج کې 563 کیلومیتر ساحل لري.

دا پیرود د یوه ګډ دفاعي تړون برخه ده چې قطر په 2017 کې د ترکیه سره پایله کړی. د نظامي مشارکت تقویت کولو لپاره، دواړه هیوادونو په 2019 کې د ترکیه – قطر ګډ ترکیبي ځواک جوړ کړ. قرارګاه یې په دوحه کې ده او د اومې پیړۍ عرب محاربوي قوماندان خالد بن الولید په نوم نومول شوی دی.

د قطر امیري هوای ځواک په 2021 اوړي کې په کونیا کې د اناتولیا باز دوه اونیز څو میلیتي تمرین کې ګډون وکړ. پیلوټانو د تمیم هوایی ډګر کې د 1 لومړۍ جګړه ییز وزر څخه د قطر لخوا نوي پیرودل شوي د فرانسې هیواد جوړ رافایل جنګي جیټ الوتکو کې مانور اجرا کړ.

د دواړه هیوادونو د اردو ترمینځ لاسلیک شوي تکنیکي تړون لاندې، قطر به د پنځه کلونو لپاره په ترکیه کې پیلوټان روزي او په هیواد کې به تر 250 پرسونل او 36 الوتکو ته ځای ورکوي.

سرچینې: نول نیوز، الجزیره، ahvalnews.com

اردن د قطر سره امنیتي تړون تصویب کړ

یونیپټ کارکونکی

اردن او قطر په 2021 سپتمبر کې د امنیتي همکارۍ یو پنځه کلن تړون وکړ چې د جرمونو سره مبارزې لپاره د استخباراتو او ټیکنالوژۍ تبادلې باندې تمرکز لري.

دواړه هیوادونه به د جرمونو ټولو ډولونو سره د مبارزې لپاره شته دوه اړخیزې همکارۍ تقویت لپاره کار کوي: تروریزم او اړوند مالي ټمویل؛ منظم جرمونه؛ د وسلو، مهماتو، چاودیدونکي توکو او هستوي توکو، رادیو اکټیو، کیمیاوي او بیولوژیکي توکو غیرمشروع قاچاق؛ انساني قاچاق او غیرقانوني مهاجرت؛ د تریاکو قاچاق، تولید او توزیع؛ د پیسو مینځل؛ او د پاسپورټ، اسعارو او نورو رسمي اسنادو جعل.

د اقتصادي لیدلوري له مخې، دا تړون د معنوي ملکیت، ټیکنالوژي شتمنیو، معلوماتي سیستمونو، او بندرونو او پولو ګډ محافظت باندې هم تاکید کوي. تړون د سمندري غلا او مجازي جرمونو پر وړاندې تعاوني هڅو یادونه هم کوي.

د قطر د بهرنیو چارو وزیر محمد بن عبدالرحمان الثاني، کېږ، او د اردن د بهرنیو چارو وزیر ایمن السفادي په 2021 اګست کې په امان کې په یوه خبري کنفرانس کې ګډون کوي. رویټرز

قطر او اردن په 1971 کې د قطر د خپلواکۍ اخیستلو راهیسې پیاوړې دیپلوماتیک او نظامي اړیکې پاللي دي. د اردن ماهرینو د قطر اقتصاد، تعلیمي او نظامي سیکتور کې مرسته کړې ده.

د اردن پخوانی پاچا جلالتمآب حسین بن تالاف لومړی نړیوال مشر و چې په کال 1995 کې د جلالتمآب حماد بن خلیفه الثاني د واکمن کیدو پرمهال یې د قطر څخه لیدنه وکړه او هغه ته یې مبارکي ورکړه.

د اردن پاچا جلالتمآب عبدالله 2 لومړی عرب مشر و چې په 2013 کال جون میاشت کې دوحه ته ولاړ او د جلالتمآب شیخ تمیم بن حماد الثاني د قطر امیر په حیث نومول کیدو مبارکي یې هغه ته ورکړه.

د اردن اردو او د قطر اردو په منظم ډول ګډو تمرینونو کې برخه اخلي. د قطر د ځانګړي عملیاتو ځواکونو په 2019 سپتمبر کې په اردن کې د څو هیوادونو نظامي تمرین لیواله زمري کې ګډون وکړ، پداسې حال کې چې د اردن ځواکونو د اوه نورو هیوادونو ځواکونو سره یوځای په 2021 مارچ کې په قطر کې په نه ماتیدونکي ساتونکي تمرین کې ګډون وکړ.

سرچینې: د اردن خبري اژانس، alaraby.co.uk، ammonnews.net

مصر او قبرص مشارکت پیاوړی کوي

یونیپټ کارکونکی

مصر او قبرص په سپتمبر میاشت کې د بطلیموس 2021 نظامي تمرین په بریالیتوب ترسره کولو سره خپل نږدې نظامي مشارکت تایید کړ.

په تمرین کې د نښه ویشتلو تمرین، نږدې نظامي مانور، په تروریستي پټن ځایونو د یرغل او طبي تخلیه تمرینونه شامل و. په یوځای ګډون کې دا ډاډ لاسته راغی چې مصر او قبرص کولی شي د محاربوي همکارۍ وړتیا وازموي.

مصر او قبرص پیاوړې نظامي اړیکې لري. د قبرص ځواکنونه – پشمول د بحري او ځانګړي عملیاتو ځواکونه – په 2021 سپتمبر کې په محمد ناغب نظامي بیس کې د مصر په کوربه توب د څو هیوادونو روښانه ستوري دوه اونیز تمرین کې ستر لوبغاړي و.

پدغه وخت کې د خپل مصري سیال سره په ناسته کې د قبرص وسله وال ځواکونو لوی درستیز تورن جنرال دیموکریتس زیرواکیس وویل، "د مصر او قبرص ترمینځ اړیکې په شخصي سطح او د وسله والو ځواکونو په سطح عالي دي او د وروروڼۍ اړیکې دي."

علاوه لدې، مصر، قبرص او یونان د شریک سمندري پولو د نښو پرځای کولو او اختصاصي اقتصادي زونونو پشمول د ختیځ مدیترانه سمندر پورې اړوند مسایلو په ګوته کولو کې د مشارکت او همکارۍ په اړه غږیدو لپاره درې اړخیزې ناستې کوي.

پدې وروستیو کې په 2021 سپتمبر کې مصر او قبرص د ولسمشرۍ په کچه په قاهره کې ناسته درلودله چې پدې کې د مصر ولسمشر عبدالفتاح السیسي او د قبرص ولسمشر نیکوس انستاسیاډس ګډون درلود. د اجنډا مهم ټکي امنیت، دیپلوماسي، سوداګري، سیاحت او کرنه و.

ولسشمر السیسي وویل، "کوم ستراتیژیک مشارکت چې موږ په ختیځ مدیترانه کې رامینځته کړی د سیمه ییز ثبات ترلاسه کولو لپاره دایمي همغږۍ او د شریکو ګټو ټولو مسایلو په اړه د ملاتړ تبادلې ژمنتیا ته اړتیا لري." سرچینې: الاهرام، egypttoday.com، defensearabia.com

بحرين د تروريستانو مالي تمويل وچوي

يونيپټ کارکونکی

د 2021 کال د بازل د پيسو مينځلو پر وړاندې د مبارزې شاخص له مخې، بحرين د عربي هيوادونو ترمينځ د پيسو مينځلو تر ټولو ټيټې کچې په درلودو سره غوره درجه خپله کړې.

د سويس ميشته دا سازمان خپله درجه بندي د مالي اقدام کاري ځواک، د رونټيا نړيوال سازمان، نړيوال بانک او د نړۍ اقتصادي انجمن لخوا ورکړل شوې ډيټا پربنسټ کوي.

د بحرين د مرکزي بانک مرستيال شيخ سلمان بن عيسى الخليفه وويل، "شاهي هيواد 4.5 نمرې اخيستي او د پيسو مينځلو سره مبارزې په برخه کې د مينځنۍ خټيځ هيوادونو کې د اسرائيل وروسته دوهم هيواد دی، مګر په عرب نړۍ کې لومړی راغلی."

په 2021 جولای کې، د بحرين عالي جنايی محکمې د بحرين ميشت فيوچر بانک شپږ چارواکي محکوم کړل. هر يو يې د ايران مرکزي بانک (سي.بي.آی) په مرسته د پيسو مينځلو کې لاس درلودو لپاره په 10 کلونو بند او 2.5 ميليون ډالرو جريمې ورکولو محکوم شو.

د کورنيو چارو وزارت کې د مالي اطلاعاتو څانګې رئيس، شيخه مای بنت محمد الخليفه وويل د هغې اداره غواړي د پيسو مينځلو او د تروريستانو د تمويل سره مبارزې په برخه کې يې هيواد په سيمه ييز او نړيواله کچه وده وکړي.

په فيوچر بانک د ايران مالي نهادونو لپاره د شکمن انتقالاتو پروسس کولو تور پورې شوی، پشمول د ايران مرکزي بانک، چې د بحرين قوانينو او مقرراتو څخه سرغړونه ده. د دغه انتقالاتو ارزښت – چې په څو اسعارو کې شوی – د 1 ميلياردو ډالرو څخه ډير دی.

سرچينې: alkhaleejonline.net، baselgovernance.org

په مناما کې د بحرين مالي ولسوالۍ

د پوهې شریکول

یونیپټ هغه مجله ده چې په منځنۍ ختیځ، جنوبي او مرکزي آسیا کې په وړیا ډول هغو کسانو ته ورکول کیږي چې امنیتي معاملاتو سره سر او کار لري.

له یونیپټ سره همکاري وکړئ

ټولې کیسې او نظریات، ایډیټ کوونکي ته لیکونه، مقالې، عکسونه او نورې منځپانګې د یونیپټ سرمقالې کارکوونکو ته په دغه آدرس ولیږئ CENTCOM.UNIPATH@MAIL.MIL

د لیږلو لارښوونې

- ستاسو په خپله ژبه لېږل شوې منځپانګې ته غوراوی ورکول کیږي. یونیپټ به هغه وژباړي.
- مقالې باید د 1,500 کلیمو څخه زیاتې نه وي.
- د هر څل لیږلو سره په مهربانۍ سره یوه لنډه بیوګرافي او د اړیکې معلومات شریک کړئ.
- د عکس اندازه باید حد اقل 1 مګابایټ وي.

حقوق

لیکونکي د خپلو اصلي موادو د ساتلو ټول حقوق لري. خو مونږ دا حق لرو چې مقالې اصلاح کړو ترڅو د اندازې او ادبي طرز له مقرراتو سره برابر شي. د مقالې لیږل دا نه تضمینوي چې هغه حتما خپریږي. له یونیپټ سره د همکارۍ په موخه، تاسو پورته شرایط مني.

د وړیا ګډون لپاره: مونږ ته په دغه آدرس برېښنالیک ولیږئ: CENTCOM.UNIPATH@MAIL.MIL

یا لیک ولیږئ:
Unipath
U.S. Central Command
7115 S. Boundary Blvd.
MacDill AFB, FL 33621 USA

لطفا خپل نوم، دنده، عنوان یا رتبه، د لیک استونې پته او برېښنالیک آدرس مو ولیکئ.

HTTPS://UNIPATH-MAGAZINE.COM/PAS